بسم الله الرحمٰن الرحيم

# دَ مينې شاهراه

# مجموعه دَ كلام

## دَ سيد شبير احمد كاكا خيل

ډپټي چيف انجنئر ريټائرډ

مسترشد دَحضرت مولانا محمد اشرف سليمانيؒ
خليفه مجاز
دَ حضرت صوفي محمد اقبالؒ
دَ حضرت سيد تنظيم الحق حليمي صاحبؒ
دَ حضرت ډاکټر فدا محمد صاحب مد ظله
دَ حضرت مولانا عبد الرحمٰن صديقي مد ظله
دَ حضرت سيد مياں بشير کاکاخيلؒ
اؤ دَ حضرت مولانا عبد الغفار صاحبؒ

شعبه نشر و اشاعت
خانقاه امداديه CB 1991/1 كلي نمبر 4 نزد مسجد
امير حمزه الله آباد ويسټرج راولپنډي
فون 03215289274

# انتساب

# دَ خپل شیخ

## دَ حضرت مولانا محمد اشرف سلیمانيؒ

پهٔ نوم

چې دَ چا چشتیه مسلک بالکل ظاهر ؤ اؤ دَ هغوی نه دَ بیعت نه پس چې کوم ورومبے څیز حاصل شوے ؤ هغه دا ؤ چې دَ موسیقۍ نه مې شدید نفرت شو ، تر دې چې دَ موسیقۍ په وجه به مې پهٔ سر درد شو ۔۔ دا کلام دَ هغوی فیض دے چا چې ما احقر ته دا دعا کړې وه چې الله تعالیٰ دې تاته دَ ښهٔ ویئلو توفیق درکړي۔ الله دې دَ حضرت پهٔ مرقد پر انوار کروړها رحمتونه نازلوي۔۔آمین ثم آمین۔۔

# تقريظ دَ حاجي عبد المنان مد ظله

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم-اما بعد-فاعوذ باللّٰہ من الشیطٰن الرجیم- بسم اللہ الرحمٰن الرحیم-و الذین آمنوا اشد حبا للّٰہ -

پهٔ دې کښې الله تعالیٰ دَ مؤمنانو دَ يو خاص صفت ذکر کړے دے -هغه دا چې دَ مؤمنانودَ الله تعالیٰ سره ډېر زيات محبت وي--دَ الله پاک حق اؤ محبت کۀ پهٔ يو لفظ کښې بيان کول وي نو دې ته عشق وئيلے شي-يعني دَ الله تعالیٰ سره دَ هغهٔ دَ رسول سره دومره محبت شي چې دَ خپل ځان نه ، دَ اولاد نه ، دَ والدين نه بلکې دَ هر چا نه زيات وي--دغه مقصود دے دَ اسلام،چې دومره زيات محبت وي--اؤ دَ حج سفر خو دے دَ عشق سفر--حج يو تکميلي رکن دے-حضور ﷺ دَ ټولو مرحلو نه چې صحابه کرام تېر کړل نو دَدې آخري رکن حج پهٔ ذريعه ئې دَ عشق کمال ته دَدوی رسولو نه پس دَدې دنيا نه سفر وکړو-

زمونږه خوږ دوست چې دَ خپلې سلسلې ډېر خدمت کوي، يعني برادر شبير احمد سلمه الله تعالیٰ -الله تعالیٰ دې دَدوی عمر کښې برکت واچوي اؤ زمونږ دَ اکابرو تعليماتو اشاعت دَ پاره چې عين دَ عشق تعليمات دي دَ نورو خوږولو ذريعه ؤکرځی- دوئې پهٔ ښه محبت سره خپل کتاب شاهرهِ محبت کښې دَدې سفر داستان

پۀ نثر اؤ شعر کښې قلمبند کړو۔دَ سفر دَ شروع نه واخلې تر مدينې منورې سفره پورې۔ماشاء الله دَدې پۀ لوستو يو خاص کيفيت محسوسيږي۔دَ نثر سره سره،شعر و شاعری سره دَ عاشقانو خاص مناسبت وي۔۔دَ داسې عاشقانو د پاره الحمد لله ډېر مفيد دے۔۔دَ زړۀ نه دعا کوم چې الله تعالیٰ دې کتاب ته قبوليت عام و تام ورکړي۔۔

وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمين۔

عبد المنان عفی عنہ

مقام ابو حنيفہ-مسجد حرم مکہ مکرمہ

بمطابق ١٥ نومبر ٢٠١٢

٣٠ ذی الحج-١٤٣٣ ھ

# تقریظ دَ پروفیسر سید محمود ظفر

بسم اللہ تعالیٰ

زمونږ بزرګانو علماؤ چي کله دَ "حسن" "احسن" او"حسین" معنیٰ په خپلو سپیڅلو تحریراتو کښي کړي ده نو دَ "ښکلي" اؤ "ښایسته" پۀ توری ئې نه ده راوړی بلکي دَ "ښۀ" په توری ئې دا معنٰي ښکاره کړي ده۔ ۔ دَ محترم شبیر احمد کاکاخیل صاحب کتابونه ما ته زما زوی په دے غرض راؤړی وو چي زۀ ئې املا صحیح کړم اؤ دا اجازت ئې راته هم دَ شبیر احمد صاحب له طرفه راکړے ؤ چي کۀ پۀ اشعارو کښي څۀ اصلاح پکار وی نو هم کولے شی ۔۔ ما املا صحیح کړه خو پۀ اشعارو کښي دَ اصلاح ضرورت مي محسوس نۀ کړلو۔ ولي چي کۀ دَ شاعری دَخوند او مزي پۀ نظر ورته ګوري نو پکار ده چي رد و بدل پکښي وشی خو دَکوم لوړ اؤ عظیم مقصد دپاره چي دا اشعا ر لیکلی شوی دی چي زړونو کښي دي ورسره دَ"اللہ" اؤ دَ رسول کریم ﷺ سره دَ مینې څرکي راپورته شی نو دَ مقصد څلا ورسره دَ شاعرئ ښایَست هم شریک کړے دے۔اوَ زما یقین دے چي څوک دَ لوړ اوَ مقصدی شاعرئ خوند اخستل غواړی نو هغه خوند پۀ "دَ مینې شاهراه" کښي موجود دے۔۔

خبره دَ خپل زړۀ دَ اندروني څرکي ده اؤ څکه زۀ دَ شبیر

احمد کاکاخیل صاحب شاعرئ ته دَ "ښکلي" اؤ "ښایَسته" نه زیاته "ښهً" شاعري وایم لکه دَ رحمان بابا کلام چې دے۔ اؤ یقین مي دے چي لوستونکی به زما دي رايً سره اتفاق وکړی ولي چې دَ ډېر نیک اؤ لوړ مقصد دپاره شوي ده۔ ۔الله تعالیٰ دي شبیر احمد کاکا خیل صاحب ته ژوند اؤ توان ورکړی چي دا سپیڅلے تحریک جاری وساتي۔

سید محمود ظفر

۲۹ ستمبر ۲۰۱۳

الله آباد پنډئ

# تقریظ دَ پروفیسر عنوان الدین کاکا خیل

## کۀ رښا ده پیروي دَ محمد ﷺ ده

پۀ پښتو ژبه دَ روښاني مذهبي ، دیني اؤ صوفیانه ادب ډېر لرغني دي۔اؤ دَ صوفیانه کلام ډېرې درنې پنګې دَ پښتو ادب ډېر ارزښتناک کړے دے۔۔ دا دَدې خبرې ثبوت دے چې پښتون قام من حیث القوم پۀ رضا و رغبت ، مینه اؤ خوشحالۍ اسلام خپل کړے اؤ قبول کړے دے۔۔ ځکه اوس هم پښتانۀ پۀ اسلام ډېر مین دي۔ دَ خدائ تعالیٰ جل جلاله اؤ دَ رسول پاک ﷺ سره دَ مینې جذبه ئې تل تر و تازه توانه اؤ تانده ده۔۔پۀ دې منطقه کښې اسلام دَ صوفیاؤ کرامو دَ عملي ژوند دَ نمونو اؤ تعلیماتو دَ رڼا پۀ برکت خور شوے دے ۔ پۀ دې سلسله کښې دَ صوفیاؤ کرامو ، مشائخ عظام اؤ علمائ دین دَ کوششونو سره دَ شعراءِ کرام هلې ځلې هم دَ ذکر اؤ ستائنې وړ دي۔۔

دَ پښتو کلاسیکي ادب تر ډېره حده پۀ صوفیانه بنیادونو اډانه لري۔ ۔بلکې تنقید نګاران ئې پۀ لویو لویو ادبي تحریکاتو حسابوي۔۔دَ سلیمان ماکو دَ تذکرة الاولیاء نه راواخلې دَ اخوند درویزه بابا ، دَ خوشحال خان اؤ رحمان بابا سبکونه ، دَ محمدي صاحب چې دَ سوکنو دَ میاڼ عمر صاحب دَ لوئے ګدۍ اؤ خانقاه وارث ؤ دَ علم اؤ عرفان ، سلوک اؤ تصوف دا وړدې سلسلې کړۍ پۀ کړۍ رارسیدلې دي اؤ لا پۀ مخه رواني دي۔۔ددې غټو غټو سلسلو نه علاوه دَ پښتو عامو شاعرانو کښې هم دَ پخوا نه دا روایت راروان دے چې دَ خپل کلام اؤ کتاب ابتدا دَ باري تعالې دّ حمد ورپسې دَ نعت شریف نه

کوي اؤ بعضې کسان دَ تبرک دَ پاره دَ خپل پیر منقبت هم په دې قطار کښې ځایوي۔۔ کۀ یو خوا اولسي شاعرانو دَ شاعرئ په هر صنف کښې دّ حمد باري تعالیٰ ، نعتونو اؤ منقبتونو تجرئې کړي دي نو بل خوا دَ جدید دور دَ پښتو شاعرانو هم دا روایت برقرا ر ساتلے دے۔۔

دې خاورې ډېر نامتو نعت ګو شاعران اؤ خوش اوازه نعت خوانان ځیږولي دي چې دَ تفصیلي ذکر ئې دا موقع نۀ ده۔ پۀ داسې نومورو کسانو کښې یو دروند شخصیت سید شبیر احمد کاکاخیل هم دے چې *دل بہ یار و دست بہ کار* ئې دَ ژوندانۀ لار ده۔ دو پۀ لږه موده کښې په اردو کښې دَ ایمان افروز ایمان پۀ ژبه شاهراهِ محبت اؤ پیغامِ محبت غوندې دوه شاهکار کتابونه چاپ کړي دي اؤ دَ نورو لیکلو اراده ئې ده۔۔ دَ سید شبیر احمد کاکا خیل دَ خپلې صائئې اؤ ایمانانه رائۀ مطابق هغو خپلو ماشومانو تۀ ویئلي دي چې بهر دَ ضرورت مطابق چې هره ژبه وایَۍ خو پۀ کور کښې دننه به پښتو وایَۍ۔ ۔کۀ داسې نۀ وي نو دا به دَ پښتو ژئې سره ئې وفائې وي۔۔

زۀ اکثر دا خبره کوم چې پښتو دَ الله تعالیٰ اؤ دَ هغۀ دَ رسول پۀ مینه مست قام ژبه ده ځکه دَ دې دَ ارتقا اؤ ترویج دَ پاره غیبي لارې چارې پرانستے شي۔۔داسې درانۀ اؤ سپیځلي شخصیتونه پیدا شي چې دَ هغوئ ئې لوثه هلې ځلې دَ پښتو ژئې دَ ترقئ اؤ ودې باعث وګرځي۔

سید شبیر احمد کاکاخیل صاحب وائي چې ما پۀ اردو کښې دوه شعري مجموعې شاهراهِ محبت اؤ پیعامِ محبت چاپ کړو نو یوه

ورځ مې زړهٔ ته خيال راغلهٔ چې زهٔ خپلو بچو ته خو دَ پښتو ژئې سره دَ وفادارئ تلقين کوم اؤ په خپلهٔ مې پهٔ پښتو کښې لا يو کتاب هم نهٔ دے چاپ کړے۔ دا دَمورنئ ژئې سره ئې وفائ نهٔ ده؟ دا دَ شاه صاحب هغه تاريخي اعتراف دے چې پښتو ژبه به پرې مدام وياړ کوي ۔ دَ پښتو دَ ادب په تاريخ کښې به تل روښانه اؤ معتبره حواله ګڼلے شي۔ بلکې پهٔ زرزري ټيکو کښې دَ ليک جوګه حواله ده۔

کاکاخيل صاحب وائې چې دَ دې احساس بيداريدو سره ما سمدستي اراده وکړه چې هم پهٔ دې نومونو هم دَدې شعرونو پهٔ رڼا کښې به پهٔ پښتو کښې کتابونه ليکم ۔ الله تعالیٰ دَ دوی پهٔ نيکه اراده کښې برکت واچولو اؤ شاه صاحب پهٔ دې کار کښې برياليے شو۔"دَ مينې شاهراه "اؤ "دَ مينې پيغام" په نومونو ئې دوه کتابونه وليکل اؤ دَ دواړو کمپوز شده نسخې زما مخښې تهٔ پرتې دي۔ ډير زر به ان شاء الله دا دواړه چاپ شي۔ ډيرو سترو اؤ لويو شاعرانو دا اعتراف څهٔ چې اقرار کړے دے چې زمونږ شاعري دَ يو پيغام دَ رسؤلو ذريعه ده ۔ علامه اقبال خو ډير ښکلے مثال ورکړے دے ۔

*سوئے منزل می کشم ناقۂ بے مہار را*

چې دَ شاعرئ په ذريعه خپل قام منزل طرف ته راکاږم

بعينه دغه مطلب اؤ مقصد اؤ مدعا دَ ښاغلي شبير احمد صاحب هم ده چې دَ شاعرئ پهٔ قالب کښې پيغام خپل قام تهٔ ، مسلمانانو تهٔ ، يا دنيا تهٔ رسول غواړي۔

دَ شبير احمد صاحب پيغام څهٔ دے؟ دا هم هغه پيغام دے

چې دَ زرګونو کالو راسې پهٔ مختلفو وختونو کښې پیغمبران انبیاء کرام ، اولیاء الله ، پیرانِ عظام ، علمائِ دین ،فلسفیان اؤ شاعران دَ انسانیت دَ خیر ښیګړې دَ پاره انسانانو تهٔ رسول غواړي--دا هغهٔ حق ، رښتونے اؤ ابدي پیغام دے چې دَ قران پاک دَ تعلیماتو اؤ دَ حضور ﷺ دَ اسوه حسنه پهٔ شکل دَ نني دور دَ انسانانو دَ جملوؤ اخلاقي ،سماجي ، خرابیو ، ذهني رنځونو ، مادي ضرورتونو یو شافي اؤ جامع حل دے۔

۔ دَ موصوف دَ شاعرئ تنه بوده کهٔ هغه" دَ مینې شاهراه " دے اؤ کهٔ " دَ مینې پیغام "هم دَ دې پاکې سپیځلې افاقی اؤ الوهی مینې نه وودلې شوې ده۔ --دا دَ رڼا اؤ نور هغه پلوشې دی چې دَ کومو پهٔ حقله رحمان بابا وا ئ چې !

کهٔ **رڼا** ده پیروي دَ محمد ﷺ ده

داسې شاعرئ نه ځیګیدلې پیغامونه دَ انوارو اؤ تجلیاتو پهٔ شکل کښې دَ شاعر په روښانه ذهن دَ ملکوتی حسن دَ پرخې پونه وروی اؤ شاعر دَ راپاریدلی قلبی وارداتو لهٔ کبله دَ جذب او انجذاب دَ پر کیفه لمحاتو پهٔ بهیر کښې لستونکي ځان سره پهٔ دې سرور کښې شریکؤل غواړی۔ دغه بهیر دَ دین محمدی ﷺ پیروی ده--

دَ پیغام محبت شاعری مونږ نهٔ دَ شعر پهٔ فنی پیمانوځیرلې شو اؤ نهٔ ئې دَ تنقید پهٔ زرکاښی سنجولې شو۔ دَ دې دوه وجهې دی-- یو خو" دَ مینې پیغام " شاعری عامه شاعری نهٔ ده بلکې دَ یو لافانی، ابدی اؤ افاقی پیغام دَ خورؤلو ذریعه ده۔ چې زیات

تعلق ئې دَ قلبی وارداتو څخه دے۔ ۔بل دا دَ اردو شعر من و عن ترجمه نۀ ده بلکې دَ پښتو جامې وراغستولې شوي دي۔۔ پۀ حالاتوکښې خامخا لرے برے راځی۔۔ دلته به دَ شاعر نیت پۀ نظر کښې ساتل پکار وي، فنی باریکی اؤ نزاکتونه نه۔۔

خو لکه څنګه چې دَ شاه صاحب نیکې ارادې اؤ سپیځلي مقصدونه دَ کامیابۍ منزلونه غوخوي دغه شان پۀ مبارکه اؤ بختوره سلسله کښې هم خوش بختانه شبیر احمد صاحب دَ یو دروند علمي اؤ ادبي شخصیت پروفیسر سید محمود ظفر صاحب ملا تړ حاصل شو۔ هغوی په دې سلسله کښې رسا فکر، ژور نظر اؤ تیز ذهن لری۔۔ پخپله هم صاحب طرز ادیب اؤ دَ ښکاره مقام ښتن شاعر دے۔۔ پۀ دې مجموعه ئې نظر اچولې دے۔۔ یوئې نوې املا ته برابر کړے ده۔ بل ډیر ابیات چې نیمګړي لیکلي شوي وو هغه ئې برابر کړي دی۔۔شاید چې دا نیمګړتیا دَ اصل مسودې دَ نقل کونکي لۀ کبله وه۔۔

هسې خو دَ موضوع پۀ لحاظ دا شعری مجموعه دَ لعل و جواهرو لړۍ اؤ خشبویه ګلونو ګل دسته ده۔ خو دَ څنو شعرونو پۀ خوند کښې تاسو هم ځان سره شریکوم۔۔

دادے دَ حرم فیض چې هر طرف ئې نور خوریږي
وریځې سمندر نۀ دَ رحمت قطار دي

دا زړونه بدلوي څکه راغلي ورته تړل دي
دَ میني دَ دنیا سره چې زړونه کوم بیمار دي

دَ کعبې صحبت څۀ دا رنګ بیانئ!

رحمتونه لۀ کعبې راباندې سم دي
دے دا کور دَ رحمتونو سمندر

چکرونه په ظاهر شي ترې وهلے
پۀ باطن کښې دا څۀ بل ښکاري چکر

یا دَکعبې عظمت پۀ باره کښې دا !

ډک دَ نور یو سمندر دے دا کعبه
حقیقت نه ئې هیڅ څوک نۀ دي آګاه

ده دنیا وته نقطه یو دَ وحدت
ټول عالم دَپاره داده سجده ګاه

دَ حاجیانو صاحبانو دَ کعبې سره دَ محبت دا ننداره ښائي !

لۀ کعبې ځنې تاویږي خپل خپل رنګ کښې
بس دَ یو پۀ خیال کښې ډوب دي سرګردان دي

دَدې کور سره چې داسې مینه کیږي
سوزي ځان سره چې کوم ئې دښمنان دي

ډوب کړه ځان ته دَ کعبې په نظاره کښې
اے شبیره دې کښې نښې دَ جانان دي

دَ خانه کعبې نه دَ تللو غم او په روضه اقدس دَ حاضرۍ خوشحالي څۀ داسې جمع کوي۔

لۀ کعبې جدا کیدل دي هم مې زړۀ کښې مدینه ده
هم ژړیږم هم مې شوق دے داخبره عجیبه ده

او دَ مدینې دَ لارې لیکلے دا لافاني شعر!

پۀ تلو تلو کښې پۀ سړک غواړم چې ښکل کړم
چې لیکلي پۀ کوم بورډ دي مدینه

دَ مدینې دَ لارې دَ شاعرۍ پۀ باره کښې!

اے قلمه سترے نۀ شې خیال ساته نن دَ شبیر
دي پۀ خولۀ کښې ئې اشعار دے سفر دَ مدینې

دَ حاضرۍ جذبات پهء دې طریقه بیانوي۔

بل صورت کله ښودلے شمه دلته
دَ ښودلو دلته کښې مې صورت نشته

چرته دا عالم او چرته شبیر خاورې
چې دَدې او دَ هغې څۀ نسبت نشته

بعضې خلق چې دَ الله دَ محبت او دَ رسول ﷺ دَ امت په مینځ کښې حیران وي دَ هغوی دَ پاره دا کافي دے۔

خدائ دا غواړي چې درود په مصطفے وئيلے کيږي
شو دَ خدائ په ذکر مست مونږ، دَ نبي خوښه ده دا

الله غواړي چې په لا ر دَ محمد ﷺ باندې روان شو
اؤ په خولهٔ دَ محمد دي لا اله الا الله

دَ حضور ﷺ دَ محبت رنګ داسې هم بيانوي!

دے څومره لوئې نعمت دَمحبت دَ پاک رسول
دے څومره ضروري متابعت دَ پاک رسول

دا پياوړې روحانی شخصيت دَ علم و عرفان، سلوک اؤ تصوف دَ علم بردارې روحانی سلسلو دَ کاکا خيلو مياګانو په درنه علمی کورنۍ کښې دَ صوابئ ضلعې په مشهور کلي جهانګيری کښې پيدا شوے دے اؤ دَ سيد علی شاه ځوئے دے۔ دَ پيدائش تاريخ ئې 24 اپريل 1954 دے۔ ابتدائ تعليم ئې خپل کلی کښې حاصل کړے دے۔۔ايف۔ايس۔سی ئې دَ اسلاميه کالج پيښور نه کړې ده اؤ بی۔ايس۔سی ئې ميکنيکل انجنئرنګ کښې په امتيازی حيثيت سره دَپيښور يونيورسټۍ نهٔ کړې ده ۔۔ په انجنئرنګ کښې دَ کمپيوټر په استعمال ئې تحقيق په جرمني کښې په کارلسروهے

یونیورسټۍ کښې د مشهور پروفیسر شناک په سرپرستۍ کښې کړے دے۔۔نن سبا پۀ اټامک انرجی کمیشن کښې دَ ډپټی چیف انجینئر پۀ عهده کار کوي۔

دَ ملازمت پۀ دوران کښې پۀ یورپ اؤ امریکا کښې پۀ علمی سیمینارونو اؤ تعلیمی کانفرنسونو کښې شرکت کړے دے۔

۔ پۀ اسلام، سائنس اؤ دینی امورو ئې تحقیقی مقالې اؤ کتابونه لکه فهم المیراث، ***میراث کا آسان حساب*** ،فهم الفلکیات،فهم الریاضي ،کشف هلال وغیره لیکلې دي۔۔دَ تصوف پۀ میدان کښې ئې زبدة التصوف ،***تصوف کا خلاصہ*** ، فهم التصوف لیکلي دي ۔۔ دَ دې نه علاوه وبپاڼه tazkia.org هم دَدوی پۀ سرپرستۍ کښې دَ خانقاه امدادیه نه مستقل چلیږي ۔۔ پۀ خانقاه امدادیه کښې شاه صیب روزانه پۀ مختلفو موضوعاتو درس ورکوي اؤ پۀ دې کښې دَ خالي په ورځ دَ مثنوي شریف درس هم کیږي کوم چې دَطریقِ جذب ترجمان دے۔۔ شاه صاحب دَ اسلام دَ افاقی اؤ ابدی پیغام دَ خورولو دپاره هره لار خپله کړے ده۔ ۔ دَ لیک لوست نه علاوه دَ شاه صاحب بله غټه کارنامه ځائے پۀ ځائے دَ خانقاه ګانو جوړول دی۔ ۔ لکه پنډیٔ الله آباد، جهانګیره، سخاکوټ ملاکنډ ایجنسی، لاهور، فیصل آباد اؤ کراچۍ کښې ئې دا روحانی مرکزونه قائم کړی دی۔۔دلته نۀ صرف دَ حال و قال محفلونه، دَ ذکر و اذکار مجلسونه، دَ روحانی تربیتونو اؤ تزکیه نفس غنډې کیږی بلکې دَ اسلامي تعلیماتو دَ درس و

تدریس موثرې اؤ معتبرې ادارې هم دی۔۔ اللّٰه تعالیٰ دې دَ علم و عرفان دا سر چینې دغه شان تل تر تله روانې اؤ تاندې لری۔ چې دَ سلوک اؤ معرفت دَ لارې تنده غری پرې دغه شان سیرابیږی۔ امین۔

ننی نړۍ خونړۍ ده۔، دَ ظلم اؤ بربریت ښکار ده۔، دَ سړی خورکۍ اؤ استحصال دَ لاسه انسانیت پهٔ اور کښې ولاړ دے۔ ۔ زیاتی خورکۍ اؤ زورګیری دَ دنیا امن تالا ترغه کړے دے ۔۔ قامونه دَ امن پهٔ تلاش کښې سرګردانه اؤ پریشانه دی ۔۔ انسان پهٔ رنګ رنګ زنځوریو کښې اخته اؤ بلاګانو کښې ګېر دے ۔۔ دَ زړهٔ دَ اطمینان پهٔ لټون کښې دے۔ پهٔ داسې حالاتو کښې دَ مینې، ورور ولۍ اؤ دَ امن پیغام دَ شریعت محمدیﷺ پهٔ پیروۍ کښې پټ دے ،۔دَ کوم دَ خبرونې دپاره چې شاه صاحب شپه اؤ ورځ لګیا دے کار کوی۔ ۔ اللّٰه تعالیٰ دې وکړی چې دَ سید شبیر احمد کاکا خیل دا ټې لوئه کوششونه دَ لوی اللّٰه پهٔ در کښې قبول شی چې دوی خپل مرام حاصل کړی۔ ۔ دا دې دَ دوی دپاره دَ دین دنیا توښه وګرځی۔ ۔ امین ۔۔ دا ګناه ګار اؤ پروفیسر سید محمود ظفر دې هم پهٔ خپلو دعا ګانو کښې یاد لری۔تشکر کوم۔

پروفیسر میاں عنون الدین کاکا خیل

236 بی۔ شیخ ملتون مردان

18 اکتوبر ۲۰۱۳

بمطابق 13 ذوالحج 1434 ھ

# سریزه

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنِ۔اَلصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیِّیْنَ۔

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ۔بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

وَالَّذِینَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِلّٰہِ۔

دَ مؤمنانودَ الله تعالیٰ سره ډېر زیات محبت وي۔اؤ کۀ نۀ وي نو پکار ده چې وي ۔ پس هره هغه ذریعه چې دَ الله تعالیٰ دَ محبت ذریعه جوړیدے شي دَ هغې استعمال به ضروري وي ۔۔حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله پۀ دین باندې دَ عمل نۀ کولو دوه وجې ښئیلي دي ۔۔یو هغه چې دَ طبعیت نه اثر اخلي مثلاً دَشهواتو محبت ،پۀ نمونځ کښې سستي اؤ زکوٰة نۀ ورکول وغیره ۔۔دویمه وجه۔ ئې پۀ عقل دَ ضرورت نه زیات انحصار بیان کړي ده۔ ۔ دَ ؤړومبی دَ تدارک دَ پاره نمونځ روژه اؤ زکوٰة فرض شوے دے اؤدَ دویمې دَ پاره حج۔۔۔۔۔۔۔۔۔ دَ حج پۀ اعمالو کۀ ځوک نظر واچوي نو پته به ورته ولګي چې پۀ دې کښې هغه اعمال کولے شي پۀ کوم کښې چې ئې مهاره عقل باندې انحصار مات کړے شوے دے یا پکښې الله تعالیٰ دَ خپلو محبوبانو اعمال ایښي دي،کومو چې دَ الله د محبت پۀ لار کښې عقل نۀ دے خرانه کړے ۔۔یعني پۀ نورو الفاظو کښې دَ عقل دَ فیصله کن کردار نفي ئې کړي ده۔۔دَدې نه دا مطلب بالکل نۀ دي اخستل پکار چې شریعت دَ

عقل حوصله شکني کوي ۔ بلکې شریعت خو دَ شریعت دَ پاره دَ عقل استعمال ډېر بنهٔ گڼي ۔ البته الله تعالیٰ دَ محبت نه چې بالکل فارغ کوم خلق وي اؤ هغه دَ شریعت پهٔ کارونو کښې چې کوم مزاحمت کوي نو دَ هغوئي دَ داسې حرکتونو اصلاح ضروري شي۔۔دغې ته پهٔ عقل غیر ضروري انحصار وئیلے شي۔۔۔دَدې تدارک د حج پهٔ ذریعه کولے شي۔۔

دَ الله تعالیٰ محبت سره سره دَ الله تعالیٰ دَ محبوبانو دَ محبت هم حکم دے ۔ لکه څنګه چې حضور ﷺ ارشاد فرمائیلي دي چې پهٔ تاسو کښې دَ چا ایمان تر هغې کامليدے نهٔ شي تر څو چې ما دَ خپل اولادنه ،دَ والدینو نه،بلکې دَ ټولو خلقو نه زیات محبوب وُنهٔ گڼي۔ ۔ اؤ حضرت عمرؓ ته ئې فرمائیلي وو تر څو چې ما دَ خپل ځان نه هم زیات محبوب ونهٔ گڼې تر هغې ستاسو ایمان کامليدے نهٔ شي۔۔پس مونږ ته دَ هغو طریقو ضرورت هم کیدے شي چې پهٔ هغو دَ الله تعا لیٰ دَ محبو بانو محبت نصیب شي۔ ۔ پهٔ دغه طریقو کښې نعت اؤ منقبت ته اوچت مقام حاصل دے۔پهٔ دې کتاب کښې کهٔ یو طرف دَ حج د سفر نامې اؤ دَ حمد بار ي تعالیٰ دَ الله تعالیٰ محبت پهٔ زړهٔ کښې دَ پیدا کولو کوشش شوے دے نو بل طرف ته نعت شریف پهٔ ذریعه دَ حضور ﷺ دَ محبت دَ پیدا کولو کوشش هم شوے دے۔۔چرته چرته چې دَ نفس دَ اصلاح څهٔ صورتونه مخې ته راغلي دي دَ هغو نه هم کار اخستے شوے دے۔یعني دَ نفس اصلاح چې پهٔ خپله دَ حبِ الٰهي یو سفر دے ، هغه هم خاص طور باندې شامل کړے شوے دے۔۔نو دا کتاب ان شاء الله یوه شاهراه ده چې پهٔ دې باندې سفر سره بنده خپل مطلوب محبت

ته رسيدے شي۔۔دَدې پۀ وجه دَدې نوم دَ الله پۀ توكل دَ مينې شاهراه كيدو۔۔دَالله تعالىٰ نه غواړو چې دا كتاب اسم بامسمیٰ شي۔آمين۔۔

پۀ دې كښې چونكې دَ مثنوي پۀ طرز سفر نامه ليكلې شوې ده نو دَدې پۀ مينځ كښې چې دَ غزل اؤ نظم پۀ صورت كښې حمد يا نعتيه كلام راغلے دے نو دا دواړه د يو بل نه بيلولو دَ پاره د مثنوي صفحې ښي اؤ كس طرف ته ترتيب وار ې ليكلې شوې دي اؤ غزلونه اؤ نظمونه دَ صفحو پۀ مينځ كښې۔ ۔ وړومبے زمونږ دا اراده وه چې دې دَ پاره جدا جدا رنګ استعمال كړو خو پۀ دې خرچ زيات راتلو چې دَ هغې پۀ وجه دَ طالبينو پۀ جيب دَ زيات خرچ راتلو امكان ؤ نو دا فيصله مو بدله كړه ۔الله تعالىٰ دې زمونږ دا كوشش قبول كړي اؤ كوم مقصد د پاره چې دا هر څۀ كيږي هغه مقصد دې الله تعالىٰ به درجه اتم پوره كړي۔۔ دَدې پۀ ابتدا كښې دَ حج عاشقانه طريقې باندې دَ كولو طريقه وركړې شوې ده۔۔

پۀ دې كال كښې د حج پۀ دوران كښې چې كوم كلام موزون شوے ؤ هغه مو هم پۀ آخر كښې وركړے دے۔۔دې كښې بعضې كلام هلته پۀ اردو كښې موزون شوے ؤ خو دلته هغه كيفيات مونږه پۀ پښتو كښې هم موزون كړلو هغه هم پۀ دې كښې شامل دي۔۔

رسم الخط مو پۀ دې كتاب كښې پۀ 1990 كښې دَ باړه ګلی پۀ غونډه كښې دَ ټاكلې شوې ترتيب مطابق استعمال كړے دے۔ ۔البته چې كومې فيصلې پۀ دې كښې نۀ وې شوې هغو كښې مو دَ افغانستان دَ فيصلو نه استفاده كړې ده پۀ شرط دَ دې چې زمونږ مقامي صوتي اثراتو سره مخالفت نۀ لري۔

سید شبیر احمد کاکاخیل

# دَ حج عاشقانه طریقه

**دوه ترتیبه** ▪ دوه ترتیبونه دي یو رحماني بل شیطاني۔۔رحماني ترتیب کښې عقل پهٔ جذباتو قابو ساتي اؤ پهٔ عقل شریعت حاکم وي۔۔دَدې نه برعکس پهٔ شیطاني ترتیب کښې جذبات عقل متاثر کړي اؤ پهٔ آفاقي تعلیماتو کښې یعني شریعت کښې پهٔ تاویلونو سره دَ نفس دَ غلطو خواهشاتو دفاع کوي لکه څنګه چې دَ هر څهٔ نه آزاده غیر مسلمه معاشره کښې وي۔۔ پهٔ دې کښې نفساني خواهشات پهٔ عقل دومره غالب کړے شي چې عقل صرف دَهغو خواهشاتو پوره کالو دَ پاره دَ لارو معلومولو ته وقف شي۔۔۔حدیث شریف کښې داسې خلقو ته بیوقوف وئیلے شي۔لکه څنګه چې ارشاد مبارک دے۔۔ الکیس من دان نفسه وعمل لما بعد الموت والعاجز من اتبع نفسه هواها وتمنی علی الله الأماني (ترمذی)۔۔دَدې مفهوم څهٔ داسې دے چې عقلمند هغه دے کوم چې خپل نفس قابو کړي اؤ دَ آخرت دَ پاره کار ؤکړي اؤ بیوقوف هغه دے کوم چې خپل نفس پهٔ خواهشاتو پوره کولو ؤلګولو اؤ بیا هم دَخدائ نه دَ توئې نه بغیر دَ مغفرت امید ساتي۔۔دَدې نه دا معلومه شوه چې کوم عقل چې دَ جذباتو نه مغلوب شي اؤ دَ شریعت خلاف ورزي وکړي هغه عقل نه بلکې ئې

عقلي ده۔۔دداسې بيوقوفۍ اصلاح ډېره زياته ضروري ده ځکه چې دا دَ عقل پۀ جامه کښې ده۔ ۔کوم چې شرعي فرائض دي پۀ هغو کښې دَ نمونځ روح عبديت ، دَ روژې تقوىٰ دَ زکوٰة دَ مال محبت کمول اؤ دَ حج روحِ دغه منفي عقل پۀ مثبت عقل کښې بدلول دي اؤ د عشق الٰهي حصول دے۔۔شاعر دَ عقل ايماني اؤ عقل نفساني تجزيه کښې وائۍ۔

چې لۀ نفس نه اثر اخلي نو دے عقلِ نفساني
لۀ ايمان چې منور شي نو شي عقلِ ايماني

نفساني عقل محدود به څۀ شي پوې ايماني باندې
هر يو کار دَ هغۀ دۀ ته دے باعثِ حيراني

ايماني عقل تعلق دَ زړۀ سره لري نو ځکه
پکار دۀ ته هميشه وي چې کوم زړۀ وي نوراني

چې دَ نفس تقاضې کومې ئې مهاره دي دَ هغو
دباؤل پکار دي ، دې کښې شي حاصله آساني

بيا پۀ عقل به دَ نفس څۀ غلبه نۀ وي پۀ هيڅ کار کښې
پاتې نۀ به شي پۀ عقل بيا دَ نفس حکمراني

مطمئن نفس زړۀ سلیم ،ایماني عقل سره بیا
شي نصیب پۀ زمکه باندې خلافت اؤ سلطاني
خدائ راضي عقبىٰ محفوظه دَ جنت لا ره هم سمه
ایماني عقل شبیره دے یو تخت سلیماني

دَدې برني تمهید نه پس دَدې وضاحت ضروري دے چې الله تعالىٰ انسان دَ خپل ځان دَ پاره پیدا کړے دے اؤ نور مخلوق ئې دَ انسان دَ پاره-- اؤ دَ انسان پۀ جسم کښې زړۀ بادشاه دے، دَدې پۀ وجه چې دَ انسان دَ جسم بادشاه کله دَ مالک الملک اؤ حقیقي شهنشاه خادم شي نو دا ټول جسم به دَ حقیقي بادشاه تابع شي یعني پۀ شریعت باندې به پۀ صحیح معنو کښې روان شي کني نو بیا به پوره جسم کښې فساد راشي اؤ دَ جسم ټول اعضاء به دَ شریعت مخالف روان وي۔ لکه څنګه چې پۀ حدیث شریف کښې دا ارشاد مبارک دے۔

أَلا وإنَّ فِى الجَسَدِ مُضْغَةً إذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الجَسَدُ كُلُّهُ، وَإذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الجَسَدُ كُلُّهُ أَلا وَهِيَ القَلْبُ ﴿رواه البخاری﴾۔

دَدې مفهوم دادے چې تاسو آګاه شئ چې بیشکه پۀ دې جسم کښې دَ غوښې یوه ټوکړه ده کۀ هغه ټیک وي نو ټول جسم به ټیک وي اؤ کۀ هغه خرابه وي نو ټول جسم به خراب شي۔ ۔آګاه شئ دا ټکړه زړۀ دے۔۔ پۀ قرآن پاک کښې دَ داسې خلقو تذکرې موجودې دي چې دَ چا پۀ زړۀ کښې چې دَ الله تعالىٰ مینه موجزنه وه۔ پۀ دې وجه چې کله هغوئ پۀ مختلفو موقعو وزمائیلے شو نو هغوی دَ خپلو نفسونو دَ

خواهش خلاف دَ الله تعالیٰ پهٔ حکم لبیک ووېِ اؤ ابدي کامیابي ئې حاصله کړه۔ پهٔ دې کښې دَ بعضو نازؤلو قربانیانې نهٔ صرف چې الله تعالیٰ قبولې وفرمائیلې بلکې هغه ئې دَ راتلونکو نسلونو دَ پاره نمونې وګرځولې۔۔دغه شان دَدوئ کړي کارونه دَ حج پهٔ موقع باندې کولے شي ۔چې خلقو ته پته ولګي چې دَ الله تعالیٰ محبوبانو دَ الله پهٔ محبت کښې څنګه خپل ځانونه اؤ هر څهٔ قربان کړل۔۔دَ آدم علیه السلام پهٔ عرفات کښې دَ حوا بي بي سره ملاقات، دَ هاجرې بي بي دَ خپل ځوئ پهٔ محبت کښې منډې وهل ، پهٔ منیٰ کښې دَ اسمٰعیل علیه السلام قربان کولو دَ پاره بوتلل اؤ کله چې شیطان غلطولو نودَ هغهٔ هغه پهٔ کاڼیو ویشتل۔۔دا ټول کارونه دَ الله دومره خوښ شو چې دَ راتلونکو نسلونو د پاره ئې دَ هر حاجي دَ پاره داواجب وګرځول۔۔ دا خبره یاد ساتل پکار دي چې څوک دَ الله شي نو بیا دَ هغهٔ محبت دَ الله تعالیٰ محبت شي ۔مثلاً هاجره بي بي ۔پهٔ الله تعالیٰ باندې دَ بهروسې پهٔ وجه قبوله شوي وه نو منډه خو ئې وهله دَ خپل ځوئ پهٔ مینه کښې لیکن الله تعالیٰ دا دَ خپل محبت پهٔ طور باندې واخسته۔۔۔

حج کښې هم دَ دغسې خلقو دَ محبت کارنامې ژوندئ کولے شي چې دَدې مثالونو پهٔ وجه دَ حج کولو واله دَ زړونو رخ بد ل شي۔ ۔دَدې پهٔ وجه پهٔ حج کښې دَ لیونتوب دا کارونه اؤ فدائیت دا دَ حج روح دے۔۔چې دَ چا پهٔ حج کښې دا روح نهٔ وي نو دَ هغهٔ حج ژوندے نهٔ وي۔۔بل طرف ته کهٔ دا روح پهٔ حج کښې نهٔ وي نو دَ حج کارونه بیا حاجي دَ پاره ډېر ګران شي ۔اؤ کهٔ داروح پکښې وي نو بیا حاجي دَ پاره

دا کارونه نۀ صرف چې ګران نۀ وي بلکې پۀ دې کښې ورته ډېره مزه اؤ کيف محسوسيږي۔۔دَ محبوب کور ته تلل اسان وي اؤ کۀ ګران دا دَ عاشق نه تپوس وکړئ۔۔دَدې د پاره دَ حج زده کولو کښې دَدې روح اخستلو ډېر زيات خيال دې وساتلے شي نو صحيح حج به انشاء الله نصيب شي۔

نۀ دے حج مګر دَ عشق دي منزلونه
چې الله ته کوم محبوب دي حرکتونه

چې پۀ کومو مونږه جوړ شو عاشقان
حج کښې مونږ ته دي کول داسې کارونه

چې کوم عقل دې سره متفق نۀ وي
مونږ هغه به لۀ خپل ځان لرې کړونه

ښۀ ده دا چې مونږ پۀ هغه کار لګيا شو
چې پۀ کوم مونږ خپل محبوب خوشحالوونه

څۀ کول دي دا به څنګه معلوميږي
پۀ دې باندې به خپل ځان مونږ خبروونه

دَ هغۀ محبوب چې څۀ راته ښئيلي

مونږ به ټیک پهٔ ټیک هم هغه خپلؤونه

طریقه دا دَ جنت نیغه ده لار دا
پهٔ دې تلل دي اے شبیره څهٔ چې ځونه

# لهٔ کور نه روانیدل

دَ کور دَ ټولو ذمه داریئو نه دَ شریعت مطابق ځانونه فارغ کړئ اؤ دِ زړهٔ دِ اخلاصه خپل ځان اؤ هر څهٔ الله ته وسپارئ۔ پهٔ هغهٔ بهروسه لړئ اؤ دوه رکعته صلوٰة حاجت نمونځ وکړئ اؤ دَ سفر مسنو ن دعا سره دا مبارک سفر شروع کړئ۔

بهروسه باندي ستا، کور نه روانیږم
خپله ربه اوس زهٔ ستا حواله کیږم

پهٔ رګ رګ کښې زما مینه کړې پیوسته
خزانې دَ معرفت وته زیریږم

ګناه ګار یم سیاه کار یم خطا کار یم

خو پہ فضل ستا پہ دې لاره ستنیږم

حج مقبول راته نصیب کړې پهٔ آسانه
ګران ئې نهٔ کړې زهٔ کمزورے یم ویریږم

غواړم زه چې لهٔ دنیا ځنې هجرت کړم
بچ کړې ما لهٔ دې دنیا ګنې غورزیږم

بس پهٔ زړهٔ کښې مې یو ته وے دا مې شوق دے
دَ غیر نهٔ شمه پهٔ دې باندې ژړیږم

قادر ربه ما عاجز شبیر کړې داسې
چې هر وختې پهٔ سنت باندې چلیږم

کهٔ کیدے شي نو دا شعرونه ووایَئ اؤ بیا لهٔ کور نه روان شئ ۔۔ستاسو دَ حج چې کوم ترتیب هم دے هغه به ئې تاسو ته ښودلے وي اؤ ظاهره ده چې هم هغه شان به کوئ لیکن خپل زړهٔ هر وخت الله تعالیٰ طرف ته متوجه ساتَئ ، یوې پر کیفې دعا سره چې اے الله زهٔ روان شوے ستا پهٔ طلب کښې یم لیکن پهٔ دې کښې کامیابي خو ستا پهٔ

لاس کښې ده ، پس ما خپل حقیقي اؤ ظاهري دواړو کامیابیو ته دَ خپل حبیب صلي الله علیه و سلم پۀ طفیل ورَسے۔کۀ تاسو حاجي کیمپ ته روان يَئَ نو هلته دَ نورو کارونو سره دَ زړۀ فهمائیش جاري ساتَئَ۔

زړکیه ورځه مخکښې پۀ دې لاره چې ورځې
پۀ زړۀ کښې خیال ساته ئې څۀ دَ پاره چې ورځې

سوچ مۀ کوه پۀ ټولو تکلیفونو چې کو م دي
دَ زړه سره دې عقل هم وسپاره چې ورځې

اؤ کنه دا لاره هم دغه شان ده۔ پۀ قدم قدم چیکنګ کیږي لیکن دا دَ نفعې سودا ده۔ ۔دَ چا دپاره چې دا هر څۀ دي هغه دا ویني۔ ۔هوش قائم ساتل پکار دي اؤ جوش هم۔!

در کفے جام شریعت در کفے سنداں عشق
ہر ہوسناکے نداند جام و سنداں باختن

هر حاجي دَ خپل محبوب میلمۀ ګڼل پکار دي۔ ۔ کۀ دَ هغۀ خدمت څوک نۀ شي کولے نو تکلیف خو ورته نۀ دي ورکول پکار۔۔لکه څنګه چې څوک دَ شیخ دَ اولاد ، دَ استاذ دَ اولاد پۀ غلطیانو سترګې پټئ اؤ پۀ زړۀ ئې نۀ درنئ دغه شان دَ الله تعالیٰ دَدې میلمنو دَ پاره ولې مونږ پۀ خپل زړۀ کښې خیرے راولو۔۔ټول کارونه پۀ حوصله اؤ پۀ همت سره کول پکار دي۔ ۔انتظاماتو والا دَ محبوب دربانان ګڼل پکار دي اؤ دَدوئ سپوره ستغه پۀ روڼ تندي برداشت کول پکار دي۔۔

حق دے دَ محبوب کۀ ازمیښتل کوي
دوی کۀ کښېنول کۀ پاڅول کوي
دَغې دربانانو ـ دَ محبوب باندې
څۀ دَ زړۀ آداب مونږ ښودل کوي

زۀ يمه کمزورے پۀ اسانه دې
ما کړي خپل پۀ دې کۀ خپلول کوي

شوق نه يم مجبور ګني څۀ شے يمه
زړۀ مې دَ کرم ورنه غوښتل کوي

بچ مې لۀ دښمن کړې راسره چې دے
دے پۀ دهوکه باندې غرقول کوي

زړۀ مې دَ هغۀ ، ورته زۀ ګورمه
کله دے لۀ ګوتې هم نيسل کوي

لاره دَ جانان شبيره ونيسه
دا نشاندہی چې دَ منزل کوي

پۀ ائرپورټ کۀ ممکنه وي نو بهتره ده کۀ لامبل

نۀ وي نو اودس دې وکړي اؤ دوه رکعته سنت احرام دې وکړي- ـدې نه پس دې يو څادر نه لنګ ووهي اؤ بل څادر دې ځان سره کښيودے شي- ـځۀ وخت چې جهاز يو دوه ګهنټې مزل وکړي نو بيا دې هغه وخت قميص ؤباسي اؤ هغه بل څادر دې ځان نه تاؤ کړي-ـدَدې دَ پاره چې کۀ جهاز ليټ شي يا کينسل شي نو چې دَ احرام پابندياني هيڅ ئې هيڅه خلق پۀ ځان نه راولي- ځکه چې پۀ دې کښې بيا دَ دم خطره وي اؤ بيا دا لوئے امتحان جوړ شي-ـشيطان پۀ دغه موقعه بيا دَ خلقو ايمان يا اعمالو ته نقصان رسوي-ـ

ضروري دي لۀ شيطان ځان بچ کول
هم خپل نفس پۀ طريقه دي چلول

کۀ لۀ در ئې اساني مومې شبيره
دا نعمت دے دَدې زر دي خپلول

دَدې فائده به داوي چې کۀ جهاز ته دَ ختو پۀ وخت چې ائير هوسټسې اؤ سټيوارډز کومې خوشبودارې توليې دَ مسافرو پۀ لاس کښې ورکوي نو لۀ هغې به حفاظت ممکن شي ځکه چې دَ احرام پۀ حالت خوشبوئي استعمالول منع دي-ـ

احرام دَ کور نه تړل مستحب اؤ دَ دم نه ځان

بچ کول واجب دي ـ کۀ پۀ مستحبو اؤ واجبو کښې مقابله راشي نو واجب اخستل ضروري ګرځي۔

زۀ لۀ لرې دَ محبوب کوم ديدار
لۀ نزدې ئې ادبئ يمه هوښيار

بچ کيدل لۀ ګناه ښه لۀ مستحب دي
دَ محبوب چې دَ منشاء شم تابعدار

کله چې دوه ګهنټو نه زيات مزل پۀ جهاز کښې وشي نو کۀ اودس ئې وي نو دوه رکعته سنت احرام دې پۀ سيټ باندې پۀ ناسته وکړي۔ پۀ نفلو کښې دَدې اجازت شته دے۔

چې ئې خوښ وي کوم يو کار پکار هغه دے
حقيقت کښې پۀ شيطان ګزار هغه دے
پۀ سورلۍ نفل پۀ ناستې چې ثابت دي
نو پۀ سيټ هم دي جائز چې کار هغه دے

دَ سنت احرام نه پس دَعمرې ، دَ صرف حج يا دَ حج اؤ دَ عمرې نيت تړلے شي، څنګه چه دَ چا اراده وي۔دَدې نه پس کم نه کم يو ځل تلبيه ويئل پکار دي۔

دَ کوم کار پۀ اراده يمه روان

قابل نه یم خو دے فضل دَ سبحان
لبیک خولهٔ باندې پهٔ زړهٔ کښې مې هغه دے
ګنهګار یمه هغه دے مهربان

پهٔ دې لار کښې زهٔ ترې غواړمه بخښنه
زما نیت دې کړي قبول اؤ کار اسان

الله لوې دے اؤ دا کار هم ډېر عظیم دے
چرته نهٔ شم ئې ادبه پهٔ څهٔ شان

زړهٔ کښې شوق لرم پهٔ ژبه دَ ستا نوم
شبیر وایئ کړې نصیب راته امان

دَدې نه پس دَ لبیک پهٔ ذریعه دَ محبوب پهٔ دربار کښې مسلسل حاضري لګول پکار دي۔آیا دَ یار پهٔ کوڅه کښې پهٔ اواز لګولو څوک سترے کیږي۔نو مونږه دا غواړو چې مونږدې قبول شو اؤ دَدې دروازه محبوب صرف یوه ښئیلي ده اؤ هغه دَ محبوب دَ محبوب محبوبه طریقه ده۔ دَدې دَ پاره به هر کار دَ محبوب پهٔ طریقه کول پکار دي۔۔

(1)۔څلورو وقفو سره تلبیه ویئل ۔

لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ ، لَبَّيْكَ لا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ ، إِنَّ الحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالمُلْكَ ، لا شَرِيكَ لَكَ ۔ (1)

دا ترتيب دي درې ځله تېر کړے شي ۔دې نه پس يو ځل درود شريف اؤ دَ دې نه پس دې بيا دعا وغواړي ۔کۀ دا لاندينۍ دعا چاته ياده وي نو دادې ووايئ ځکه چې دا مسنونه دعا ده۔ اللّٰهم انی اسئلک رضاک و الجنة و نعوذ بک من غضبک و النار۔

حاجيان صاحبان چې دا پۀ جمع باندې تلبيه وايئ دا مسنونه طريقه نۀ ده۔۔ تلبيه انفرادي وئيل پکار دي۔ ۔البته تعليم د پاره پۀ جمه وئيل هم ټيک دي۔۔

# پۀ جده کښې انتظار

جده چې دَ سعودي عرب بين الاقوامي ائر پورټ دے ، پۀ دې کښې چونکې ډېر کارونه کيدل وي نو کافي ډېر انتظار پکښې کول پريوځي۔۔هلته دَ ايميګريشن ، دَ سامان دَ چيکنګ ، دَمکتب دَ بسونو حاصلولو وغيره باندې ډېر وخت لګي۔۔پردے ملک ،پردۍ ژبه اؤ بيا رش ۔دَدې ټولو سره دَ هر حاجي چې دَ اکثرو پکښې دا ؤړومبۍ تجربه وي واسطه راځي۔۔دَصوفي دَ پاره خو دا برداشت کول څه غټه خبره نۀ وي ځکه چې

ذکر اسان کړي دَ ذاکر انتظار

پوېِ وي عقبیٰ کښې به مې دا شي پکار

(1) وليسن الوقف فى المواقع-اربعه- معارف السنن ج ٦ ص ٣٠ ايچ ايم سعيد

مجاهده ګڼلے شي دَ اصلاح
يو ذريعه ځکه اسان شي دا کار

ليکن باقي حاجيان چې دَ عشق پهٔ سفر روان دي ، هغوی به دَ دوئ نه ولې وروستو ځي ، هغوی به هم دَ حال پهٔ ژبه ګويا وي.-

کهٔ خپل يار تهٔ وي مطلوب مې انتظار
انتظار به کړم دَ خپلې غاړې هار

مونږ وتلي يو دَ يار پخلا کيدو تهٔ
وي دې خَير هره يوه کوڅه دَ يار

زه دَ يار پهٔ مينه مست خانه بدوش يم
زه هر څهٔ وته په دې کښې يم تيار

دوه څادره دَ کفن مې اغوستلي
غواړم زه چې لهٔ محبوب خپل شمه زار

چې کوم کور دے منسوب شوے مې جانان ته
ترې چکرې ووهم پروانه وار
پۀ دې باندې به دا نفس خپل پرزومه
ګڼي دا به شي بیا شتر ئې مهار

# پۀ مکه مکرمه کښې داخله

مکه مکرمه دَ عظمتونو ښار، دَ الله تعالیٰ دَ نښو ښار،دَ بیت الله ښار چرته چې دَ حضور ﷺ ورکوالے تېر شوے دے ، چرته چې اسماعیل علیه السلام دَ شودو رؤلو وخت کښې دَ مور سره دَ الله تعالیٰ پۀ بهروسه پرېښولے شوے وو۔-چرته کښې چې هاجرې بي بي دَ قافلې پۀ تلاش کښې منډې ووهلې چې دَ خپل ماشوم ځوي دَ پاره اوبه تلاش کړي-۔دا کار دَ الله تعالیٰ دومره خوښ شو چې باقي پاتې دنیا دَ پاره ئې پۀ حج اؤ عمره کښې دا واجب ؤګرځولو-۔دې ښار کښې دَ داخلې پۀ وخت دَ دې دَ مینې نه زړۀ ډک پکار دے-۔

حاضرې راته نصیب شوه دَ محبوب دربار کښې نن
چې حاضر دَ خدائ پۀ فضل یم پۀ دې لوئ ښار کښې نن

اوس توفیق دَ ادب هم راته نصیب کړې لویه ربه
لرې نۀ شمه لۀ ستا نه چې پۀ دغه کار کښې نن

اؤ جي دا عجيبه ښار دے۔دلته دَهرې نيکۍ اجر يو په لک دے۔ دغه شان ګناه هم په لک چنده ليکلے شي۔۔نادانه خو دَ نيکۍ په لک چنده مست ګرځي اؤ پوې خلق دَ ګناه دَ لک چنده کيدو په تراره وي۔۔حضرت عبد الله بن عمر رضى الله عنه به هم نمونځ په حدودِ حرم کښې کولو اؤ رهائيش ئې دَ حدود حرم نه بهر وو۔۔دغې ته فقاهت وئيلے شي۔ ۔الله تعالىٰ دې مونږ ته هم دا نصيب کړي۔۔

# وړومبے نظر۔

آه!اوس په بيت الله شريف زمونږ نظر پريوتو والا دے۔۔دَ دعاګانو دَ قبوليت وخت رانزدې شۀ۔هوښيار ! خبردار! نۀ وخت ضائع کول دي،نۀ موقع۔۔ځۀ داسې مناسب ځائے کښې ودريدل پکار دي چې کۀ څوک راشي نو چې دَ خانه کعبې دَ پاره حائل نۀ شي ۔چې دَ ډېرو دعاګانو موقع حاصله شي۔۔کم نه کم دا دعاګانې خو ضرور غوښتل پکار دي۔۔ اے الله حسنِ خاتمه راته نصيب کړې۔۔اے الله ايمان کامل راته نصيب کړې۔۔اے الله ماته اؤ دَ حضورﷺ پوره امت ته هدايت نصيب کړې۔۔ اے الله ما مستجاب الدعوات جوړ کړې۔۔

کۀ دغه وخت زۀ فقير هم چاته ياد شم نو زما خوش قسمتي به وي۔ما دَپاره خو دا دعا دې وغواړي۔چې الله تعالىٰ ما صرف دَ ځان کړي دَ بل چانه۔۔

ګنهګار يم معافي تۀ مګر راکړې
چې کعبه پرې وينم داسې نظر راکړې

پهٔ ما باندې دَ کرم نظر تهٔ وکړې
ډک دَ مينې زړګے تهٔ برابر راکړې
ستا دَ غير دَ تعلق نه هميش بچ شم
چې دَ ستا شم داسې آه دَ سحر راکړې

وې پهٔ ژبه مې ستا نوم ، زړهٔ کښې قرآن اؤ
تعلق راته هر وخت دَ خپل در راکړې

رانه هېر نهٔ شي قرآن اؤ نهٔ تا هېر کړم
پهٔ دعوت کښې زما ښکلے اثر راکړې

الٰهي شبير واصل کړې پهٔ خپل فضل
نظر پاک راکړې اؤ زړهٔ باخبر راکړې

# دَ اللّٰه دَ کور طواف۔

چا چې دَ عمرې يا دَ حج قران نيت کړے وي نوهغوی ته اوس دَ عمرې طواف کول دي اؤ کهٔ دَ حج افراد نيت ئې کړے وي نو طواف قدوم به ورته کول وي۔ ۔ خوش قسمته دي هغوی چې اوس به دَ اللّٰه دَ کور طواف کوي۔ دا دَ شکر ځائے دے۔۔ دَ کعبې دَ عظمت خيال پهٔ زړهٔ کښې ساتل پکار دي اؤ حجر اسود طرف ته

تلل دي۔دَخپل څادريو طرف دَ ښي ترخ نه لاندې تېر ول اؤ پۀ بله اوږه باندې ئې اچول دي۔دې ته اضطباع وئيلے شي۔دا حالت به دَ طواف تر اخره جاري وي۔دَ حجر اسود مخې ته دَ راتلو نه مخکښې دَ طواف نيت کول پکار دي پۀ دې الفاظو چې زۀ دَ طواف دَ اؤو چکرو نيت کوم۔ اے الله ته ئې قبول کړې اؤ اسان ئې کړې۔

الله اکبر و لِلّٰهِ الحمد وئيلو نه پس،لاسونه دې لاندې وغورزولے شي۔دا ګويا دَ طواف تکبير تحريمه وشۀ۔اوس به دَ حجر اسود استلام کول وي۔دې دَ پاره دَ حجر اسود مخې ته راتلل پکار دي۔پکار خو داوه چې چپې ترنه اخستے شوے وے خو چونکې پۀ حجر اسود خوشبوئي لګيدلي وي اؤ هغه دَ احرام پۀ حالت کښې منع ده۔ ولې نه؟

دي آداب دَ عشق بدل اؤ آداب دَ هوش بدل
ليونتوب چې وي پۀ څۀ کښې راولي بيا جوش بدل

خوشبوئ لګول سنت دي دلفريب اؤ مزيدار
خو دَعشق پۀ ميدان کښې،دي کول جام نوش بدل

ستادَ پاره دَ عشاقو بل نظام دے دلفريب
دَ سنت نه هم ثابت دے دغه جوش خروش بدل

دوه ښادره چې پۀ غاړه تا اغوستي دلته کبنې دي
داپۀ شانې دَ کفن دي دے دَ مينې پوش بدل
دَ محبوب چې دي محبوئې طريقې شبيره واخله
دے طريق طريق دَ مينې دَ عاشق دَ دوش بدل

دَ استلام دَ پاره دَ اشارې اجازت دے-خپل دواړه لاسونه پۀ داسې طريقه ځان ته مخکښې نيسل پکار دي-چې ګويا دا لاسونه دَ حجر اسود دَ پاسه کيښودلے شوي دي-اوس دا لاسونه ښکلول دي اؤ ښي طرف ته تاويدل دي-دې سره طواف شروع شو-ليکن دَ عمرې دَ طواف پۀ ؤړومبينی درې چکرو کښې رمل هم کولے شي ځکه چې دې نه پس سعي ده -کۀ چا طواف قدوم کړے وي اؤ وريسې ئې دَ سعي اراده وي نو بيا به هم رمل کوي- -دَ رمل مطلب دادے چې پۀ دې کښې لاسونو اؤ پښې پۀ زور اؤ جتکې سره مخکښې کولے شي-

زړۀ زما دې ډک دَ مينې شي اؤ صاف
خدايه زه چې اوس کومه دا طواف

پتنګان لۀ شمعې خنګه چې چورليږی
داسې زۀ شم ترې ونۀ کړم انحراف

دَ طواف دوران کښې خانه کعبې ته کتل مکروه دي ولې؟

ستا عظمت مې دے پۀ زړۀ کښې، دَکعبې هم
زړۀ مې غواړي چې ئې وکړم نظارې هم
خو مکروه دي په طواف کښې کتل دې ته
کۀ بهر لۀ عقله دي دا مسئلې هم

بس منل کړه کۀ مطلب دې محبت وي
کۀ نسبت څۀ وشي ورځې ته دَ شپې هم

صحابۆ کړے رمل مونږ ئې هم کؤو
پۀ تيزۍ لاس خوزؤو ورسره پښې هم

دَ جمات احترام شته خو حکم دادے
محبت کښې به منې دا طريقې هم

عقلِ خام عقلِ اصلي دپاره مات کړه
اے شبيره ورسره دې فلسفې هم

اضطباع به پۀ اؤو واړو چکرو کښې جاري ساتل وي اؤ دَ هر چکر ابتدا به دَ استلام نۀ کيږي-دغه شان به اؤو چکرې پوره شي- - طواف کښې به ټول اتۀ استلامونه شي-دَدې نه پس به دوه رکعته واجب الطواف نمونځ کول وي- چونکې لا احرام جاري دے-پۀ دې وجه به

سرتور سر نمونځ کول وي- ـدَ مشرانو مخکښې سرتور سر ګرځېدل ئې ادبي ده اؤ دلته دَ ټولو نه لوئے يعنې دَ الله مخکښې سر تور سر نمونځ کول لازمي دي ځکه چې دا دلته عاشقانه انداز دے-ـهر کله چې دَ محبوبِ حقيقي دغه انداز خوښ دے نو مونږ ته هم پکار دي چې دا خوښ کړو-

څۀ ټيک دي څۀ غلط دي پۀ دې باندې څۀ پوهيږم
محبوب ته چې مطلوب دي بس پۀ هغه خوشحاليږم

عاشق ته لۀ محبوب دَ خوښې څۀ بل ښۀ کيدے شي
پۀ زړۀ کښې مې محبوب دے دَ هغۀ پۀ ګفت چليږم

وينا چې دَ محبوب ده ، غوره ده مې لۀ کتلو
پۀ خپله پۀ ليدلو باندې نۀ مطمئن کيږم

شيطان پۀ خپلو سترګو اعتبار وکړلو مردود شو
مردود چرته مانۀ کړي زه پۀ دغه خو ويريږم

پۀ زړۀ کښې مې-دَ يار تصوير موجود دے چې ئې ؤګورم
هر حال کښې هر صورت کښې هم هغۀ وته ښکاريږم

کثرت نه چې وحدت طرف ته راغلم زۀ شبيره
دے يو زړۀ کښې زما ، بس لۀ هغۀ څنې ځاريږم

# واجب الطواف

چې طواف کله پوره شي نو دَدې پۀ شکرانه کښې دوه رکعته واجب الطواف نمونځ کول واجب دی۔۔دَدې مقام ابراهيم سره خواؤشا کول سنت دی خو خلقو ته تکليف چونکې ورکول جائز نۀ دی دَدې پۀ وجه چې حرم شريف کښې چې کوم ځائےهم ملاؤ شو نو هلته کيدے شي۔ ۔

چې اعمال کوم مستحب دی نو کول ئې دي بهتر
هم ترتيب دَدې اعمالو ساته زړۀ کښې برابر

دَ واجب کۀ مستحب شو مقابل نو بيائې پريږده
دا اصول دے اؤ دَفقهې غټ قانون دے معتبر

دَدې نه پس دَ الله تعالیٰ شکر کول پکار دي چې الله تعالیٰ مو عمره نصيب کړه- ۔دَ دې نمونځ نه پس دَ راتلونکو اعمالو دَ اسانۍ اؤ قبوليت دَ پاره دعا کول پکار دي۔۔

# دَ زمزم اوبۀ څښل

کۀ روژه نۀ وي نو دَ زمزم اوبه څښلو اؤ پۀ ملتزم شريف

حاضرئ کښې اختيار دے چې کوم اول څوک کوي اؤ کوم وروستو- نن سبا چونکې دَ زمزم کوهي ته رسيدل ممکن نۀ دي نو حرم کښې چې کوم ځائے نه دَ زمزم اوبه څښل څوک غواړي نو څښلے شي - ـدَدې معجزاتي اوبو نه ښۀ لطف اخستل پکار دي-ولې نه؟ دا دَ الله تعالىٰ ميلمستيا ده- ـدَدې اوبو يوې يوې قطرې ته پۀ خپل وطن کښې خلق ترسکيږي اؤ دلته ما شاء الله دومره وافرې دي نو ښه پۀ مړه خيټه ئې څښل پکار دي- دَ زمزم دَ اوبو دَ څښلو دعا داده ”اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَسۡئَلُکَ عِلۡمًا نَافِعًا، وَ رِزۡقًا وَاسِعًا، وَ شِفَاءًمِن کُلِّ داء“

اے الله! تانه سوال دَ هغه علم چې نفع رسوي ، دَ وسيع رزق اؤ دَ هر تکليف نه دَ شفاء -

دَ زمزم اوبه جدا دي داخو ډيرې څښلے کيږي
دَ ايمان دا علامت دے کۀ پۀ دې څوک نۀ مړيږي

کوم جائز مقصد دَپاره چې ئې څښل غواړې داؤ څښه
چې يقين دَ چا راسخ وي نو مقصد پرې حاصليږي

خدايه ما ته شفا را کړې هر مرض نۀ چې زه جوړ شم
هم لۀ تندې نه دَ حشر چې مې زړۀ ترينه ويريږي

اے اللہ امان تۀ ورکړې خپل ديدار ورته نصيب کړې
د شبير دَ غم نه ډکې سترګې مخ باندې بهيږي

# پۀ ملتزم شريف حاضري اؤ دعا

دَ زمزم اوبه چې وڅښلے شي نو کۀ ممکنه وي نو ملتزم شريف باندې حاضر ي پکار ده- دَ حجر اسود اؤ دَ خانه کعبې دَ دروازې پۀ مينځ کښې چې کوم ځائے دے، هغې ته ملتزم شريف ويئلے شي- پۀ دې هم خوشبوئي لګيدلي وي نو ورته پۀ داسې طريقه بنده نزدې ورتلے شي چې خو شبوئي پۀ جسم ونۀ لګي البته کۀ څوک پۀ احرام کښې نۀ وي نو بيا خو دې ورسره غاړه ملاؤ کړي پۀ شرط ددې چې چا ته تکليف ونۀ رسئ- نو ملتزم شريف ته مخ کول اؤ دعا کول پکار دي- دا دَعاګانو دَ قبوليت خاص ځائے دے- دلته دعا ګانې کول پکار دي اؤ کۀ زۀ عاجز چا ياد کړم نو ډيره مهرباني به وي چې د دعاګانو ډير محتاج يم-

دعاغواړه پۀ دې ځائے دعا قبليږي
ملتزم دے مرادونه حاصليږي

دَ رحمت پۀ سمندر کښې زړۀ ور ډوب کړه

واخله واخله رحمتونه نازلیږي

پهٔ اياک نعبدُ باندې مشغول يئ
ستا اياک نستعين خنګه هېرېږي
اهدنا الصراط المستقيم هم وايه
لاره نيغه پهٔ اسانه ملاوېږي

دَ انعمتَ عليهم لار پهٔ زړهٔ غواړه
دَ الله پهٔ فضل دلته نصيب کېږي

دَ مغضوب عليهم اؤ دَ ضآلين لار
نه پناه غواړه شبېره وخت تېرېږي

# دَ صفا مروه منډه

دَ صفا مروه مينځ کښې اؤ منډې وهل پهٔ هر عمره کؤنکي اؤ حج کؤنکي واجب دي- اوس دَدې تکل کول دي- دَدې دپاره اول دَ حجر اسود نهم استلام کول دي- اؤ بيا صفا طرف ته تلل دي- چې کله دَ صفا پهٔ غونډۍ دومره ؤچت بنده وخيژي چې بنده ته دَ هغه ځائے نه خانه کعبه پهٔ نظر راځي نو هلته اول کهٔ موقع وي نو دا وييئل پکار دي ۔
لَلّٰهُمَّ اِنِّیۡ اُرِيۡدُ السَّعیَ بَيۡنَ الصَّفَا وَالمَروۃَ سَبعۃَ اَشوَاطٍ لِوَجهِکَ الکَرِيۡمِ،

فَيَسِّرهُ لِي وَتَقَبَّلهُ مِنِّي دَ دې نه پس دَ صفا مروه دَ اؤو چکرو نيت کولے شي- چې اے الله زهٔ دَ صفا مروه دَ اؤو چکرو نيت کوم ته ئې راته اسانې کړې اؤ قبولې ئې کړې-بيا الله اکبر وييئلو سره لاسونه دَ تکبير تحريمې پهٔ شان وچتول دي-بيا دعا دَپاره لاس اوچت وچتول اؤ دعا کول پکار دي-دومره وخت چې تقريباً پکښې پنځويشت آيتونه دَ قرآن پاک ولوستلے شي- دَدې نه پس پهٔ خپل مناسب رفتار ذکر کولو سره مروه طرف ته روانيدل دي-

شعائر دي دَ الله صفا مروه
دَ الله دَ محبت يو نظاره

هاجره چې شوه خبر چې خدائ دا غواړي
دَ يواځې فکر نهٔ ؤ ورسره

وسيدل ئې کړل قبول هلته يواځې
دَ الله پهٔ توکل اؤ بهروسه

دَ مور مينه خو ژوندئ وه ، شوه پهٔ منډو
اسمٰعيل چې ترڅيدو پهٔ دې صحرا

دَ اوبو درک دپاره سر پهٔ منډو
دَ غونډيو مينځ کښې وه بيا هاجره

پهٔ دې منډو کښې ئې نظر به پهٔ ماشوم ؤ
چې ظاهره شوه ناساپهٔ معجزه

دَ ما شوم پښو نه اوبه شولې روانې
هاجرې چې دَدې وکړه تماشا
دې اوبو ته ئې لهٔ شکو خرنډان جوړ کړل
دَ زم زم الفاظ راتلل ئې هم پهٔ خولهٔ

دا اوبه دَ زم زم شوې عطا لهٔ خدائ نه
جوړيدله به چې دلته کښې کعبه

لهٔ اول مجاهده ترې نه مطلوب وه
وريسې شوه عنايت مشاهده

رب قبولې ئې پهٔ دې شان کړې دغه منډې
معتمر اؤ پهٔ حاجې دې لازم دا

دوې به منډې دغه شانې وهې دلته
دې واجب اوس عمره حج کښې هميشه

الله ډېر دے قدردان پرې اوس قربان شه
قربانې ضائع کوې نه دَ هيچا

هر څۀ ځار کړه لۀ خپل رب نه اے شبيره
چې باقي شي ګني شي به دا فنا

په صفا مروه کښې چې کله هغه ځائے راشي چرته کښې چې شنې رڼاګانې شروع کيږي نو هغه ځائے کښې مينځني رفتار سره منډه وهل پکار دي اؤ چې دويم ځل شنې رڼاګانې راشي نو بيا منډه ختمول پکار دي-- دَ منډې دوران کښې دا دعا ويئل پکار دي۔

رَبِّ اغفِر، وَارحَم، اَنتَ الاعزُّ الاکرَم

مخکښې به مروه غنډۍ راشي۔هلته هم قبلې طرف ته دې مخ وي اؤ دعا کول پکار دي-- يو چکر مکمل شو اوس دَ مروه غنډۍ نه صفا غنډۍ ته تلل دي اؤ دا چکر به هم دَ مخکښې پۀ شان ختم شي اؤدَ شنو رڼاګانو مينځ کښې منډه يادساتل پکار دي- دغه شان بيا مروه ته، بيا صفا ته، بيا مروه ته، بيا صفا ته، اؤ بيا مروه ته چکرې لګول دي چې اؤو چکرې ختمې شي نو عمره ختم شوه- پۀ مطاف کښې دوه رکعته پۀ اخر کښې ادا کول مستحب دي کۀ مکروه وخت نۀ وي هله-

# حلق کول

کۀ دَ چا حج تمتع وي نو هغه دې خپل سر وخرئ اؤ خپل احرام دې خلاص کړي اؤ قِران والا به دَ حج انتظار کوي- -دَ حلق پۀ

ځائے قصر هم کيدے شي خو دَ قصر طريقه داده چې سر دَ څلورمې حصې پۀ قدر ويښتۀ د ې پۀ قينچۍ دَ ګوتې دَ دريمې حصې ورږودوالي مطابق واخستے شي- ـدادَ عشق سفر دے ـدَ عشق تقاضا داده چې بنده دې ټول ويښتۀ پۀ پاکۍ سره کټ کړي ځکه چې حضور ﷺ ټول ويښتۀ کټ کړي وو اؤ دَ حلق کؤنکو دَ پاره ئې درې ځله اؤ دَ قصر کؤنکو دَ پاره ئې يو ځل دعا کړي ده- ـفرق معلوم دے- -خَير کۀ چا پۀ صحيح طريقه قصر وکړو نو هغه هم غنيمت دے ګني کۀ حنفي کس يو څو ويښتۀ کټ کړل اؤ دا ئې قصر ؤګڼلو نو دا خبره خطر ناکه ده ولې نه؟

خپلې زلفې محبوب کټ کړې دي ، کښې دا-چې-شي ښودلے
چې دَعشق پۀ عبادت کښې-عاشق څۀ څۀ شي-کولے

کۀ ويښتۀ دَ چا خپل خوښ وي لۀ محبوب دَ حکم-هم ډېر
نو هغۀ ته څوک دې وخت کښې عاشق څنګه شي-ويئلے

ټيک ده قصر هم صحيح دے-دَ مسلک کۀ مطابق وي
مسلک څو ويښتو دَ پاره زړۀ نه-څوک شي غورزَولے

کۀ دَنفس خواهش غالب شي اؤ مسلک خپل پريږدي دلته

دَ دنیا پۀ محبت به بیا۔ دے ښه شي ولړلے

نفس پۀ عقل تۀ مغلوب کړه عقل بیا پۀ شریعت تۀ
اے شبیره پۀ دې لار کښې ځان پۀ دغه شي ګټلے

# دَ حج تیارے اؤ انتظار

اتم دَ ذي الحجې نه دَ حج ارکان شروع کیږي ۔ پۀ اتم ذي الحجې دَ نمر د ختو نه پس دَ احرام پۀ حالت کښې منیٰ ته روانیدل سنت دي- ۔کۀ حج تمتع دَ چا وي نو هغه احرام مکه مکرمه کښې هر ځائے کښې ترلے شي- البته پۀ حرم شریف کښې ئې ترل افضل دي- ۔یو نفلي طواف دې وکړي اؤ پۀ پټ سر دې دوه رکعته نمونځ دَ سنتِ احرام پۀ نیت وکړي- بیا دې سر بربنډ کړي اؤ دَ حج نیت دې وکړي، اَللّٰهمَّ اِنِّی اُرِیدُ الحَجَّ فَیَسِّرہُ لِی وَ تَقَبَّلہُ مِنِّی لَبیک اَللّٰهمَّ لبّیک لبَّیک لا شَرِیک لک لبَّیک، اِنَّ الحَمدَ وَ النِّعمة لک وَ المُلک، لا شَرِیک لک
چې اے الله زۀ نیت کوم دَ حج ته ئې قبول کړې اؤ راته ئې اسان کړې ، بیا دې تلبیه ووائې بس احرام شروع شو دَ احرام پابندیانې هم شروع شوې- ۔حج یو ګران عبادت دے خو عشق دا ډېر اسان کړي ځکه چې دا دَ عشق سفر دے- ۔عاشقان خو ګویا داسې وائي۔!

دَ حج مزې مزې خودي تکليف ئې لۀ څۀ کم نۀ دے
عاشق ونۀ څښي دغه، دغه غم خو داسې غم نۀ دے

محبوب مونږه چيړل غوارې اؤ دائې اداګانې دي
تاويږه لۀ حرم ځنې خو دا ګورې صنم نۀ دے
لازمې اداګانې دَ عشاقو ئې پۀ عشاقو کړې
پوهيږي پرې عاشق صرف ، داهسې زير وبم نۀ دے

چې ګرانې فاصلې وې نو دَ رش نه خلق خلاص وو بيا
سفر کۀ شو اسان نو رش ئې هم څۀ سره سم نۀ دے

پۀ خدائ ئې چې بهروسه وکړه څۀ جوړ لۀ هاجرې نه شو
ضائع کۀ ورته ګورې دَ هغې هيڅ يو قدم نۀ دے

پلار هغه چې حليم دے اؤ پۀ ځوئ ډېر مهربان دے
دَ ځوئ ذبح کؤو کښې څۀ حائل ورته شرم نۀ دے

دیکي کۀ خورېږ نو خوره دلته سفر دَ عشق شبیره دے
غم نۀ دے ، خوشحالي ده ، پیرزوینه ده، ستم نۀ دے

# منیٰ ته روانیدل

پۀ اتم دَ ذي الحجې تاسو ته منیٰ ته تلل دي- پۀ منیٰ کښې نور هیڅ هم نۀ دي کول صرف دَ ماسپښین ،مازیګر ،ماښام ،ماسخوتن اؤ د راتلونکي سحر نمونځ کول دي- ـنن نه دَ نفساني عقل اؤ دَ ایماني عقل مقابله شروع کیدونکي ده-ـ پۀ دې کښې به ګټه پۀ استقامت کیږي -ـکوم دښمن چې اسماعیل علیه السلام دَ خپل پلار مقابلې ته لمسولو هغه نن هم موجود دے اؤ دَهغۀ پۀ زړۀ کښې زمونږ دَ پاره ډیره کینه ده-ـهغه به پۀ یو یو قدم پۀ زړونو کښې وسوسې اچوي لیکن دَهغې جواب به عاشق پۀ زبانِ حال داسې ورکوي-ـ

زړګیه نن کوشۀ کښې دَ عشق تللو ته ورځه
منیٰ ته دَ محبوب پخلا کولو ته ورځه

تول هر څۀ دې قربان وي پۀ محبوب زما همیش
سر توره لیونتوب نن خپل ښیئلو ته ورځه

خلیل کومه کوځهٔ کښې چې خپل ځوئ قربانولو
خپل نفس وته نن هغه ځائے ښودلو ته ورځه

ډېره نن لګول دي تاته کوم ځائے کښې لږغور وکړه
پهٔ لاره دَ فنا قدم کیښولو ته ورځه

جامي دَ عاشقانو اچولي تا دي نن چې
شبیره دغه حال نن خپلولو ته ورځه

# عرفات ته روانیدل

پهٔ نهم دَ ذي الحجې دَ نمر ختلو نه پس عرفات ته روانیدل دي۔ نن دَ مغفرت ورځ ده، یومِ عرفه ده۔ دَمسئلې مطابق نن دَ سحر دَ نمونځ نه پس تکبیرونه هم شروع شو اؤ دَ زوال نه پس به دَ عرفات دَ وقوف وخت شروع کیږي - ۔نن زوال نه پس اؤ دَ راتلونکي سبا صادق نه مخکښې کهٔ دَ حج نیت سره څوک پهٔ عرفات کښې دَ یوې لمحې دَ پاره هم پهٔ عرفات کښې داخل شو نو هغه حاجي شهٔ ځکه چې دا دَحج رکنِ اعظم دے۔ ۔دَدې دَ فوت کیدو هیڅ تلافي نشته ځکه دغه دوران دا خبره یقیني کول لازمي دي چې بنده دې دې دوران کښې عرفات ته حاضري وکړي- البته کهٔ پهٔ دغه ورځ دَ دم

نه دَ بج کیدو دَ پاره دا هم ضروري دي چې دَ نمر دَ ډوبیدو پهٔ وخت کښې دې بنده پهٔ عرفات کښې دننه وي۔-چونکې نن نه تکبیرونه شروع شوي دي- پهٔ دې وجه هر فرض نه پس تکبیرات تشریق ویئیل واجب دي اَللّٰهُ اکبَر اَللّٰهُ اکبَر، لااِلٰہَ الاّ اللّٰهُ وَ اَللّٰهُ اکبَر، اَللّٰهُ اکبَر وَ لِلّٰہِ الحَمد۔ اؤ ورسره تلبیه ویئیل هم پکار دي ځکه چې دا اوس دَ حاجي داسې ترانه ده چې دے به ئې پهٔ هر حالت کښې دَ غټ شیطان تر ویشتو پورې وایي- -دې نه پس به صرف تکبیرات تشریق جاري وي۔-

تلل دي تاته نن کوم ځائے ته مستانه
دَ رحمت یوه عظیمه خزانه

پهٔ قدم قدم نن څهٔ به ملاویږي
ده دَ رب دَ مغفرت یو بهانه

پهٔ نن ورځ به شیطان څومره خوار ؤ زار وي
زړهٔ ئې نن کړه پهٔ عمل خپل نشانه

خلق څومره لرې لرې نه راغلي
ده پهٔ خولهٔ ئې دَ لبیک یو ترانه

راسره نشته دے څۀ چې ورته پیش کړو
ده قبوله نن ادا عاشقانه

دَ محشر پۀ دې منظر کښې اے شبیره
لاره خپله کړه نن ځان ته جانانه

نن سبا دا زیاته بهتره ده چې دَ ماسپښین اؤ دَ مازیګر نمونځ پۀ خپل خپل وخت کښې پۀ خپله خیمه کښې ادا کړے شي- ـدَ زوال دَ وخت نه دَ وقوف وخت شروع شي ـځکه دَ مسپښین نمونځ ادا کولو سره وقوف شروع کول پکار دي- ـدَ سوري نه پۀ نمر کښې وقوف بهتر دے خو دَ صحت دَ خیال ساتلو سره- ـهسې نه چې دَ مستحب پۀ شوق کښې واجب خطره کښې شي-ـکۀ ممکنه وي نو دَوقوف دوران کښې مخ پۀ قبله ودریدل مستحب دي-اؤ پۀ ولاړه وقوف هم-خو کۀ څۀ مسٔله وي نو پۀ ناسته هم کیدے شي اؤ پۀ ملاسته هم-

دَ ماښام وخت داخلیدو سره دَ تلو وخت راشي- ـنن به حاجي دَ ماښام نمونځ دَ نمر پریوتو نه فوراً پس نۀ کوي بلکې چې نمر پریوځي نو عرفات نه به روان شي- ـدَ حاجي نمونځ مزدلفه کښې دے اؤ دَ ماسخُتن دَ وخت داخلیدو نه پس دے-ـماشاء الله قافلې رواني شوې- ـڅوک پۀ ګاډو کښې څوک پیدل، ـداسې ښکاري لکه چې خلقو شراب څښلي وي- ـهر یو مست دے- ولې به نۀ وي

ـداهغه شراب دي چې دَ دنیا ګنده شراب دې پسې چرته رسي-ـګنه ډېره ده خو زړهٔ دَ جوش نه ډک دے- دَ نوي منزل طرف ته پر عزم -ـ

میلمستیا کښې خپل محبوب درکړل څۀ درته
دروازه دَ مغفرت درته شوه بیرته

کومې اوښکې چې توئې کړي تا نن دلته
شوې قبولې تهٔ راغلے ئې نن چرته
ستا پهٔ دغه مغفرت شیطان رسوا شهٔ
خولهٔ ترې پاتې شوه دَ ډېر ذلت نه ارته

پهٔ دې ورځې خلق ډېر معاف شي دلته
لږ دَدې میدان وګوره ته اثر ته

یئ روان مزدلفې ته عرفات نه
دَ عشق لاره رسولي چا ده سر ته

د ماښام نمونځ ماسخُتن مزدلفه کښې
دي کول وګوره لږ دغه منظر ته

دَ عشاقو نصاب بیل دے اے شبیره

ځۀ خبر ئې ډيوه مۀ نيسه تۀ نمر ته

اوس بۀ دَلکونو خلقو سيلاب درې ميله لرې ۆرسي-

-دادې ۆرسيدو-

شوه نصيب راته دا شپۀ ښه مزيداره

ستړې يو خو يو راغلي- ځۀ دپاره

دَ ماښام نمونځ- اول بيا دَ ماسختن

نمونځ کؤو -مزدلفه کښې پۀ قلاره

بيا ارام به د سنت پۀ نيت لږ وکړو

چې شپۀ تېره پۀ اسانه کړو بيداره

دَ حاجي دپاره ليلة القدر دے

دغه شپۀ ، دې کښې بخښنه لۀ رب غواړه

پۀ طرف دَ هغۀ زړۀ اؤ پۀ خولۀ ذکر

نن ساته ښکلي موقعه ده ښه تياره

خپل ځان پيش کړه چې قبول شي پۀ دې شپۀ کښې

اے شبيره ځان خپل رب وته وسپاره

دا وئيلي شوي دي چې دَمزدلفې شپۀ دَ حاجي دَ پاره دَ ليلة القدر

نه افضله ده ـ ځکه پهٔ دې کښې ډېر پهٔ شوق سره عبادت کؤل دي۔ پهٔ عبادت ، ذکر استغفار اؤ درود شريف باندې ځان مشغول ساتل دي۔
ښنګه چې دَسبا صادق وخت داخل شي نو اذان دې وکړے شي اؤ دَ سحر نمونځ پهٔ تيارهٔ کښې کول ښهٔ دي ـ لږ ساعت به دَ مزدلفې وقوف ؤشي۔ځکه چې دا واجب دے۔دَدې وخت د سبا صادق نه شروع کيږي اؤ تر نمر ختو پورې وي۔دلته کښې بهتره ده چې د شيطانانو ويښتلو دَ پاره کاڼي هم جمع کړے شي ـ دا پهٔ يو تيلۍ کښې کښيښودل ښهٔ دي۔چې کله دَ نمر رڼا پهٔ غرونو خوريدل شروع شي نو دَ انسانو سيلاب به دَ منیٰ پهٔ لور روان شي۔

# دَ منیٰ قيام اؤ شيطانان ويشتل

پهٔ لسم تاريخ صرف غټ شيطان ويشتلے کيږي۔ښنګه چه پهٔ ده وړومبينے کوتکانړے خلاص شي نو تلبيه ويئل به ـ ودريږي۔دَ غټ شيطان دَ ويشتلو۔مسنون وخت۔تر زوال پورې دے۔ مباح وخت تر نمر پريواتهٔ پورې دے ـ، دې نه پس مکروه وخت دے خو زنانؤ اؤ کمزورو خلقو دَ پاره دَ شپې ويشتل هم مکروه نهٔ دي۔دَ شيطان ويشتلو سره تکبير سنت دے اؤ ورسره دا دعا هم۔
بِسمِ اللّٰهِ اَللّٰهُ اَکبَر، رَغمَاً للشَّيطَانِ وَ رِضًی للرَّحمَان

دښمن زمونږ شيطان دے نو دَده کله منل دي
چې کار ددهٔ پهٔ زړهٔ کښې وسوسې بس اچول دي

عمل چې پهٔ سنتو کوي څوک نو دے ذليل شي
دَدهٔ پهٔ طريقه نن دَ سنت ځکه ويشتل دي

کنځلې کهٔ کړو دهٔ ته دا هم شيطانيت دے
پهٔ دې دے خوشحاليږي لهٔ دې هم ځان بچ کول دي

ويشتل ئې پهٔ چپلو اؤ پهٔ غټو کاڼيو نهٔ دي
دې ټولو مسٔلو نه ځان خبر کوړې ساتل دي

جذباتو باندې عقل اؤ پهٔ عقل شريعت
هروخت کښې هريو کار کښې دا پهٔ زور غالبول دي

مسنون دعا سره شيطان کوتکاڼيرو باندې ولہ
شبيره هر يو کار کښې پهٔ سنت طريقه تلل دي

# قرباني

څوک چې حج تمتع کول غواړي نو چونکې الله تعالیٰ هغوی ته دا نعمت ورکړے دے ، دَدې دَپاره پهٔ هغوی دَ شکرانې پهٔ طور قرباني کول واجب دي۔۔دَ رمي نه پس دې قرباني وکړي۔ بيا دې حلق يا قصر وکړي اؤ خپل احرام دِ پرانځي۔۔دې نه پس هغوی کندلي شوي جامې اغوندلے شي۔۔خوشبو استعمالولے شي يعني دَ احرام پابندۍ ورباندې ختمې شوې۔۔البته يو پابندي ورباندې لا پاتې ده چه دَ مباشرت اجازت

ورته لا نشته۔کۀ طواف زيارت وکړي نو دا پابندي به هم ختمه شي۔

وګوره لږ دې کار ته چې دَ څۀ دے دا دليل
چې څو ذبح کوي خپل دَ الله لار کښې خليل

دے ځوئے ئې غورزولے چاړۀ لاس کښې ئې تېره
پۀ مينې دَ الله ئې ښه پۀ زوره راښکله
دَ عقل مطابق خو نۀ ده بالکل دا قصه

دَ عشق پۀ ميدان کښې بيا دَ سوچ کله چليږي
دَ عقل دا ميدان نۀ دے پرې دے کله پوهيږي

الله چې لۀ عشق ډکۀ نظاره دا وليدله
وې وئيل ئې جبرائيل ته چې تيزئ سره ورزغله
زر کيږده دَ جنت ګډ د خليل مخکښې پۀ خپله

دا ګډ ئې دَ خليل دَ چاړه مخکښې کښيښودلو
خليل پوئې نۀ دے دې باندې چې څوک ئې ذبح کړلو

خليل پرانستې سترګې ګډ ئې وليد چې حلال
ولاړ اسما عيل روغ دے شۀ حيران پۀ دغه حال
قبول څومره عمل دے دا پۀ نزد دَ ذوالجلال

خپل خوب دې کړو رښتينے وحي راغله پۀ خليل
کړه جوړه مثالي دا قرباني ربِّ جليل

کوي ملسمانان چې قربانيانې پۀ هر کال
نو مخکښې پروت د ِدوی دَ قربانۍ وي دا مثال
پۀ دې ئې مزين کړو بيا دَ حج واجب اعمال

چليږي تر قيامة به دَ عشق دغه سفر
اے کاش چې دَ شبير پۀ زړۀ هم وشي څۀ اثر

# طوافِ زیارت

دا طواف دَ حج رکنِ اعظم اؤ فرض دے۔۔داطواف عموماً دَ قربانی اؤ دَ حلق نه پس پهٔ عامو کپړو کښې کیږي۔ پهٔ دې بعضې خلق حیران شي چې پهٔ عامو کپړو کښې پهٔ طواف کښې رمل اؤ دې نه پس سعي څنګه کیدے شي۔نو پهٔ دې کښې تردد نهٔ دے پکار۔ ۔دا بالکل ټیک دي ۔البته پهٔ دې کښې اضطباع نشته ځکه چې هغه صرف پهٔ احرام کښې کیدے شي۔

تور غلاف کښې کعبه پټه یو مرکز دے دَ تنویر
دَ خدائ کور دے پهٔ دنیا کښے دَدې نشته بل نظیر

پس لهٔ حجه حاجیان تاؤ دي لهٔ دې ښکلي نظاره ده
هر حاجي نن محسوسیږي دَ کعبې دَ دام اسیر

حج کښې ئې ولیدلې نخښې عملي دَ عاشقانو
وریسې اوس دادے وینې د ا دَ عشق بدرِ منیر

دَ عشاقو پهٔ لباس ئې ترې چکرې لګولي
اوس پهٔ عام لباس کښې هم ترې دا حاجیان اخلي تاثیر

چرته دا دنیا دَ مینې چرته جال کښې دَ دنیا ګیر

کړې قبول دَ ځان د پاره ما عاجز فقیر شبیر

الحمد لله دَ لسم دَ ذي الحجې تول کارونه تر سره ورسیدل-ـدَ احرام ټولې پابندئ ختمې شوې- ښځه هم حلاله شوه-ـدَدې نه فارغیدو نه پس منیٰ ته تلل دي اؤ هلته دوه ورځې نور قیام کول دي- ـدې دوارو ورځو کښې درې واړه شیطانان زوال نه پس پۀ کوتکانړیو ویشتل دي- ـ

خپله خیمه کښې یا مسجد خیف کښې دَ ماسپښین نمونځ ادا کولو نه پس بیا د شیطانانو ویشتلو ته تیاریدل دي- پۀ لاره کښې ټولو کښې اول وړوکے شیطان راځي - ـدَدۀ هم دغه شان ویشتل دي لکه څنګه چې غټ شیطان ویشتلے شوے ؤ-ـ پۀ هر کاڼي دا وییل پکار دي-

بِسمِ اللّٰہِ اَللّٰہُ اَکبَر، رَغمًا لِلشَّیطَانِ وَرِضًی لِلرَّحمَان

چې کاڼړي پوره شي نو بیا لږ ډېر ته راتلو نه پس مخ پۀ قبله ودریدل پکار دي- ـ توبه استغفار کول پکار دي اؤ دَ درود شریف نه پس دعا کول پکار دي- ـمنیٰ کښې دا دوه ورځې پاتې کیدل دَ احنافو پۀ نزد سنت دي اؤ دَ بعضو امامانو پۀ نزد واجب دي- ـآخر ولې دَ مکې مکرمې غوندې مبارکې زمکې نه خلق ویستلے شي اؤ دلته پۀ میدان ئې کښېنئ؟ ـداسوال کۀ یو فلسفي وکړي نو خیر ګني نو عاشق دا سوال نۀ شي کولے ځکه هغه خو دَ حال پۀ ژبه ګویا داسې وایي:-

حضور دلته کښې به ناست وو ورسره هم صحابیان
دوه څادرو کښې سرتور سر دَ منیٰ پۀ دې میدان

دا حالت دَ تقدس دے اؤ دا دومره سادګي
پۀ بل ځائے کښې چرته دا ملاو يدے شي يم حيران

يو تاريخ دے يو مقام دے دا منیٰ اؤ مناسک دا
برکات دَدې بيشماره اؤ دَ حج روحِ روان

نظارې دَ بندګۍ اؤ دا دَ عشق ښکلے انداز
چرته بل ځائے به ملاؤ شي زما نشته دے ګمان
دا ازاد روح چې زمونږ دے نفس تړلے بند پۀ بند
مونږ ازاد لۀ نفس شبيره کۀ لږ شو پۀ دې مکان

پۀ دولسم دَ ذي الحجې حاجي ته دا اختيار ورکړے شوے دے کۀ دے ديارلسم ته پاتې کيږي اؤ کۀ يو ورځ بله رمي کول غواړي يا دے مکې مکرمې ته تلل غواړي- ـپاتې کيدل مستحب دي اؤ د تلو اجازت دے- ـکۀ تلل غواړي نو بيا به دے دَ منیٰ نه دَ نمر دَ پريوتو نه مخکښې مخکښې وځي- اوس پہ دوی صرف طواف وداع واجب دے نور هرڅۀ مکمل شو- البتہ دَ عاشقانو خبره بيلہ دہ- - هغوی خو صرف دا لټوي چې زما دَ محبوب څۀ خوښه ده نو دَدوی دَ پاره دَ منیٰ يو ورځ ميلمستيا نوره پرته ده ـ- ښۀ پۀ ارام دې دلته کښې شپۀ تيره کړي- دَ زوال نه پس دې شيطانان پۀ کوتکانيو وولي اؤ بيا دې مکې مکرمې ته روان شي- ـ بعضې خلق پۀ دولسم دَ ذی الحجې دَ تلو پۀ منډه کښې سامان پۀ سر مکې مکرمې ته روان شي- ـدَدی

پهٔ وجه ئې وخته رش جوړ شي اؤ حادثې وشي- کاش چې پهٔ دې مونږه پوې وے- هم سهولت هم ثواب- -شاعر هم غالباً څهٔ داسې لګيا دے-

دَمحبوب پهٔ اشارو کهٔ څوک شي پوې اؤلږ هښيار شي
ديارلسم دَ ذي الحجې ته پهٔ منیٰ کښې به حصار شي

واجب نه ده مستحب ده پهٔ منیٰ کښې يو ورځ نوره
محبت باندې به پوې شي کهٔ لږ زړهٔ دَ چا بيدار شي
دَ مکې ښار مبارک دے هلته تلل ډېر مبارک دي
خو ديار خوښه چې داده چې تاخير پکښې اختيار شي

ولې تا باندې غدیٰ ده کهٔ يو ورځ نور تهٔ شې پاتې
هم خرماده هم ثواب دے کهٔ پهٔ مادې څهٔ اعتبار شي

کهٔ دې حج نفلي وي بيا خو دَ ثواب طمع ده غوره
اے شبيره بيا نو وايه دا غزل به دې پکار شي

پهٔ ديارلسم د ذي الحجې دَ زوال نه مخکښې هم دَ شيطانانو دَ ويشتلو اجازت دے خو زوال نه پس ئې ويشتل مستحب دي لکه څنګه چې شاعر وائي-

کهٔ تيار شو پهٔ سنتو د عمل مونږه محنت ته

وي به دا خوش نصيبي مو ، شو نزدې به نور جنت ته

مونږ رمي دَ ديارلسم كۀ دَ زوال نه پس شروع كړو
نور ثواب به راملاؤ شي بيا ئې ګوره بركت ته

كۀ څۀ لږ پۀ انتظام كښې مشكلات هم پۀ دې كښې وي
لۀ همت څنې كار واخله دا لار تلي سعادت ته
رب دے تاته عطا كړے لږ دَدې نه تۀ كار واخله
سستي پرېږده ځان لږ چست كړه ترجيح وركړه عبادت ته

هر مشكل پۀ دې اسان شي اے شبيره دَ كارونو
بس پۀ دې كښې كۀ تاوركړه څۀ ترجيح لږه سنت ته

مستحب څۀ شے دے۔خوښ كړے شوے، دَ چا ؟ دَ الله تعالىٰ۔ څنګه ؟ مكې مكرمې ته دَ تلو نه هم ۔عاشق صرف دَ محبوب رضا غواړي۔هغۀ ته څۀ نور څۀ نۀ ورځي لكه څنګه چې!

كمال دَ عشق دے دا دَ خپل محبوب خوښلے ته كتل كوه
هغه چې دې ودرئ نو نور څۀ مۀ كړه ودريدل كوه

چې چپ شه درته وائي نو دا خپلې شونډې وګنډه

چې خوښې ئې وي خبرې ستا ،خبرې بيا کول کوه

کۀ غواړي وقار ستا لۀ خوا جوړ ځان نه پروقار کړه تۀ
کۀ خوښ ئې زيليدل وي ستا ، هر وخت بيا زيليدل کوه

کۀ غواري ستا نه مينه نو پۀ مينه ئې ور خوږ شه تۀ
کۀ غواړي لۀ ستا ويره نو ډېر زيات ترې ويريدل کوه

ته ئې چې دَ هغۀ نو دهغۀ دَ پاره ژوند کوه
اؤ دې سره پۀ مينه دَ هغۀ بيا مړ کيدل کوه

داسې حاجيان چې دَ زوال نه پس رمي وکړي نو هغوي دې حرم ته لاړ شي اؤ دَ حرم دَ قرب نه دې تر هغې مستفيد کيږي چې تر څو ئې الله مقدر کښې ليکلي وي-يو خبره ياده ساتل پکار دي چې هلته دَ اجرونو يو سل اؤ شل حصې دي- پۀ دو کښې شپيتۀ دَ طواف دَ پاره ، څلويښت دَ نمونځ دَ پاره اؤ شل حصې صرف خانه کعبې ته دَ کتو دَ پاره مختصې دي-خوش قسمته خلق هغه دي چې دَ وخت قدر کوي-اؤ پۀ فضولو ګرځيدو وخت نۀ ضائع کوي-دَ فضول ګرځيدو نه ارام بهتر دے اؤ چې ارام وشي نو کار بهتر دے-لږ بهر وګورئ څنګه حرم ته قافلې رواني دي-

دَ حرم پۀ لور روانې قافلې دي

دَ رحمت دَ خدائی عظیمې سلسلې دي

بوډا ګان ځوانان سړي اؤ ښځې هر څوک
دَ بخښنې پهٔ امید ټول دلته کښې دي

لارې ډکې دَ حرم دي ټول روان دي
دَ دې ټولو چې وچتې حوصلې دي

ملک و قوم ژبه جدا جدا دَ ټولو
پهٔ یو رخ ځي دا عجئې نظارې دي
ټول پهٔ نور کښې دَکعبې سر تر پښو ډوب دي
دریابونه دَ رحمت چپې چپې دي

فلسفه نهٔ ده دَ عشق دي دا خبرې
دا دنیا بدله ، نورې اندیښنې دي

زړه بادشاه دے ، دا خپل زړهٔ دلته کښې جوړ کړه
دا دَ زړهٔ دَ جوړیدو ښکلي موقعې دي

دَ خدائ کور سره دا زړهٔ دَ خدائ کور جوړ کړه
تاته څهٔ پته صفات کوم پهٔ دې کښې دي

دلته څهٔ شوي ؟ دَ څهٔ نه څهٔ شے جوړ شو
دَ الله نخښې چې دلته کښې پرتې دي

خدایه اوس زړۀ دَ شبیر هم دلته جوړ کړې
چې بیان کړي ستا دَ مینې چې قصې دي

خانه کعبې ته کتل پکار دي اؤ دَ مینې جامونه څښل پکار دي-دا یوه موقع ده چې ضائع چرته نۀ شي-

نوراني کعبه خپل زړۀ کښې اوس کیږدم زۀ
دَ کعبې مخې ته اوس به چې کښېنم زۀ

دَ رحمت یو سمندر چې موجزن دے
غواړم دا خپله حصه ترنه واخلم زۀ
زما مخکښې کریمي ده ستا اے ربه
ستا دَ در نه خالي لاس به څنګه ځم زۀ

زما مخکښې دَ رحمت چې پرناله ده
خدایه غواړم چې پۀ دې ښۀ ولامبم زۀ

لیوني دَ دې دَدې نه چاپیر چورلي
دوی سره غواړم چکر ولګوم زۀ

خدایه ماته تۀ نصیب مقام دَ عشق کړې
چې هر وختې تعریفونه ستا کوم زۀ

ستا پۀ در باندې شبیر بېنواپروت دے
فیصله وکړې چې بیا بیا به راځم زۀ

کۀ تاسو حج نه مخکښې مدینې منورې ته نۀ يَئ تلي چې دَ هغې

وخت راشي يا تاسو خپل وطن ته روانيږئ نو ډېر په سوز سره طوافِ
وداع وکړئ۔

# طواف وداع

دَ طوافِ وداع وخت دے لۀ مکې زۀ روانيږم
وکړم څۀ زۀ ۔پۀ دې وخت کښې۔پريشان يم نۀ پوهيږم

دَراتلودلته دَبيابيا خواست۔پۀ زړۀ مې څرګند پروت دے
زۀ قابل خو دَدې نۀ يم۔ خو بيا هم ترې نۀ صبريږم
دَراتلو پۀ وخت کښې څومره زۀ۔خوشحال خوشحال راتلمه
اوس دَ غم طوفان راغلے کوزه بره پکښې کيږم

زړۀ مې غواړي چې کعبه دا خپله غيږه۔کښې راواخلم
دا زما بس ليونتوب ۔دے صحيح نه ده ، ښۀ پوهيږم

دَمات زړونو سره مل دے۔خپل مات زړۀ ورته کړه مخکښې
بس زمونږ نه۔ دې راضي شې اؤ بيا بيا چې حاضريږم

زه شبير پۀ غم ککړ يم دَ الله دَ در ملنګ يم

ما دې خپل کړي همیشه بس صرف دې وته ترسکیږم

# مدینې منورې ته روانیدل

دَ حضور- ﷺمبارک ارشاد دے چې څوک حج ته لاړشي اؤ ماته رانۀ شي نو دۀ ماسره جفا وکړه- دَ ـمثال پۀ طور کۀ یو کس انګلینډ نه څۀ کار دَ پاره لاهور ته راشي اؤ پۀ فیصل اباد کښې ئې پلار وي دَ هغۀ سره ملاؤ نۀ شي اؤ واپس انګلیند ته لاړ شي نو دا پلار به ئې څۀ وائي-دَدې دپاره دَ مدینې منورې ته دَ تلو پۀ وخت نورو تیاریو سره سره خپل زړۀ هم تیارول پکار دي یعنی دَ حضور ﷺ سره دَ ملاقات دپاره -ـ بعضې خلق خوا مخواه د فضیلتونو قصې شروع کړي- هغه خلق دا باور وکړي چې الله تعالیٰ مکه مکرمه کښې دے اؤ حضور ﷺ پۀ مدینه منوره کښې-دې بیوقوفانو ته دا وئیل پکار دي چې الله تعالیٰ خو هر ځائے کښې دے اؤ حضور-ﷺ پۀ مدینه منوره کښې دے-ـ مکه مکرمه هم دَ الله ده اؤ مدینه منوره هم دَ الله ده- ـمدینې منورې ته د تلو دَپاره دَ حضور ﷺ دغه ارشاد مبارک کافي دے-دَدې پاره عقیده خو پۀ مدینې منورې ته پۀ تلو کښې زیاته مضبوطه ده- ـتر څو پورې چې دَ فضیلت خبره ده نو الله تعالیٰ فرمائۍ چې پۀ دې کښې دَ حضور پۀ اتباع کښې دَ خدائۍ تعالیٰ محبوب کیدل دي نو اوس سوچ وکړۍ چې دَ حج نه پس حضور پۀ مکه مکرمه کښې پاتې شو اؤ کۀ مدینې منورې ته

لا ړل۔اتباع پۀ څۀ کښې ډېره ده۔دَ الله تعالیٰ محبوبیت پۀ څۀ کښې زیات دے۔العیاذ بالله زما مقصد دَ مکې مکرمې فضیلت کمول نۀ دي بلکې صرف دَ یو تفریط اصلاح ده ګني زمونږ مسلک خو دادې چې! "لۀ مکې تلل راته ګران دي مدینې ته هم تلل غواړو۔" البته پۀ جنت البقیع کښې دَ دفن کیدلو دَ ارمان خبره بله ده۔

بس دَ نور اؤ دَ سرور دے ، یو باران پۀ مدینه کښې
نزدیکت باندې مې زړۀ دے
، ډېر۔فرحان۔پۀ مدینه کښې

دَ الله فضل پۀ مونږ دے ،چې دا ځائےئې رانصیب کړو
خوشحالیږم چې محسوس شي ،راته ځان پۀ مدینه کښې
شین ګنبد راته ښکاریږي ، دَ چتریو لاندې ناست یم
یم ئې فکره چې زما دے ، ټول جهان پۀ مدینه کښې

دنیا ټیک ده ما راکاږي ، ۔خپل طرف ته دا فطرت دے
خو دَ زړۀ دَ جهان وروره ، دے جانان پۀ مدینه کښې

پۀ ژوندني اتباع ئې ، مې نصیب شي پۀ هر حال کښې
خو دَمرګ ۔مې اے شبیره ، دے ارمان پۀ مدینه کښے

# دَ مدينې منورې سفر

اے زړګيه لږ په خيال څه، مخکښې ستا کوم يو سفر دے
هغه ځائے ته ئې روان ته، چې کوم ځائے خير البشر دے

اے زړګيه خوش نصيب ئې ، هغه ځائے ته ته روان ئې
چې کوم ځائے کښې وسيدونکے،دَدې ټول جهان افسر دے

اے زړګيه رحمة اللعالمين ته ته ورځې نن
نعمت دا دے ثومره لوئے دا مې دَسوچ ځنې بهر دے

اے زړګيه ورځې ته نن ، چې محبوب دَ پاک الله دے
په امت خپل ډېر مين دے ،اؤ شفيع ئې په محشر دے

اے زړګيه نن سلام دَ حاضرئ به دې نصيب شي
ته ورځه ، خوشحال روښانه دَ شبير نن مقدر دے

مدينه منوره کښې ډېر په ادب سره وسيدل پکار دي اؤ زړه دَ حضور مينې نه هر وخت ډک ساتل پکار دي۔ دَمدينې منورې يوه يوه ذره يو تاريخ لري۔ ۔دَدلته يوې يوې ذرې سره مينه لرل دَ فطرت تقاضا ده۔ په مسجد نبوي کښې دَدې ضرورت نور هم زيات شي او په روضه

مبارکه خو دَ حاضرئ خبره بالکل جدا ده- دا معامله چونکې دَ زړهٔ ده نو ځکه چې دَ چا زړهٔ کښې دَ حضور مينه وي نو هغه به دا ادب پهٔ خپله پيژني -البته کله کله غلط فهمي هم کيدے شي- بعضې وخت کښې انسان دَ مينې ليونتوب کښې دَ شريعت دَ آدابو خيال ونهٔ شي لرلے- دغه وخت ضرورت وي دَ رهنما- -دَدې دَ پاره دَ هغه ځائے ادب ښهٔ ايزده کول پکار دي اؤ دَ مينې دا کارونه هم د شريعت دَ تقاضو مطابق کول پکار دي- -الله تعالىٰ دې مونږ ته دَدې پوهه نصيب کړي -آمين ثم آمين-

يوه خبره ياد ساتل پکار دی چې الله تعالىٰ ته زمونږ دَ زړهٔ اؤ دَ حال ښه پته ده-

دويمه خبره داده چې دلته عاشقان پهٔ لکونو راغلي دي-ددوی پهٔ زړونو کښې هم څهٔ ارمانونه دي-

دريمه خبره داده چې مستحب دَ الله تعالىٰ خوښ عمل وي ليکن دَدې پهٔ پاتې کيدو باندې الله تعالىٰ نهٔ ناراضه کيږي-دَدې پهٔ مقابله کښې و اجب دَ الله تعالىٰ خوښ عمل هم دے اؤ دَ هغې پهٔ پاتې کيدو باندې الله تعالىٰ ناراضه کيږي هم، پهٔ دې وجه کهٔ واجب اؤ مستحب کښې مقابله راغله نو واجب اخستل ضروري دي--

څلورمه خبره داده چې دَ حضور ﷺ خپل امت سره ډيره مينه ده دَدې دپاره دَدې خيال هم لرل پکار دي چې هسې نه زهٔ چرته دَ حضور ﷺ دَ امت دَ پاره دَ زحمت باعث جوړ نهٔ شم-

پنځمه خبره داده چې دا ډير وچت ځائے دے کهٔ دلته هم مونږ دَ خپل مفاد دَ پاره دَ نورو خلقو حقونه غصب کول شروع کړل نو دَدې

ډېره سخته سزا کیدے شي۔

پهٔ دې پنځو خبرو لږ غور وکړئ اؤ بیا لږ دَ خپل زړهٔ نه تپوس وکړئ چې ریاض الجنت کښې ځائے نیسلو دپاره پهٔ جمات کښې منډه وهل جائز دي؟

کهٔ پهٔ ریاض الجنت کښې ځائے چاته ملاؤ شي اؤ دوه رکعته نمونځ هغهٔ کړے وي اؤ ډېر خلق دوه رکعته نمونځ دَ پاره پهٔ انتظار کښې ولاړ وي نو پهٔ داسې حالت کښې هلته نور وخت تېرول جائز دي؟۔

ریاض الجنت ته رسیدو دَ پاره دَ نمونځ ګزارو خلقو مخکښې تېریدل جائز دي؟۔

دَ مسجد نبوي پهٔ لاړو کښې نفل نمونځ کول جائز دي۔؟

لږ دَ خپل زړهٔ مفتي راژوندے کړئ نو دَ ډېرو سوالونو جوابونه به درته خپله ملاؤ شي۔ان شاء الله۔۔

لږ راویښ کهٔ مو دَ زړهٔ کړلو مفتي
شي معلوم به ، کوم غلط دي کوم صحیح

خپل حساب مو خپله وکړئ پهٔ دې حال کښې
سوچ لږ وکړئ دَ مسجدِ نبوي

ځائے وچت دے څومره دا اؤ زمونږ منډې
بیا پهٔ دې کښې دا زمونږه ئې حسي

چې مو وکړو نمونځ رياض الجنت کښې نو
اوس پاسئ چې دا نور خلق ئې هم وکړي

کۀ غلط لۀ مونږه څۀ شوي شبيره
اوبښکې توې کړه اوس پۀ دې چې معاف شي

دا ياد ساتل پکار دي چې پۀ مسجد نبوي کښې لۀ هر ځائے نه سلام کيدے شي- دَدې د پاره پۀ مسجد نبوي کښې هر وخت پۀ درود و سلام کښې ځان مشغول ساتل پکار دي- ـتلاوت هم کول دي- ـــبهتره داده چې دلته کوم تلاوت نصيب شي دَ هغې ايصال ثواب حضور ته دې وکړے شي-

اوښکې سترګو کښې مې دي پۀ-زړۀ مې غم دے
چې ماکړے پۀ خپل ځان ډېر زيات ستم دے

بيا راتلل دَ خدائ پۀ فضل مې نصيب شول
تيرې لاړلې پۀ زړۀ مې صبحدم دے

عشق خو عشق دے اوس دَ حسن زور وګوره
چې دَ چا دپاره دا ټول زير و بم دے

اتباع باندې ئې هر څۀ ملاويږي
خدائ پۀ نزد ئې مقام څومره محترم دے

ګناهګار ؤ سياهکار دلته زۀ راغلم
پۀ اميد دَ شفاعت ـمې زړه محکم دے

زه شبير ولاړ پۀ در چې دَ کريم يم
دَ کريم نه مې اميد ډېر دَ کرم دے

اؤ دغه شان نور !

حاضر دلته هميشه ستاسو غلام وے
اؤ پۀ تاسو ئې لکاؤ درود سلام وے
راويښ بيا مې شو قسمت شومه حاضر نن
تل مې ستاسو قدمونو کښې مقام وے

ډکه ده لۀ ګناهونو مې جولۍ خو
شم معاف پۀ ما دَ خدائ دغه انعام وے

ختمه شي دَ ګناهونو سلسله مې
اؤملاؤ راته دَ خدائ دَ مينې جام وے

ستا پهٔ مينه اتباع مې ستا نصيب شي
بچ کيدل لهٔ بدعتونو مې مدام وے

شبير ډېر اميد راوړے ستا پهٔ در دے
دَ شېطان خوښه ده دا چې دے ناکام وے

لږ وګورئ شاعر دَ مدينې منورې پهٔ باره کښې څهٔ وائي-

خور شوے پهٔ فضا دَ مدينې کښې چې ادب دے
ګفتار پهٔ پست اواز دے دا
منظر ډېر زيات عجب دے

خيال زړه کښې دَ هغهٔ لرې منزل ئې مدينه ده
راښکلے شي راښکے شي کهٔ عجم دے کهٔ عرب دے
چې زړه مې ور هديه کړهٔ دَ اجرونو بيا سودا څهٔ ؟
کافي ده دا چې دا حاضرئ بس يو سبب دے

يم ناست جمات کښې زړهٔ مې پهٔ طرف دَ هغهٔ ، اورې
سلام دَ حاضرئ چې دلته کښې زما پهٔ لب دے

ديدار دَ خدائ ، لهٔ خدايه ولې ونهٔ غواړم دلته

آقا زمونږ قاسم دے اؤ معطي زمونږه رب دے

دَ دوست دَ خدائ دَ کور زائيره خيال کښې دا لره تۀ
چې حسنِ ادب دلته کښې کوم دے حسنِ طلب دے

اوس واستوه شبيره پرې سلام دَ حاضرئ چې
دي دلته دا جائز ، دغه طريق مو دَ مذهب دے

# پۀ رياض الجنت کښې حاضري

پۀ رياض الجنت کښې دَ نمونځ کولو ډېر ثواب دے۔ ۔دې ته دَ جنت ټکړه ويئلي شوي دي۔۔خو دا ټول هرڅۀ هله ملاويږي چې بنده پۀ شريعت روان وي ګني دَ ثواب پۀ ځائے ګناه هم کيدے شي۔۔ دَدې پۀ باره کښې يو څو اشعار۔!

څۀ انتظار اؤ پۀ ارام سره
اؤ دَ ادب دَ اهتمام سره

داخل شه تۀ بيا پۀ ټکړې دَ جنت
مګر سکون اؤ احترام سره

نمونځ دوه رکعته دلته وکړه ښکلے

دَ نمونځ ګزارو دَ اکرام سره

د نمونځ ګزارو مخکښې تېر نهٔ شي تهٔ
لږ ګرزېدل کوه تهٔ پام سره

نمونځ کوه ډېر تهٔ مختصر دلته کښې
ښکلے چلېږه دَ نظام سره

دَ ټول امت وابسته زړه دے ګورې
دَ دغه ځائے دَدې مقام سره

ځان باندې ظلم اے شبېره مهٔ کړه
هر کار کوه پهٔ انتظام سره

# پهٔ زیارتونو حاضري
## دَ قبا شان( دَ زیارت پهٔ وخت)

اے قبا! ستا زهٔ شان کړمه څنګه بیان
چې شاهد دے پهٔ تا دَ خدائ دوست اؤ قران
ستا نسبت دے وچت ستا نسبت دے تقویٰ

مات جمات شو هغه مقابل چې ؤ ستا
وايم دا پاک الله دے پۀ تا مهربان
اے قبا! ستا زۀ شان کړمه څنګه بيان

وو پۀ پاکو کښې پاک نمونځ ګزار چې وو ستا
کاش چې داسې نصيب شي اے خدايه زما
شم چې پاک چې پاکي خوښوي رب سبحان
اے قبا! ستا زۀ شان کړمه څنګه بيان

اے الله کړې زما دا تقوىٰ تۀ نصيب
چې زما پۀ کتو شي خوشحال ستا حبيب
کړې شبير تۀ لۀ فسق و فجور پۀ امان
اے قبا!ستا زۀ شان کړمه څنګه بيان

جنت البقيع کښې حاضري دَ خدائ دَدوست نه ډيره زياته ثابته ده۔۔ پۀ دې کښې اهل بيت طهارؓ،امهات المؤمنينؓ اؤ لوئے لوئے صحابه کرامؓ دفن دي۔ ۔پۀ دوی سلام پيش کول پکار دي۔ لکه!

پۀ مدينه دَ مدينې پۀ يخ بادونو سلام
پۀ کاڼيو بوټو فضاګانو اؤ يادونو سلام

دَ شين ګنبد پۀ نظارو کښې چې ډوب شوي کوم دي
لۀ اوښکو ډک دَ عاشقانو پۀ مخونو سلام

کوم چې تېر شوي پهٔ مسجدِ نبوي کښې زمونږ
پهٔ هغه پټ نور کښې زمونږ خپلو وختونو سلام

دا دَ بقیع چې زیارتونه دي ، دي څومره عظیم
دَ قربانۍ اؤ دَ عظمت پهٔ یادګارونو سلام

چې کوم دي خپل زمونږ دَ خوږ نبي پهٔ هغو سلام
زمونږ دَ میاندو پهٔ بقیع کښې پهٔ قبرونو سلام

زمونږ دَ خوږ نبي چې لوڼه دي دفن دلته کښې
وي دې دَ دوئ پهٔ مرتبو اؤ مقامونو سلام

اؤ چې سرداره دَ جنت دَ ښځو ده سیِّده
دَ حیا ډک چې دَ هغې وو پهٔ کارونو سلام

اؤ پهٔ یو کوټ کښې چې ودې دي دَ حضور ﷺ تروریانې
دَ حضور ﷺ ټولو دَ رشتې پهٔ نسبتونو سلام

اؤو جماته چې خیمې دَ نیازلو وې دا
دَ مقدس هستو پهٔ داسې نشانونو سلام

وجد کښې راغلو دَ نبي ﷺ پۀ مخ کښے غر دَ احد
لۀ تکويني محبت ډک پۀ داسې غرونو سلام

اؤ پۀ ءجعفر باقر حسن عباس زين العابدين
دَ اهل سنت دَ بقيع پۀ دے گلونو۔سلام

بالکل پۀ سيد کښې دَ روضې راځي مدفن چې دَ چا
وي پۀ عثمان ذي النورين دې زمونږ دَ زړونو سلام

هم آدم بدر خليل اؤ زکريا دي دلته
دَ اهل بيت نزدې پۀ دې پاکو روحونو سلام

خواه کښې دَ قبر دَ سعيد الخدري پروت دے زمونږ
صوفي اقبال دَ هغوی هم پۀ ښو کارونو سلام
امير حمزه چې دے سردار دَ شهيدانو باندې
وي دې سلام دَ شهداء پۀ زيارتونو سلام

نخښه دَ پاکو خلقو ده چې يعني مسجد قبا
تعريف شده پۀ هغو پاکو عادتونو سلام

دا قبلتين مسجد چې نخښه دَ اتباع ښکارېږي
پهٔ ملاؤ شوؤ دې عظيم بشارتونو سلام

کوم چې دَ عشق پهٔ ژبه دلته مؤمنان پيش کوي
له مينې ډک پهٔ هغه پيشو سلامونو سلام

اف زهٔ شبير او دې دربار کښې حاضري دا زما
وي دَ حضورﷺ دې پهٔ کلهمو نسبتونو سلام

# الوداعي سلام

کله چې دَ مدينې منورې نه دَ تلو وخت راشي نو دَ الوداعي سلام پهٔ وخت دې دَ خپل محبت ښهٔ جائز اظهار وکړے شي-۔دَ دوباره دَ حاضرئ دپاره دې دعا هم دغه وخت وکړے شي اؤ دَ مدينې منورې نه دَ رخصتيدو پهٔ وخت کښې دې زړهٔ دَ درد نه ډک وي اؤ پهٔ ژبه دې درود شريف جاري وي-۔

دَ فرقت وخت اخر راغے غم پهٔ ما باندې شو سور
زړهٔ زما پهٔ غم غمژن دے د غم بيا راغللو دور

پهٔ ادب سره لهٔ دې ځايه رخصت شمه خاموش يم
د الله دَ امر وشوه اشاره پهٔ داسې طور

زړه دَ دې ځائے سره وتړم دَ مينې پۀ زنځير
چا پوې کړمه پۀ دې باندې ځکه نۀ کوم پرې شور

دا دعا ده چې بيا بيا دلته زما راتلل منظور شي
دے ارمان مې چې اخر کښې زما جوړ شوے دلته ګور

اے شبيره تۀ بنده ئې حق ادا دَ بندګۍ کړه
پۀ رضائې تۀ راضي شه هيڅ بې هيڅه مۀ کړه زور

## دَ حج پۀ دوران کښې دَ تصويرونو ويستلو يو لعنت

دا خراب عادت نن سبا ډېر عام دے چې عين دَ جمُعې پۀ وخت دَ خطبې دوران کښې بعضې حاجيانِ ودرېږي اؤ تصويرونه جوړوی۔۔دې ځل دَ مسجد نبوي امام پۀ دې باندے نکير وفرمايئلو چې دا حرام دي ليکن خلق دَ خودنمائۍ دَ جذبې نه داسې مجبور وي چې هيڅ خبره پرې اثر نۀ کوي۔ ۔دَدې فقهي ممانعت خو هم غټه خبره ده ليکن دَدې نه علاوه ډېره غټه خبره داده چې پۀ داسې موقعو چې پکار دي چې زړۀ دې صرف الله تعالیٰ طرف ته متوجه وي۔ دَ زړۀ داسې لهو لعب طرف ته متوجه کيدل ډېره دَ خطرې خبره ده لکه چې شاعر وائې۔

زړۀ کښې ګند چې کوم يو پروت وي پۀ نظر هغه راتلل کئ
نفس کښې شر چې کوم موجود وي هغه خلق نښلول کئ

دَ کعبې پهٔ نزدیکت کښې پهٔ طواف کښې مناسک کښې
پوز جوړۍ دې کښې مشغول وي تصویرونه وباسل کۀ

دغه حج خو عبادت دے تکمیلي مظهر دَ عشق دے
نو پهٔ دې کښې دَ دنیا خیال زړه کښې څنګه راوستل کۀ

ده پکار چې خبردار یو لۀ دښمن خپل مونږ هر وختې
چې دے څنګه دا اوقات زمونږ چې دي ضائع کول کۀ

کاش حاجي لږ ځان خبر کړي دَ قیمت نه دَ خپل وخت هم
نقصان څومره دَدۀ کیږي ، اؤ پرې ځان نۀ خبرول کۀ

پۀطواف کښې مودې تن وي اؤوي زړه مودې بل ځائے کښې
څنګه زړۀ دے چې موبائیل سره ځان مشغولول کۀ

دا طواف خو یو اظهار دَ تعلق دَ خدائۀ سره دے
پۀ طواف کښې سکون څنګه غیر سره محسوسول کۀ
دا زړګے دې لږ بلد کړه دَ هغۀ دَ نوم سره چې
دَ هغۀ سره چې وي هغۀ سره مشغولیدل کۀ

زړه دې څنګه وي شبیره دا چل هم ایزده کول دي
لږ معلوم ئې کړه چې څوک دے چې دا زړونه سمول کۀ

# دَ نمونځ پهٔ مسٔلو کښې غفلت

بعضې حاجیان حج خو کوي لیکن دَ نمونځ پهٔ مسٔلو کښې ډېر دَ غفلت نه کار اخلي۔ ۔دَدې غټه وجه دا معلومیږي چې هلته خو چونکې دَ هرې طبقې خلق راځي، ۔پهٔ دې کښې بعضو خلقو ته دَ مسٔلو پته نهٔ وي اؤ بعضې ئې پرواه وي۔ ۔دَدوئ پهٔ کتو کتو نور خلق چې کوم پهٔ خپل وطن کښې احتیاط نه کار اخلي هغوئ هم ئې پرواهي شروع کړي۔۔لکه چې شاعر وایئ۔!

دین تباه کړو خلقو خپله پهٔ سستئ
چې کارونه کړي دَ خپل نفس پهٔ مرضئ

چې صفحه دَ طهارت وه وشلیدله
اهمیت نشته دَ نمونځ ، نهٔ دَ پاکئ

دَ اتصال اهمیت نشته دَ صفونو
چې تپوس ترې وکړې ځان بیا غصه کئ
خشوع نشته دَ عملِ کثیر حد نشته
موبائیل خو زړه پهٔ نمونځ کښې هم لوبئ

دَ سستئ علاج چستي ده اے شبیره
پهلوان دے چې څوک خپل نفس راپرزئ

# دَ وادي جن مغالطه

مدينې منورې نۀ تقريباً 35 کلوميتره دَ وادي بيضاء پۀ نوم يوه وادي ده ۔۔ دا نن سبا خلقو پۀ وادي جن مشهوره کړې ده۔ ۔دَ دې پۀ باره کښې دا خبره مشهوره شوې ده چې پۀ چړاۍَ باندې بند انجن سره ګاډے تقريباً 100کلوميتره رفتار باندې چليږي۔۔دَ ګاډو والو خو مزې شوې اؤ خلق وينې چې مدينې منورې نه ګاډي پۀ يو شاړ سړک روان دي۔۔الله تعالیٰ پۀ هرڅۀ قادر دے ليکن دَ حديث شريف نه دا معلوميږي چې تحقيق نه بغير خبره بل ته ويئل دروغو کښې راځي نو ځکه زمونږ پۀ زړه کښې دا خواهش راپورته شو چې دَدې صحيح تحقيق وشي۔ که څوک تپوس وکړي چې ورته دَ صحيح خبرې کولو قابل شو۔۔

جنيد صاحب زمونږ ملګرے دے اؤ مدينه منوره کښې کار کوي ۔هغۀ ته مو ووې چې ګاډے راولي چې هلته خپله لاړ شو اؤ تحقيق وکړو۔ ۔ما خپل دوه ملګري ډاکټر مدثر اؤ جناب زين العابدين صيب ځان سره کړل اؤ دَ جنيد صاحب پۀ ګاډي کښې وادي بيضاء ته لاړو۔۔ دَ خپل ځان سره مو يو ګلاس ،اوبه ،يو پيمانه اؤ يو قطب نما واخستل۔۔ چې کله خپل مطلوبه ځائے ته ورسيدو نو مونږه وکتل چې هلته ختم دے۔ مدينې منورې ته چې کوم سړک راځي نو هلته اول تيزه اترايۍ راځي بيا لږه چړائي راشي اؤ ورپسې بيا تيزه اترايۍ شروع شي۔ دا بيا تر

دیرشو کلومیترو پورې سړک دے ۔- ۔پۀ دې باندې مو پۀ نیوټرل کښې ګاډے پرېښو نو پۀ ورو ورو روان ؤ۔- ۔خبره عجیبه وه خو تجربه اوس کول وو۔-۔ګلاس مو دَ اوبو نه نیم ډک کړو۔- دَ سړک دواړو طرفو ته مو پۀ ګلاس کښې دَ اوبو ژورتیا دَ پیمانې پۀ ذریعه معلومه کړه نو معلومه شوه چې مدینې منورې طرف ته ژورتیا0.2 سنټي میټره زیاته ده ۔- ۔ دَدې نه پته دا ؤلګیده چې مدینې منورې طرف ته چړایئ نۀ وه بلکه اترایئ وه ،البته دَدې زاویه صرف تقریباً دوه درجې معلومه شوه۔-۔ تقریباً شلو میټرو پورې دا اترایئ دغه شان لړه وه لیکن دې نه پس مو چې حساب وکړو نو دا تقریباً پنځۀ درجې ته ورسیده ۔- ۔دغه ځائے کښې ګاډے هم تیز شوے ؤ۔ ۔-دَ ټول تحقیق نتیجه راووته چې مدینې منورې طرف ته چړایئ نه بلکه اترایئ ده۔ ۔ اول کمه اؤ بیا زیاته۔ ۔ ۔خلقو ته چونکې اول بظاهر چړایئ ښکاري نو چې ګاډے اول پۀ ورو ورو روان شي نو پۀ عالمَ تحیر کښې لاړ شي اؤ بیا چې واضحه اترایئ شروع شي



نو دَ عالم تحیر پۀ وجه ورته دَ هغې پته هم ونۀ لګي اؤ دَ زیاتې اترایئ پۀ وجه رفتار تر سلو کلومیټرو هم ؤرسي۔ ۔ پۀ دې دَ خلقو تحیر نور هم زیات شي۔ اؤ دغه شان دا دهوکه برقراره ساتلو کښې کامیاب شي۔ ۔

# اترايئ چړايئ څنګه ښکاره شوه؟

اګرچې پۀ تکنيکي بنياد دَ تجربې نه پس خو دا واضحه شوه چې مدينې طرف ته چړايئ نه بلکې اترايئ ده خو دَدې۔جواب ورکول پاتې دي چې اترايئ چړايئ څنګه ښکاره شوه؟ دا مغالطه ښو۔هښيارو خلقو چې بعضې پکښې مفتيان وو ته څنګه ولګيده؟ پۀ دې دَ پوهيدو دَ پاره تاسو دې مخامخ شکل ته لږ پۀ غور وګورئ- --پۀ ظاهر نظر به تاسو فوراً ووايئ چې دا خطونه خپلو کښې متوازي نه دي ليکن که پيمائش مو ددې وکړو نو تاسو ته به پته ولږي چې دا خو خپلو کښې متوازي دي- --دغې ته دَ نظر دهوکه يعنې optical illusion وييئلے شي- - -پۀ دې کښې دَ رنګونو فرق نه دا مغالطه لګي- - دغه شان دَ حقيقي افق اخفاء،دَ ماحول بې قاعدګي اؤ دَ نظر دَ فوري تبديلۍ اثر نۀ قبلول هم دغه اثر لري- - -دَ ختې پۀ وجه حقيقي افق غائب شۀ -، دوه تيزو اترايانو کښې لګه اترايئ دَ ماحول ئې قاعدګي ده نو دلته هم دغه دهوکه ولګيده- --

# دَ مغالطې نقصان۔

دَدې نقصان دادې چې خلق مدينه منوره پريږدي اؤ يو غير متعلق څيز کښې مشغول شي- - -شيطان دَدې موقعې نه فائده واخسته اؤ دَ ګاډو والو پۀ زړه کښې ئې وسوسه واچوله چې تاسو ته پکښې فائده ده اؤ بل طرف ته ئې دَ خلقو پۀ زړۀ کښې تجسس

پيدا کړو چې دا وګورئ څۀ شے دے بلکه دَ تقدس شکل ئې ورته ورکړۀ چې دا دَ مدينې منورې کشش دے - --بل طرف چې ځوک دَ سوچ نه کار اخلي هغوئ دَدې پۀ ذريعه دَ نيکانو خلقو چې ساده ګان دي پۀ باره کښې دا خيال اچولے شي چې دا کومې خبرې چې واقعي برکات دي دا هم دغه شان دَ خلقو دَسادګئ اؤ سطحي خبرې دي- - -الله تعالیٰ دې مونږ دَ شيطان دَ دَجل نه محفوظ کړي اؤ دَ شريعت پۀ طريقو مو دې ښۀ پۀ شرح صدر سره روان کړي -امين- --

# منظوم سفر نامه دَ حج

شروع کوم دَ خدائ په نوم دا کتاب-ژاړم
محبت مې شوے نصيب دا لۀ خدائ غواړم
دے "دَ مينې شاهراه" باندې موسوم شو
سفر دې کښې مو دَ حج داسې منظوم شو
لاره ده دغه دَ مينې مختصره
ده خوندناکه پرخطره پر اثره

زهٔ دَ دغې باغ ګلونه ټولَوم اوس
زهٔ خوشبو ئې ـهر طرف ته۔ خوروم اوس
چې معلومې راته شي دَ مينې لارې
اؤ پرې سمې شي زمونږه ورانې چارې
زما عقل چې خادم دَ کوم بادشاه دے
له هغهٔ باغي کيدل نقصان زما دے
دا باغي که زهٔ بادشاه ته سلامي کړم
زهٔ محفوظه به پهٔ دې خپله هستي کړم
زما زړه که وي مين پهٔ دې بادشاه نو
عقل خپل به زهٔ پهٔ دې کړمه فدا نو
چې شي عقل نوکر کله دَ دنيا
آخرت وغورزوي دے بيا پهٔ شا
ولوبړيږي پهٔ دنيا کښې دے خيرن شي
دَ دنيا پهٔ لذتونو دے مين شي
دے بيا ـصرف پهٔ دنيا کښې استعمال شي
پهٔ ظاهر ښکاري ښائسته خو بد ئې حال شي
له دې ـختو به اوس څنګه۔ راوتے شي
دې بادشاه ته به بيا څنګه نزدې تلے شي
مشکل نه دي تر بادشاه نزدې کيدل
خو به دهٔ ته پهٔ بادشاه وي مينيدل
محبت دَ عاجلې هم يو طاقت دے
دَ الله دَ مينې هم ډيرزيات قوت دے
چې غالبه دَ الله مينه پهٔ زړهٔ شي
بيا دا عقل ئې خادم شي هر څهٔ ښهٔ شي

غالب دغه عشق چې وي پهٔ عقل باندې
شي بیا۔مخکښې تلے هغه ۔دَ بادشاه وړاندې
نمونه کړل بادشاه څکه دا کارونه
چې پهٔ دغې شي غالب پهٔ عقل زړونه
زړه پهٔ حکم دَ بادشاه چې۔ عمل کاندې
عقل چپ به وي ولاړ دَ بادشاه وړاندې
نو پهٔ دې باندې بیا ۔عقل عقلمند شي
د ِبادشاه پهٔ نوکرۍ بیا۔ بهرهمند شي
نمونه پهٔ حج کښې دغه ښکاریدے شي
پهٔ دې باندې دَ مؤمن زړهٔ پوهیدے شي
څکه حج هم یو شاهراهِ محبت دے
دا دَ زړهٔ پهٔ عقل باندې حکومت دے
لهٔ بادشاه اخلي دا زړه رهنمائي
بیا پهٔ عقل ئې پهٔ زور نافذ کوي
رهبري کوي اعمال دَ عاشقانو
ګوتې خولهٔ کښې وي نیولي عاقلانو
دا کتاب دَ دغه عشق سفرنامه ده
دا وګوره دا دَ عشق یو خزانه ده
شو پنډۍ نه دَ حرم پهٔ لور روان
ؤ پهٔ مونږه باندې فضل دَ سبحان
کله فضل چې دَ رب دَ لُوري وشي
نو اسباب ټول برابر شي ، هر څهٔ ښهٔ شي
نو منزل مو وړومبینے ؤ پیښور
هغه ځائے نه مو ؤ فلائټ مقرر

پۀ ټکرو ټکړو کښې لاړو مونږه هلته
چې مو ګروپ اؤ ټول حاجيان جمع وو چرته
له نماښام نه پېښور ته مونږ روان شو
جهاز ليټ ؤ چې خبر شو پرېشان شو
پۀ کوم حال کښې نن سبا پي آئي اے دے
پۀ هر کار کښې ئې ظاهر اړے ګړے دے
پۀ وخت باندې جهاز نه شي چلولے
اؤ چې ليټ شي خلق نه شي خبرولے
داسې ښکارې ورکښې نيشته برکت
نو باعث دَدې کيدے شي کوم حرکت
دَ رمضان و حج دوی ورځو ته اسره کړي
پۀ دې ورځو کښې دوی زياته کرايه کړي
ښکاري داسې چې دَدغې نحوست دے
وتې دغې ادارې نه برکت دے
ورکوي دوی ته دنيا رعايت ټوله
کرايه زياتوي دلته ورته ګوره
خلق وايئ چې خدمت مو دَ دوئ وکړے
دَدوئ خيال دے چې حاجيان دې لوټ مو ښۀ کړے
ائر پورټ ته زمونږ تلل سبا سحر وو
له اصلي خبرې مونږه نا خبر وو
پۀ يوولس بجې تلل دي شو خبر
حاجي کيمپ کښې مونږ دَ تلو وو منتظر
مونږه تلو ته تيار کړے ؤ خپل ځان
ائر پورټ ته شو بسونو کښې روان

ائر پورټ کښې زمونږ راغلل دوه نمونځونه
ایمپلي فائر باندې وشولو وعظونه
صرف لنګ مو ووهلو یو څادر نه
بل مو کېښود ، له حالاتو وو خبر نه
چې جهاز په ائر پورټ حصاریدے شي
پابندئ بیا دَ احرام مشکلیدے شي
هله نیت دې بنده وکړي چې روان شي
جنایت نه بچ کیدل ورته اسان شي
شریعت کښې چې ممکن کوم سهولت وي
اخستل ئې دي پکار ، دې کښې حکمت وي
په مشکل کښې چې کوم کس چلیدے نۀ شي
عزیمت کښې مَرَور لۀ خدائ نه نۀ شي
نو جهاز بیا دَ حرم په لور روان شو
په مونږ باندې داسې فضل دَ سبحان شو
دَ ماښام نمونځ په جهاز کښې هم کول وو
دَ احرام دویم څادر راته تړل وو
په جهاز کښې چې دَ وچې کوم مفتیان وو
"په خپل سیټ به نمونځ کوئ" ، داسې ګویان وو
نۀ دي فرض پریښودل نمونځ کښې جائز
ستې وارډ نۀ دے امامت باندې فائز
په ولاړه دَ ماښام نمونځ مو وکړلو
په مخ رنګ ئې- چې کوم راغلو مونږ لیدلو
نیت مو وکړو دَ احرام په لږ ساعت کښې
مونږ لبیک وریسې ووې کوم حالت کښې

دَ لبیک وئیلو حالت ډک دَ سرور ؤ
سترګې ډکې وې لۀ اوښکو زړه مجبور ؤ
دې حالت کښې دَ حرم پۀ لور روان وو
وو سرتور مونږ پۀ لبیک باندې ګویان وو
زړه زمونږ ؤ ۔دَ حرم سره تړلے
دوه څادره دَ احرام اؤ حالت ښکلے
پۀ دنیا کښې وو دنیا نه بهر نه وو
دَ دنیا دَ ګندګئ نه خبر نه وو
ټول یو رنګې یو جامه کښې وو روان
کۀ غریب ؤ کۀ مالدار ؤ پۀ یو شان
دَ الله دَ محبت نه ډک سفر ؤ
مونږ جدې ته مخ پۀ تګ وو پر اثر ؤ
پۀ جده باندې مو کو۔ز شولو جهاز
دَ سامان دَ تلاشئ وشو آغاز
څو قطرې ئې دَ پولیو زمونږه خولۀ کښې
واچولې دَ ښۀ کولو پۀ اسره کښې
پابندي پۀ دې قطرو ده امریکه کښې
عبرت پټ دے پۀ دې داسې تماشه کښې
اے الله دَ غلامئ نه مونږه بچ کړې
دَ دروغو پۀ لار نه شو مونږ پۀ سچ کړې
وریسې ایمیګریشن راته تیار ؤ
آخري جهاز ؤ مونږ ته بس حصار ؤ
کوم بسونه دَ مکتب چې ملاویږي
ملاؤ نه شو وخت پۀ مونږ باندې تیریږي
که پۀ وخت وو ملاؤ شوے دا بسونه

رسيدلي به حرم ته وو نمونځونه
دا غفلت چې دَ چا دے ئې ذمه وار دے
ثواب مونږ ته به خدائ راکړي پاک غفار دے
وخت نه مخکښې دَ سحر ورکړو اذان چا
ورکړه جمه پۀ جمات کښې دې دوران چا
لاؤډ سپيکر باندې چې وشو بيا اذان
خبردار له صحيح وخت شولو حاجيان
ټولو بيا پۀ صحيح وخت جمه ادا کړه
دَ تشريح موقعه ئې مونږ ته بيا پيدا کړه
دَ چا شوق وي پۀ جمات کښې دَ اذان
مسٔلو نه خبر نه وي پۀ هيڅ شان
ځان ښيونکي دا جذبه ده دا ښه نۀ ده
دا خو ده ذمه داري څۀ مزه نۀ ده
پۀ دنيا کښې چې کلهم مؤذنان دي
دَ نمونځونو دَ روژو ټول ضامنان دي
دَ اذان پۀ مسٔلو دې ځان خبر کړي
ګني ځان به آخرت کښې برابر کړي
دَ نمونځ وخت چې کوم ساعت کښې داخليږي
دي پکار چې هغه وخت اذان ورکيږي
دَ څاښت وخت کښې بيا ملاؤ شولو بسونه
لږ ساعت کښې ورته مونږه وختونه
عجيبه دَ خوشحالئي يو کيفيت ؤ
دَمکې پۀ لور زمونږه چې رحلت ؤ
مونږ ګويانه دَ لبيک پۀ ترانه وو

سر سرتور مونږ پۀ سفر عاشقانه وو
عين پۀ وخت دَ ماسپښين ورسيدلو
نمونځ ته وخت لږ ؤ پۀ منډه ترې کوز شولو
زر سامان مو پۀ کمرۀ کښې کښيښودلو
مونږ تکل کړو دَ حرم پۀ لور دَ تللو
شکر شکر چې دَ جَمې نمونځ حاصل شو
دَ حرم سره زړګے ـزمونږ واصل شو
مونږه وې چې لږ ارام مونږه وکړلے
تازه دم مونږه عمرے لره ورتللے
ځائے زمونږه لرې نه ؤ دَ حرم نه
مونږ خبر وو دَ مکې دَ زیر و بم نه
مازیګر پورې ارام زمونږه وشو
طبیعت مو لږ پۀ دغه باندې ښۀ شو
مونږ شروع کړو مازیګر نه پس طواف
دَعمرې ، کړې پاک الله دې مونږ معاف
لۀ دې مخکښې دَ اؤو چکرو نيت
وکړو مونږه دَ طواف پۀ خاص صورت
لاس وچت وو اؤ تکبير زمونږ پۀ خولۀ ؤ
دَ طواف دغه تکبيرِ تحريمه ؤ
بيا حجرِ اسود ته مخکښې ودريدلو
استلام ته پۀ تکبير بيا ګويا شولو
پۀ حجرِ اسود مونږ لاس ؤ کيښودلے
تصور کښې، دې نه پس مونږ ؤ ښکل کړے
ښې طرف ته مونږ راتاؤ شو اؤ روان شو

پۀ دعا مونږه خپل رب وته ګویان شو
هم رمل مو پکښې وکړو درې چکره
اضطباع مو وساتله تر اخره
له کعبې نه تاویدلو خاص و عام
مونږ کولو هر چکر کښې استلام
شکر شکر چې زمونږ اوۀو چکرې
له نمونځ مخکښې شولې ټولې برابرې
دَ اذان نه پس مو وکړل دوه رکعته
چې واجب ؤ دَ طواف پاتې ؤ راته
وشو جمه باندې بیا نمونځ دَماښام
اراده مو دې نه پس وه دَ ارام
دَ ارام۔ سره قوٰی شي برابر
پۀ اعمالو باندې پریوزي ښۀ اثر
سعي مونږه کړه شروع پس له سحره
پۀ مطاف دَ دریم چت حرم کښې بره
یو ملګرې اواز راکړلو پریشانه۔
استلام نهم خو پاتې شولو مانه
آیا سعي مونږ شروع کړو بیا دَ سره
خبردار سره مو وکړله خبره
راته ئې ووے مستحب دے دا عمل
دې دَ پاره باطل نه کړئ واجب خپل
سعي ځکه۔ مونږ جاري بیا وساتله
تر اشراقه پورې دغه پوره شوله
چونکې نیت زمو نږ دَ حج ؤ دَ قِران

لازم نه ؤ سر خرئیل پهٔ دغه آن
دَ عمرې اعمال شو ختم پهٔ دې باندې
اوس دَ حج پهٔ انتظار وو مونږه وړاندې
سترى والي نه به مونږه ځان ساتلو
کوشش مونږه دَ کعبې کړو دَ کتلو
دَ ذي الحج میاشت لهٔ اوله وه شروع
وړومبینی عشره ـشروع وه دَ روژو
دې عشره کښې دَ روژو ډېر زیات ثواب وي
پهٔ لک کالو حرم کښې یو پهٔ حساب وي
نو ملګرو دا روژې به هم ساتلې
دَ حرم عمل نامې ئې ډکولې
ترویې ته ؤ زمونږه انتظار
پهٔ احرام کښې دَ عمرې مونږ وو تیار
مونږ طوافِ قدوم وکړهٔ ترویه کښې
پهٔ ډېر رش کښې دَ حرم بره حصه کښې
هم دَ حج سعي مو وکړه وریسې
دَ قِران پهٔ دې افضلې طریقې
پهٔ حرم کښې مو دَ حج وکړلو نیت
پهٔ دعا دَ اسانئ اؤ دَ همت
ته ئې قبول کړې وه پهٔ خولهٔ مو دا دعا
وریسې شو دَ لبیک الفاظ ادا
دې پسې مونږه منیٰ ته بیا روان شو
حج شروع شو پهٔ لبیک باندې ګویان شو

ماسپښین نمونځ زمونږ راغللو پهٔ لار کښې

پهٔ منیٰ کښې اؤ دَ حج ښکلې بهار کښې
وه خيمه چونکه زمونږ مزدلفه کښې
نو نمونځونه مونږ ادا نه کړل خيمه کښې
پهٔ خيمه کښې باقي وخت پاتې کيدو به
دَ نمونځ وخت کښې مونږ منیٰ وته راتلو به
پنځه نمونځه مونږ پوره بيا تر سحر کړل
پهٔ منیٰ کښې مو سنت ته برابر کړل
سبا ورځ دَ عرفې چې شوله بره
دَ تشريق ورځې شروع شوې پر اثره
تکبيرونه ۔دَ تشريق مونږه شروع کړل
ورسره هم دَ لبيک اواز دَ حج خپل
دي نه پس مونږ عرفات ته شو روان
پاک الله پهٔ مونږه شولو مهربان
مونږ روان وو پهٔ پيدلو قافلو کښې
دَ لبيک پهٔ ترانه اؤ پهٔ مزو کښې
يو لباس يوه نعره پهٔ خولهٔ دَ ټولو
پهٔ طريقِ مشي وو روان پهٔ ورو ورو
عرفات ته مونږ غرمه ورسيدلو
پهٔ دَ خول کښې عجيبه مونږ وننښتلو
دَ عربو ماشومان اؤ ښځې لار کښې
پهٔ خيمو کښې وې پرتې پهٔ انتظار کښې
انتظار ئې دَ نمرې دَ نمونځ کولو
پهٔ تکليف ئے ډېر مخلوق ۔مبتلا کړلو

عجیبه ده مستحب حاصلولول کئ
دي دَپاره دَ واجب دوی پریښودل کئ
کاش ـله دین دَدې اصولو خبردار شو
طریقه چې ده صحیح دَ دین پهٔ لار شو
واجب کله مستحب ته پریښودے شي
هر یو کس پهٔ دغه باندې پوهیدے شي
خو جذباتو نه مجبور شي مسلمان
پهٔ دې لار کښې پرې ـاثر وکړي شیطان
کاش شوقونه خپل دَ عقل کړو پابند
اؤ پهٔ عقل کړو حاکم دَ شرعې پند
مسایئل به بیا زمونږه صحیح حل شي
پهٔ دې باب کښې پاک الله دې زمونږ مل شي
لار وه بنده عجیبه زور آزمائي وه
شو ملګري مو ګډوډ نفسا نفسي وه
نو اخر مونږ څو ملګري را بهر شو
خوړ ته کوز شو اؤ پهٔ بله لاره سر شو
مونږ کښې څوک هم دَـخیمې ـنه خبر نهٔ ؤ
اؤ حال دا چې ګروپ لیډر هم مونږ سره ؤ
بس الله پهٔ مونږه باندې مهربان شو
یو ملګرے چې زمونږ داسې ګویان شو
مالیدلي ده خیمه چې داده چرته
رسولې شمه تاسو که ځئ هلته
ورسره مونږ ټول پهٔ شکر بیا روان شو

مونږ ئے ټول شکر ګزار په دې احسان شو
په لږ وخت کښې په خیمه کښې مونږ داخل شو
واړه ختم مشکلات اؤ مسائل شو
مونږ اول دَ ماسپښین نمونځ کړهٔ ادا بیا
پس له هغې واخستله مونږه سا بیا
مونږه نوش کړلو طعام چې ماحضر ؤ
تفصیلاتو نه عاري اؤ مختصر ؤ
دغه ورځ دَ دعاګانو چې شمیرېږي
په خوراک ـ باندې څوک ـ کله مشغولیږي
لږ ساعت کښې وخت داخل دَ مازیګر شو
دعاګانو و ته لرې بل لوئې در شو
په خپل وخت دَ مازیګر نمونځ مو ادا کړو
مخ مونږ ټولو قبله رخ اؤ په دعا کړو
دعاګانې عرفات کښې چې قبلیږي
دَ هر کس دَ عاجزئ اوښکې بهیږي
دعاګانو کښې مشغول وو ټول حاجیان
پاک الله ؤ په مونږ ټولو مهربان
توبه ګار له ګناهونو هر یو کس ؤ
په زارئ ؤ هر یو کس چې څهٔ ئې وس ؤ
دَ خدائ پاک دَ رحمتونو یو باران ؤ
اؤ شیطان په دغه باندې پریشان ؤ
ډېر ذلیل په دغه ورځ باندې شیطان وي
په حاجي دَ رحمتونو چې باران وي
الله غواړي چې هر کس دلته کښې راشي

هر څۀ پرېږدي دَ الله سره پخلا شي
دَ چا هم چې دَ راتلو استطاعت وي
لازمي ده چې دې ځائے ـته دې رحلت وي
کۀ بيا هم دلته رانه شي وخت پرې تېر شي
دَ الله پۀ عذابونو باندې ګېر شي
پرواه دار ئې الله نۀ وي څنګه مري دے
مسلمان که عيسائي که يهودي دے
ځکه حج چې پۀ چا فرض شي هغه دې
څۀ تاخير دې نه کړي دغه مسئله کښې
دَ ماښام وخت عرفات کښې چې داخل شۀ
هر حاجي دَ بل منزل پۀ لوري زغل شۀ
اؤ بسونه هم ولاړ ورته تيار وو
وخت نه مخکښې ورته ورغلل هوښيار وو
وخت لۀ مخښکې داخل شوے ؤ دَ ماښام
پۀ حاجي دَدې وخت نۀ ؤ اهتمام
ؤ خبر حاجي پۀ داسې مسئله کښې
هر حاجي به نمونځ کوي مزدلفه کښې
اؤ زمونږه طريقه خو دَ پيدل وه
پرته لاره راته مخکښې دَ مزل وه
پۀ طريق دَ مشي بيا مونږه روان شو
پۀ لبيک لبيک نعرو مونږه ګويان شو
دَ پيدل خلقو رواني قافلې وې
وې پر جوشه اؤ عالي ئې حوصلې وې
بهر حال پۀ دغه شان جاري سفر ؤ

اؤېۀ زړۀ باندې زمونږ دَ حج اثر ؤ
مونږ ته زر زر پۀ دې لاره پیدل تلل وو
مزدلفه کښې لۀ دخول نۀ هم۔ وتل وو
پۀ دخول کښې کوم حاجیانړ چې شي داخل
ستړي شوي ۔وي شروع کړي کيناستل
څوک ودۀ شي هلته کښې تنګې شي لاري
څوک زمونږ به سموي دا وراني چارې
وخت پۀ وخت چې دا رش نور هم بیا زیاتیږي
پۀ راتلونکو ګرزیدل۔ نور مشکل کیږي
مونږه چې ؤرسیدلو لا رش نه ؤ
دَ تلو سکیم پۀ تیزئ څکه مونږ ته ښۀ ؤ
لس بجې خپله خیمه کښې مونږ داخل شو
شکر شکر چې اسان دا مراحل شو
چې ملګري کوم وو وروستو پاتې شوي
وو پۀ رش کښې ټوله شپۀ بیا انښتلي
خیمه وه مو ۔پۀ دې ځل مزدلفه کښې
مونږه وکړۀ وقوف څکه دې خیمه کښې
ده دا شپه لیلة القدر دَ حاجیانو
پوې حاجي چې ؤ دَدې شپې پۀ ارمان ؤ
دَ سنت پۀ نیت مو ؤکړو څۀ ارام
کړو مو جوړ دَپاسیدیلو هم نظام
دَ دې شپې عظمت پۀ چا چې وي څرګند
خپل خپل رنګ کښې عبادت نه اخلي خوند
دَ اذان هم خیال ساتل پکار دي دې کښې

چې پهٔ وخت وشي اذان پهٔ داسې شپې کښې
کهٔ ناپوهه چا اذان وکړو دَ وخته
نور به هم شي ورسره بعضې نیک بخته
هسې نه چې دَ سحر نمونځ۔ مو خراب شي
غفلت دې کښې څهٔ باعث مو دَ عذاب شي
اذان وشو پهٔ خپل وخت زمونږ خیمه کښې
شکر دې کښې غلطي ونهٔ شوه دې شپهٔ کښې
مونږ ملګري وو پهٔ دې باندې پوې کړي
ځکه دې کښې مستعد وو ټول ملګري
بعضې خلق سوچ ونهٔ کړي پهٔ دې باندې
پهٔ غلطۍ باندي بانګ وکړي وخت نه وړاندې
شوق لري خو مسائل نه ځان۔ خبرئ نه
دَدې دومره اهم کار څهٔ فکر کئ نه
دَ اذان ثواب ګټلو ته تیار وي
مسئلو نه دَدې کله خبردار وي
پهٔ غلط اذان دَ نمونځ دوی ذمه دار شي
دَ غفلت پهٔ دې ګناه کښې ګرفتارشي
مونږه نمونځ دَ سحر وکړلو پهٔ جمه
دَ وقوف دَ پاره لاره شوله سمه
مونږ وقوف هلته کښې وکړو پهٔ ولاړه
زړهٔ مو وې رب مهربان دے ورنه غواړه
دا وخت ډیر دے قیمتي دَ دعاګانو
دَالله خومره رحمت دے پهٔ حاجیانو
قربان ګاه ته استولي مو کسان وو

دَ ناشتے نه پس منیٰ وته روان وو
پۀ ورووړو رش کښې منیٰ کښې وو روان
پرجوشي وه يو مستي اؤ اطمينان
جمرات ته چې مونږ ځنګه برابر شو
پۀ ويشتلو مونږ دَ لوئې شيطان بيا سر شو
فون مونږ وکړو قربان۔ګاه ته دې نه پس
چې مو هلته استولے ؤ کوم کس
قرباني دې زمونږ وکړي اجاز ت دے
چې دَ سر پۀ خريلو کښې دَدې حاجت دے
جمرات،قرباني ، سرخريل دغو درې کښې
دے ترتيب واجب زمونږ پۀ نزد پۀ دې کښې
قرباني وشوه اطلاع راکړه ملګرو
شوه اسانه فيصله سر دَ خريئلو
سر مو وخريلو بلډنګ کښې پۀ اسانه
موجود هر څۀ وو خبره نه وه ګرانه
بيا طوافِ افاضه ته مازيګر
پۀ حرم شريف کښې شو مونږه حاضر
هلته رش ؤ پۀ طواف کښې دَ حاجيانو
دَطواف مو مؤخر کړه ابتدا نو
ماسخوتن نمونځ نه مو پس چې نظر وکړو
رش ډير کم مطاف کښې۔ؤ زړۀ ئې راته ښۀ کړو
ؤکتل مو چې پوليس کنټرول کولو
پۀ مطاف کښې ځکه رش نه زياتيدلو
مونږه هم کړلې شروع بيا دعاګانې

چې مشکلې لارې مونږ ته شي اسانې
مونږ سارله دې کښې لاړ دَ کوزیدلو
پهٔ مطاف کښې دَ طواف شروع کړُلو
شو حاصل مونږ ته یو ځائے کښې اجازت
دَ طواف مونږه فوراً وکړلو نیت
زر طواف زمونږ پوره شو یو ګهنټه کښې
خدائ مدد ؤکړو زمونږ دې مسئله کښې
چې مؤمن وي نو اسباب اختیارول کئ
دعاګانې دَا اسباب کامیابول کئ
دَااسباب اختیارول کهٔ عاجزي ده
مسبب سره تعلق کامیابي ده
دَ اسبابو نهٔ اعراض نه دے ښهٔ کار
نهٔ هم صرف پهٔ اسبابو انحصار
دعاګانې پهٔ هر ځائے کښې پکاریږي
دَ الله سره تعلق پهٔ دې جوړیږي
مونږه کړي وه لهٔ مخکښې نه سعي
پاتې شوله اوس پهٔ حج کښې بس رمي
دَ درې واړو شیطانانو وو ـویشتل
پهٔ منیٰ کښې هم مبیت مو ؤ ګوُل
کم ازکم دوه ورځې نور مبیت سنت ؤ
دَ منیٰ دَ تلو زمونږه ځکه نیت ؤ
وو بلډنګ ته پهٔ دې سوچ کښې مونږ روان
چې اواز راباندې وشهٔ ناګهان
یو ملګري نه جیب کټ شو پهٔ حرم کښې

اوريدو سره دَدې پريوتو غم کښې
يا الله پۀ داسې ځائ کښې داسې کار
دومره سخت زړۀ دغه ځائ دغه کردار
پۀ تلاش پسې مو واستولو ملګرے
پريشان ؤ اؤ غمجن اؤ هم ؤ ستړے
مونږه هم وو بيا ددۀ پۀ انتظار
دَ مبيت مو منصوبه شوه تار پۀ تار
دا مبيت زمونږ پۀ نزد باندې سنت دے
واجب نه دے اؤ پۀ دې کښې ډېر حکمت دے
نن سبا منئ شوه تنګه پۀ حاجيانو
آساني ده پۀ دې باب کښې پۀ حنفيانو
نو خيمې چې دَ چا وي مزدلفه کښې
محروم نه دي دَ واجب پۀ مسئله کښې
دَ ملګري چې مو جيب چا ووهلو
پۀ خپل ځان باندې هغۀ ظلم وکړلو
کۀ نيکي ده پۀ حرم کښې پۀ لکونو
دغه شانتې هم دے حال دَ ګناهونو
هغۀ پټ کړل دلته درے زره ريالہ
شو ديرش کروړه ، هلته شي به دے بد حالہ
دا دَ نفس دَ بيماريو نتيجه ده
اؤ دَ زړۀ دَ خرابيو سلسله ده
نۀ شوې سمې کۀ دَنفس دا خرابئ مو
علامې دي دَ آخر دَ تباهئ مو
کۀ دا زړۀ دَ چا سم نه شو ، لۀ قرآن

هدايت به چرې وانخلي انسان
سمَوُل دَ زړهٔ اؤ نفس ضروري ډېر دي
کامياب چې دې کښې نهٔ دي هغه کېر دي
رومی وائي قال پرېږده صاحبِ حال شه
دې دَ پارهٔ شيخ کامل ته پائمال شه
بيا سبا مونږ جمراتو ته روان شو
پهٔ تکل کښې بيا ويشتونکي دَ شيطان شو
وو درې واړه شيطانان راته ويشتل
دَ زوال نه پس واجب دے دا عمل
هغه ورځ مو داواجب عمل پوره کړو
چونکه ورځ وه سر مو بيا پټ پهٔ خيمه کړو
بيا ماښام مونږ پهٔ منیٰ شولو داخل
چې پوره کړو دَ مبيت سنت عمل
نمونځ نه پس دَ مثنوي درس مو هم ورکړو
دا معمول مو پهٔ منیٰ هم برابر کړو
هغه ځائے مو ادا نمونځ دَ ماسختن کړو
پس له دې مو دَ خيمې پهٔ لور چلن کړو

شپهٔ شوه تېره پهٔ خيمه کښې مزيداره
دولسم دَ ذي الحجې ورځ وه تياره
شيطانان زوال نه پس به شي ويشتلے
چې څوک غواړي شي مکې ته به نن تللے
لهٔ نماښام مخکښې حدود نه کهٔ بهر شي
نيت دَ تللو به ئے هله مؤثر شي

ګني بله ورځ به هم بيا شيطانان
وي ويشتل خو څوک دې نه شي پريشان
مستحب پاتې کيدل دي يو ورځ بله
ولې دلته نه پۀ زغل ځې ـحاجي ګله
خبر نه دي چې پۀ دې باندې حاجيان
اسان کار ځان ته پۀ خپله کړي ډېر ګران
پۀ دې ورځ سامان سره کوي مزل
کله رش کښې شي راګېر ځان کړي غوبل
کاش چې عقل نه مونږ کار واخلو هر وخت
دې سره شي ټول اسان کارونه سخت
زمونږ هم وه اراده پاتې کيدو ته
سبا ورځ پس له زوال مکې ته تلو ته
جمراتو ته نزدې نه چا ملګرو
دعوت راکړو دَ خيمې پاتې کيدلو
تر هغې خيمې زمونږه وشو تلل
ګران کارونه خدائ بيا مونږ ته اسان کړل
پۀ خيمه کښې مو وکړه دَ سحر جمه
ډېر ارام اؤ پۀ سکون سره ئې غمه
پس له دې مختصر وشولو بيان
پۀ موضوع دَ نفس اصلاح بشکلے اسان
ماسپښين نمونځ مو چې وکړلو خيمه کښې
بيا روان شو مونږ دَ رمي پۀ اسره کښې
شيطانان مو وويشتلو پۀ ارام
دې سره دَ حج اعمال شولو تمام
اؤ يو پاتې دَ وداع ؤ بس طواف

کړي الله دې تقصیرات زمونږ معاف
دې نه پس مونږه مکې ته ټول روان شو
مکمل شو زمونږ حج خوشحال خندان شو
په مکه کښې پاتې ورځې تیریدلې
ځومره ښکلې مزیدارې پرسکونې
طوافونه اؤ نمونځونه دیدنونه
په مونږ ځومره دَ الله وو رحمتونه
مشائخ اؤ عالمان وو ډیر راغلي
مجلسونه دَ هغوئ خبرې ښکلي
دا مکه مکرمه ډیر ځائے وچت دے
ځومره شرف دَ کعبې دے اؤ عزت دے
په تعظیم دَ شعائرو کښي تقوىٰ ده
له قرآن نه دا خبره هویدا ده
دَ چا زړهٔ کښې چې ادب دَ کعبې نه وي
نو په زړهٔ کښې دَ هغهٔ تقوىٰ به څهٔ وي
دا قران هم شعائرو کښې یادیږي
متقي نه دے چې دے په زمکه کښیږدي
دَ ځپلو سره چې ځوک ګرځي حرم کښې
چې ځوک عقل نه لري نو څهٔ به ئې سم کړي
ځوک چې پښې دَ کعبي لوري ته وږدې کړي
دَ حساسو خلقو زړهٔ ارې ارې کړي
په ادب که دَ حرم کړې پوهیدل
نو په غور سره دا ولوله غزل

# دَ حرم ادب

چې هر شے ملاویدے شي پهٔ سبب خپل
ملاویږي هم حرم کښې پهٔ ادب خپل

تي حرم لکه دَ مور بهر راویستي
شودهٔ هر چا ته به رسي پهٔ طلب خپل

ټول اعمال دلته پهٔ خپلو طریقو کړي
ټول اعمال دي هم زمونږ وي پهٔ مذهب خپل

دَ لمحې لمحې قیمت دلته بیشانه
مونږ دي هم کړو قیمتي دا روز و شب خپل

کړه عمل دارالعمل دے دا شبیره
پهٔ دي باندې به تهٔ کړې فضل دَ رب خپل

# طواف

تاته پته ده ؟ چې څهٔ دے دا طواف
دا دَ حب الٰهي دے اعتراف

پتنګان کله دَ شمعې چې تاویږي
کله نهٔ کوي دَدې نه انحراف

دا کعبه نخښه زمونږه دَ محبوب ده
يو شاهراه دَ محبت ده دا مطاف

پهٔ مکان کښې زړهٔ مکين ته نن وسپاره
محبت نه دَ دنيا زړګے کړه صاف

الٰهي تهٔ دا مسکين شبير قبول کړې
ګناهونه چې دَده شي ټول معاف

# حرم ته راتلل

راغوښتل دَ هغهٔ دلته زيرے دے دَ رحمتونو
بس دَ نفس ځنې ويريږم دے عادت چې پهٔ ظلمونو

عظمت خومره دَدې ځائے دے زهٔ حقير غوندې بنده يم
کهٔ ګناه زما معاف کړي وي به فضل پهٔ فضلونو

دَ کعبې پهٔ طرف زړهٔ مې ، زهٔ طواف دَ حقيقت کړم
پيش کړه زړهٔ دَ هغهٔ مخکښې ، دے ښهٔ پوې هغه پهٔ زړونو

پۀ قدم قدم منزل دے دلته غواړه چې څۀ غواړې
هغه ذات لوئے کریم ذات دے خوشحالیږي پۀ سوالونو

دَ هغۀ معیت غواړم چې مې راکاږي خپل ځان ته
زۀ له غیر ئې پۀ وحشت یم دَدیدار پۀ امیدونو

دَ محبوب پۀ لار ئې سم شه دَ هغۀ مینه کۀ غواړې
اعراض ونۀ کړې شبیره چرې هم لۀ سنتونو

## سوري دَ کونترو

سوري زمکه باندې ګرځي دَ کونترو
دي ازادې تیز رفتار کئ پۀ وزرو

دغه ځائے مولد دَ چا دے څوک وو دلته
دَ چا فکر دلته کښې ډېر پراثر ؤ
ټول ملګري ورسره کلک وو ولاړ هم
پۀ هغو کښې دَ هر یو خطره کښې سر ؤ

څوک پۀ شګو کښې راچولے شو ګرمۍ کښې
تکلیفونو کښې هر یو دَ صبر غر ؤ

دَ هجرت حکم چې وشۀ مدینې ته

ځوک صحرا کښې پټ په پټه په سفر ؤ

چې په غارو ورسیدل لږ په ارام شو
خو تلاش پسې شروع هم برابر ؤ

نو کونترې اګۍ واچولې لار کښې
جولا جاله سازۀ کړه دَ خدائ امر ؤ

دَښمنان ئې تر خولې ورسیدل هم نو
دَ ملګرې ئې په هغو باندې نظر ؤ

فکر مند شو چې لۀ دوی نقصاني نه شي
ورسره چې ناست په خوا کښې دَ زړۀ سر ؤ

ان الله معنا باندې ګویا شو
دَ الله دَ حفاظت دغه مظهر ؤ
دښمنان ئې مایوس لاړل واپس غار نه
ډوب په غم کښې هر دښمن ئې سراسر ؤ

پۀ کوم شان هغه مکې ته واپس راغلل
دښمنان وو سترګې ټیټې دا منظر ؤ

هر یو وې چې اوس به څۀ مونږ سره کیږي

هر یو کس ته چې خپل ظلم مستحضر ؤ

"نن معاف یَئ ټول" اواز داسې بلند شو
نو لهٔ شرمه دَ هر یو دښمن ټیټ سر ؤ

خپل دښمن معاف کول څهٔ اسان نهٔ وي
دَ هغهٔ اسوه ده دا خیر البشر ؤ

## دَمینې طواف

عجیبه لاره دَ مینې ده طواف
دَ دنیا دَ محبت کړي زړګے صاف

معافي دَ ګناهونو ملاویږي
غواړه تهٔ هم چې ګناه شي ستا معاف

خدائ سره به دې ملاؤ کړي که صحیح وي
عجیبه شان دَ کعبې دے دا طواف

کهٔ دا دواړه وي قابو نو بیا جنت دے
یو پهٔ داړو کښې بندي بل زیر ناف

طریقه دَ صحابه اؤ سنت واخله

چرته ونۀ کړې لۀ دې نه انحراف

چې شبيره کله ځې حجر اسود ته
زړۀ دَ ټولو ګندګيو کړه صاف شفاف

پۀ بلډنګ کښې دا نوټس ولګيدلو
چې تابيا کوُو مدينې ته مونږ دَ تللو

پۀ دې باندې عجيبه غوندې جذبات وو
څۀ دوه رنګه مو پۀ دې کښې احساسات وو

غواړئ تاسو هم پۀ دې کۀ پوهيدل
دې دَ پاره ولولئ دغه غزل

# مکه مکرمه اؤ مدينه منوره

غواړې مې زړګے تلل مدينې وته، ولې دا کعبه هم پرېښودے نۀ شي

دلته نظاره چې دَ کعبې ده نو ، زړۀ نه نظاره مې دا وتے نۀ شي

څښلے پۀ بيا بيا مې دَ زم زم اوبه، کله پۀ بل ځائے کښې ملاوېږي دا

څښمه که زۀ دا پۀ کټورو باندې ، تنده دَ ايمان پرې ماتيدے نۀ شي

دلته عبادت دَ طوافونو دے ، چرته عبادت داسې بل نشته دے
زړۀ اؤ تن زما ورنه تاوېږي چې، داسې ترې بل ځائے کښې تاويدے نۀ شي

دادَ رحمتونو پرناله چې ده ، داهم يو سمت ته اشاره کوي
چرتۀ چې رحمت دَ عالمينو دے ، هلته نه دَ تلو بغير کيدے نۀ شي

خاوره چې دَ قبرئې افضله ده ، عرش اؤ لۀ کرسی نه کتابونو کښې
دلته نه دَ تلو خفګان لرمه خو ، هلته نه هم زړۀ مې صبريدے نۀ شي

هلته نه کعبې ته مخ کوم به زۀ ، يم به قدمونو دَ رسول کښې زۀ
زړۀ دې اے شبيره فيصله وکړه ، ورشه مخکښې نور حصاريدے نۀ شي

بله ورځ سحر وختي روانيدل وو
مدينې منورې ته زمونږ تلل وو
کنسترې مو کړې ډکې دَ زمزم
اؤ دَ شپې مونږه داخل شو په حرم
نيمه شپۀ وه رش ۆ کم لږ پۀ مطاف کښې
اساني مونږه ليدله پۀ طواف کښې
دَ وداع طواف پۀ وخت چې کوم حالات وي
څومره ګرم پۀ دې وخت دَ زړۀ جذبات وي
نو دَدې يوه نقشه ده دې غزل کښې
تاسو هم لږ شئ شامل پۀ دې عمل کښې

## دَ طوافِ وداع پۀ وخت

دَ مکې پهٔ جدایۍ مې زړهٔ کړیږي
دَ هجران پهٔ توره بیامې زړهٔ غوځیږي

دلته څومره دا کعبه راته نزدې وه
هائے افسوس چې اوس زما نه پاتې کیږي

پهٔ چکرو دَ وداع طواف مشغول یم
څومره تیزه دا ګړۍ دَ وخت چلیږي

خدائ زما دې دا طواف آخري نهٔ کړي
دعاګانې آخري وخت کښې قبلیږي

دا مرکز دې وي اباد دَ مسلیمینو
کافران خو دې ته خونې خونې کیږي

السلام اے کعبے تاته دې سلام وي
ستا کتو باندې مې سترګې نه مړیږي
دَ زم زم اوبه مې څښلې دومره دومره
دَ ایمان تنده پهٔ دې کله ماتیږي

شریعت نه زهٔ مجبور یم ملتزمه
واجب کله مستحب ته پاتې کیږي

زړهٔ مې غواړي چې دَ سترګو پهٔ پښو درشم
مسلمان رانه پهٔ دې کښې ازاريږي

دې دَ پاره زهٔ لهٔ لرې درته ګورم
پهٔ دې رش کښې رانه هر څهٔ پاتې کيږي

دَ حجر اسود دَ چپي شوق پهٔ زړهٔ کښې
زهٔ لرم خو دَ ورتلو وس مې نهٔ کيږي

اے شبيره دَ الله پهٔ لوئے دربار کښې
لامبوزن شه دَ الله رحمت وريږي

دَ طواف نه پس مونږ ناست وو پهٔ حرم کښې
دَ ليکلو زور محسوس شهٔ پهٔ قلم کښې
دَ اخر وخت دَ جذباتو ترجمان وم
پهٔ اشعارو باندې زهٔ هلته ګويان وم
تهجد مو هلته وکړو پهٔ حرم کښې
اؤ دَ غم نه سترګې ډوبې وې پهٔ نم کښې
لاس مو بره وو نيولي دَ رب مخکښې
اؤ جاري زمونږ دَ سترګو نه وې اوښکې
مونږه ټول هلته کښې پهٔ جمع دعاګو وو
خواستګار مونږه بيابيا هلته دَ راتلو وو

مونږ کعبې ته په حسرت سره کتل
ګنهګار معلومیدو راته ځان خپل
څومره شوي رانه دي بے ادبۍ
دَ دې ځائے دَ وخت تیر شوي کوتاهۍ
اے الله مونږ ته دا ټولي تهٔ معاف کړې
تربیت زمونږه وکړې زړهٔ مو صاف کړې
دي زمونږ چې کوم پهٔ زړهٔ کښې حاجتونه
پاک مولیٰ کړې دا پوره مونږ کړو سوالونه
پهٔ دې وخت اذان وشولو دَ سحر
دې حالت نه مونږ را ووتو بهر
دَ سحر نمونځ مو بیا وکړلو پهٔ جمه
کړه مو ځانته دَ بلډنګ لاره بیا سمه
دَ ناشتې نه پس مو راغلل بیا بسونه
مونږه دې ته ټول پهٔ جمع وختونه
مدینې منورې ته شو روان
پهٔ درود شریف مونږ شو رطب اللسان
دغه لار دَ مدینې ډکه ده دَ نوره
سترګې ډکې وې دَ اوښکو زړهٔ مجبوره
کیفیاتو بیا مجبور زما قلم کړو
څکه حال دَ دغې لارې مې رقم کړو

# مدینه منوره رانزدې کیږي

مدینه منوره رانزدې کیږي

خوشحالۍ نه مې پهٔ مخ اوښکې بهیږي

پهٔ درود اؤ پهٔ سلام باندې مشغول یم
بل قلم مې پهٔ کاغذ باندې چلیږي

زهٔ لیواله یم سلام دَ حاضرۍ ته
اوس دَ شوقه پهٔ ما وخت کله تیریږي

هلته زهٔ به دَ حاضر صیغې سلام کړم
حقیقت دَ تصور نه به جوړیږي

دَ محبوب دربار به څنګه ښکلے ډک وي
سلامونه دَ هرچا به ور رسیږي

زهٔ خاموشه به ولاړ یمه یو څنګ ته
سترګې زړهٔ زما به خپله ګویا کیږي
دَ رحمت څادر کښې زهٔ به هم ځان پټ کړم
رحمتونه څومره هلته راوریږي

زهٔ دَ زړهٔ پهٔ اواز وایم به سلام
دَ ادب نه مې سر اوسه نه ټیټیږي

اے زائره دَ حرم ښۀ ځان خبر کړه
پۀ ادب هلته ټول هر څۀ ملاویږي

تۀ بیان کړه خپل مطلب دَ دواړو مخکښې
دَ کرم دریاب خو هلته کښې بهیږي

تۀ کچکول دَ مسکینۍ خو هلته یوسه
ورته ګوره څنګه دا هلته ډکیږي

سترګې ټیټې زړۀ ګویا پۀ سلام ورشه
اے شبیره جوړ قسمت دې اوس وینښیږي

## لاره دَ جانان

کومه لاره باندې زۀ یم نن روان
دغه لاره خو ده لاره دَ جانان

جانان هم پۀ دغه لار باندې ؤ تلے
دَ مکې نه مدینې ته پۀ هجران

دَ مکې نه شوم روان ځم مدینې ته
سورلۍ تیزې شوې سفر شولو اسان

دغه لاره خو دَ شوق اؤ دَ ادب ده
چې مؤمن وي دَ هغهٔ وي دا ارمان

ډیر عظیم دربار ته مونږه نن روان یو
سر مې ټیټ دے لهٔ ادب زړهٔ مې حیران

خدایه ماته ادب وښائې اوس هلته
پهٔ شبیر باندې اوس ته شې مهربان

## را حاصل شي ماته هم دَ مینې جام

واستوم ورته دَ زړهٔ نه بیا سلام
اؤ درود ورته لیږم سبا ماښام

پهٔ سیرت ئې اوس زما عمل نصیب شي
هم پهٔ زړهٔ کښې ئې لرم صورت مدام
خدائ دَپاره دَ یو خدائ شمه هر آن زهٔ
طریقه وي دَ حضرت خیر الانام

دَ بدعت خوشنمائي کړمه پهٔ لتو
را معلوم دے دَ سنت ښکلے مقام

زۀ شبير خو دَ الله ځني دا غواړم
را حاصل شي ماته هم دَ ميني جام

بس زمونږ ورسيدلو مديني ته
دَ الله دَ رحمتونو خزيني ته
څو اشعار دَ مديني پۀ رسيدلو
شو جاري بيا پۀ اظهار دَ جذبو خپلو

## چرته مونږه چرته دغه لوئي دربار

فضل وشولو پۀ مونږ دَ کردګار
بيا نصيب دَ مديني مو شو ديدار

راوستلو خدائ مونږ دلته دوباره بيا
دا احسان دے لوئے پۀ مونږ دَ پاک غفار

شکر کله ئي لۀ مونږ پوره کيدے شي
کړو مونږ شکر کۀ پۀ خولۀ هزار هزار
خدائ دي وکړي چي ادب راته نصيب شي
چرته مونږه چرته دغه لوئي دربار

ودريدل غواړم بيا مخکښي دَ جانان زۀ
اؤ پۀ خولۀ دي زما وي دغه ګفتار

پۀ ما باندې دَ کرم نظر دې وشي
زۀ ولاړ يمه شبير ډېر ګنهګار
دغه ځائے دے ډېروچت ، ځائے دَ ادب دے
لوئے مقام ورته وکړے چې لوئے رب دے

که ادب دَدې ځوک نۀ کړي محرومي ده
نو پۀ دې مې اوس مشغوله شاعري ده

## محرومي ده

محرومي ده محرومي ده محرومي ده
چې دَ نبښو دَ الله بې ادبي ده

دا تعظيم دَ نخښو نخښه دَ تقویٰ ده
دانائي عقلمندي ده اؤ خوبي ده
کاش چې درس دَ ادب دلته هم شروع وے
چې شي ختم چې لۀ دې بغير خشکي ده

دَ محبوب دَ لوئے الله پۀ دې دربار کښې

خومره شور دلته کول بې وقوفي ده

دَ رياض الجنت نفلو ډېر ثواب دے
پهٔ جمات کښې وهل منډې تباهي ده

ټول اعمال پهٔ دغه شور ساقطيدے شي
دلته شور ؟ اؤ احاطه دَ پاک نبي ده

دلته حکم دَ قرآن لا ترفعوا دے
که څوک منع کړي دوی دغه خير خواهي ده

اے شبيره اهم دفع مضرت دے
ځان دَ شر نه کړه ته بچ دغه نيکي ده

مواجې شريفې ته چې مونږ راتللو
نو کارونه مونږه بعضې وليدلو

څوک پهٔ منډو پهٔ جمات کښې ځائے نيول کئ
ځائے رياض الجنت کښې قبضه کول کئ

نيت ئې دادے چې ثواب ورته حاصل شي
کاش چې دوئ لږ څهٔ خبر له عمل خپل شي

دوئ ګڼي دا دَ ثواب جوړې بتړن ده
پهٔ تاوولو له ثواب ډکه لمن ده

داسې نهٔ ده دَ هر څيز يو طريقه وي
پهٔ فائيده وي چې ئې خيال دَ چاسره وه

## ادب

مهٔ کوه جنګونه دَ عجم اؤ دَ عرب سره
هر څهٔ ملاويږي پهٔ هر ځائے کښې پهٔ ادب سره
ټيک ده دا رياض الجنت باغ دے دَ جنت نه يو
نمونځ دې کښې دَ نفلو ډېر ثواب دے عبادت نه يو
ليکن رانه دا خبره واؤرئ دَ حکمت نه يو
دې باندې قبضه کول دي کوم يو کار وچت نه يو
هر ښهٔ کار ښهٔ کاروي چې کوم وي پهٔ ښهٔ سبب سره
هر څهٔ ملاويږي پهٔ هر ځائے کښې پهٔ ادب سره
حرص دَ ثواب ښهٔ دے ليکن ادب کول دي هم
لوئے ځائے ته راغلي يو نو دلته ښهٔ کيدل دي هم
ډېر ځائے دَ ادب دے دا نو دلته ويريدل دي هم
سترګې ټيټې چپهٔ خولهٔ پهٔ ورو ورو ګرځيدل دي هم
ماشاء الله بيا يو کامياب فضل دَ رب سره
هر څهٔ ملاويږي پهٔ هر ځائے کښې پهٔ ادب سر
دلته خپله اوري چې سلام نو سلامونه کړه
دلته پهٔ خشوع اؤ پهٔ خضوع باندې نمونځونه کړه
رب چې شي راضي درنه نو داسې تل کارونه کړه
چرته بې همته نهٔ شے هر وخت همتونه کړه

ټوقې دلته مهٔ کوه هیچرې دَ مذهب سره
هر څهٔ ملاویږي پهٔ هر ځائے کښې پهٔ ادب سره
وکړه څلویښت نمونځهٔ دې جمات کښې کهٔ کولے شې
دې سره انعام دَ شفاعت حاصلولے شې
دې سره جولۍ تهٔ دَ نیکیو ډکولے شې
ټول خپل ګناهونه پهٔ توبه تهٔ ختمولے شې
داسې به انصاف وکړې شبیره روز و شب سره
هر څهٔ ملاویږي پهٔ هر ځائے کښې پهٔ ادب سره
که پنډونه دَ ګناه دَ چا پهٔ سر وي
دے به نهٔ مایوسه کیږي کهٔ خبر وي
چه الله پهٔ توبه باندې خوشحالیږي
څوک توبه چې کله وکړي معاف کیږي
خو جرأت پهٔ ګناهونو چې کول دي
سمندر دَ حماقت ته غورزیدل دي
نو قانون الٰهي نه خبر دار شه
دا غزل واوره پهٔ سچه توبه ګار شه

# توبه

ویره دَ ګناه نه دَ مؤمن ګرځي شعار
کوم چې وي فاسق فاجر هغه پرې کړي اصرار

شو چې ندامت دَ چا نصیب دَ ګناهونو نو
داده دَ توبې کنجي هغه شي توبه ګار

دا خو حقیقت دے چې مونږ ډک لۀ ګناهونو یو
مۀ مایوسه کیږه زمونږ رب دے پاک غفار

غواړي دا شیطان چې مونږه لرې دَ خدائ پاک نه شو
مونږ ته پۀ چل ول کړي دے ښائیسته دَ ګناه کار

کله چې بیا یادشي مونږ ته خدائ نو لرې خدائ نه دے
مونږ دې شو پۀ خپلو ګناهونو شرمسار

مونږه دې لاس واخلو له هغې ګناه چې شوي ده
عهد دَ نۀ کولو ورسره هم دے پکار

بل دَ قضا شؤو جاروتل راته پکار دي هم
هر څۀ دي اسان لۀ جهنم دَ سور انکار
اؤ کۀ دَ چا حق پۀ مونږه باندې چرته پاتې وي
دا دي رسول یا کړي معاف مونږه حقدار

حق ادا کول مونږ پوره نه کړے شو اګرچه مونږ
قوت لا یموت ژوند هم تیرؤ ته شو تیار

بيا كۀ حقدار مونږه معاف نۀ كړي پۀ څۀ وجه نو
دغه حقداران به پۀ قيامت كښې پاک غفار

كړي به دوئي خوشحاله پۀ جنت اؤ مونږ به معاف كړي پرې
جوړ به سبيل داسې دَ معافئ كړي كردګار

ښكله شو وئيلے اے شبيره چې دا دين دے ګران
دے اسان دَ نفس دي بهانې هزار هزار

مدينې منورے وته راتلل
پۀ دې باندي شكر ښكله دي كول

دا نعمت دَ خدائ پۀ فضل ملاويږي
دا غزل ولوله اوس كه وس دې كيږي

# پۀ حاضرئ شكر

خدايه شكر چې زۀ راغلمه نن دلته
نازولے چې دَ خدائ رسول دے چرته
هيڅ شے نه يم حيثيت زما څۀ نشته
چې وريږي پرې رحمت دَ خدائ يم هلته

خدائ دې ماته كړي نصيب ادب دَدې ځائے

چې مرهم دے دَ خشکۍ هر يو پرهر ته

بس ستا فضل مې اسره ده زما خدايه
ډيوه خنګه دَ عمل ونيسم نمر ته

زما زړهٔ کښې چې بس ته يې هر يو وخت بس
دروازه مې دَ زړهٔ بنده شي هر شر ته

کوم جالونه دَ شيطان چې له ما تاؤ دي
چې ټول وشلوم اؤ لاړ شم ترې بهر ته

تربيت زما دَ نفس هم ښهٔ نصيب شي
ننواتے يم راغلے دې لوئے در ته

دَ بقيع دَ مزکې خاوره دلته غواړي
پهٔ سلام شبير حاضر نبي سرور ته

دا موبائيل هم نعمت دے هم زخمت دے
يقيناً۔ دا نن سبا زمونږ حاجت دے

دَدې شوق چې حد نه زيات شي بيا نقصان دے
بيا دَډېر لوئے مصيبت دغه سامان دے

خپل ځان بچ کړه په څۀ شان دَدې دَ شر نه
دَ خیرخواه خپل لږه واؤره دا خبره
دې دَپاره دا غزل مې ده لیکلې
اوس ئے واؤره که تا نۀ وي اوریدلې

## دَ موبائیل نقصانات

چې وي شوق دَ موبائیل دومره په زور
چې په نمونځ کښې اوریدے شي دَدې شور

زړه دَ چا چې په دې ویره محسوس نۀ کړي
خپل اسلام باندې دې غور وکړي في الفور

دَ جمات مخکښې هندوانو موسیقي به
کړله بنده لازماً په هغه دور

اوس په نمونځ کښې نمونځ ګزار موسیقي اوري
کله وي په داسې ټون کښې ټنګ ټکور
هائے افسوس چې په کوم دور کښې مونږ روان یو
په هرڅۀ کښې نفس په مونږ باندې دے سور

قاعده الف الله ب بسم الله وه

ممي ډيډي ته سپارو دَ سترګو تور

دَ احساسِ کمترۍ داسې طوفان دے
نتيجه ئې اور دے اور دے اور دے اور

شاهينانو ته ښودلې شي خرپوسې
پهٔ باز باندې خرڅوي چرګه خپل کور

اے شبيره کهٔ حالات داسې روان وي
باغ زمونږه به بيا کله شي سمسور

دَ چترو لاندې زهٔ ناست ؤمه يو ځلې
خوشحالۍ نه زما اوښکې بهيدلې

يو غزل مې لهٔ قلم شوه رابهره
پهٔ کاپۍ دا منتقل شوه پر اثره

اوس کهٔ غواړې چې تهٔ واخلې ترې اثر
ولوله دا پهٔ دې ځان کړه لږ خبر

# دَ روضې پهٔ مخکښې ناست يمه ژړېږم

دَ روضې پهٔ مخښکې ناست يمه ژړېږم
شکر شکر خپل قسمت ته خوشاليږم

دَ محبوب دربار کښې ځومره ښکلے وخت دے
پهٔ تعريف دَ خپل محبوب چې مشغوليږم

مخامخ سترګو ته شين ګنبد ولاړ دے
خپل قسمت باندي به ولي نهٔ نازيږم

دَ الله ډېر مخلوقات پهٔ جهان شته دے
زهٔ دَ ټول جهان سردار ته مخښکي کيږم

خدائ دې وکړي چې ما هم خپلو کښې شمار کړي
زهٔ قابل خو دَ دې نه يمه پوهيږم

يو پهٔ خولهٔ مې دَ جانان ښکلي الفاظ دي
بل پهٔ مينه دَ جانان کښې لوړے کيږم

زهٔ عاجز شبير مسکين چرته جوګه يم
چه دې لوئے دربار کښې زهٔ دې هم ودريږم

دې دربار کښې دَ مؤمن چې حاضري وي
دَ هغهٔ به زړهٔ کښې ځومره خوشحالي وي

زړهٔ دَ چا چې محبت سره درزيږي
ځومره زړهٔ نه به سلام حضور ته ليږي

دا دَ زړهٔ سلام غزل کښېږ نن بدل شو
قسمتي وم خپل قسمت راسره مل شو
تاسو هم کهٔ شوق لرئ واؤرئ غزل دا
چي دَ زړهٔ دَ محبت دے لوئے عمل دا

## دَدي تول جهان سردار باندې سلام

دَدي تول جهان سردار باندې سلام
او دَخپل امت غم خوار باندې سلام

هم حبيب دے دَ الله هم ئې رسول دے
محمد نبي مختار باندې سلام

زما سترګې پهٔ ديدن ئې نهٔ مړيږي
دې تحفه دَ کردګار باندې سلام

راستولے ئې عالمو ته رحمت دے
دَ عالمو پهٔ تاجدار باندې سلام
زړهٔ زما خدايه حاضر پهٔ دې دربار کړې
دې ښايسته ښکلي دربار باندې سلام

ګناهونه پهٔ پنډونو راپسر دي

پهٔ محبوب دَ پاک غفار باندې سلام

ګواهي دَخپل ایمان تېروم دلته
دَ رحمت دَ باغ مالیار باندې سلام

پهٔ شبیر دَرحمتونو نن باران دے
خنګه وکړمه پهٔ شمار باندې سلام

پهٔ موقعه دَ حاضرۍ چې کوم جذبات وو
هلته کښې دَ موجودګۍ چې اثرات وو
دي موجود اوس دَ اشعارو پهٔ صورت کښې
اطمینان نشته شبیره محبت کښې
تاسو هم وخښئ شربت دَ محبت لږ
چې واضح پهٔ تاسو شي دغه حالت لږ

# ولاړ یم پهٔ دربار کښے ستا

ولاړ یم پهٔ دربار کښے ستا حیران یا رسول
زهٔ شکر خنګه وکړم دَرحمٰن یا رسول
پهٔ فضل دَ الله باندې زهٔ دلته یم راغلے
زهٔ چرتهٔ ګني وم به سرګردان یا رسول

دَبیا بیا دَ راتلو عرضي به مخکښې دلته کیږدم

که وشولو پۀ ما هم دا احسان یا رسول

چه مینه دَ دنیا مې لۀ زړګي ځنې بهر شي
پۀ مینه دَ جانان وے سرګردان یا رسول

دَ خپل نظر نه پریوتم چې سوچ مې ورته وشو
مونږ څنګه یو پۀ تا دا دومره ګران یا رسول

زمونږه سلسله باندې چې څومره تۀ مین ئې
مونږ نۀ شو هغه شانې قدردان یا رسول

الله دې ستاسو سورے پۀ محشر کښې را نصیب کړي
چې شو تاسو سره ، دے مې ارمان یا رسول

معاف شي چې زما هغه ټول کړي ګناهونه
پاک رب دې شي پۀ ما ډېرمهربان یا رسول

کوم حال چې دَ امت دے پټیدے نۀ شي له تاسو
زمونږ دَ بچ کیدو وشي سامان یا رسول
پوره دلته کښې ټول شي مرادونه دَ شبیر نن
راغلے ستا روضې ته ستا مهمان یا رسول

وي راتلل خو دلته ډېر پۀ خوشحالۍ

خو خطره پهٔ دې کښې وي دَ جداۍ
هر راتلونکي ته واپس دلته نه تلل وي
نور راتلونکو ته دا ځائے خالي کول وي
چې مؤمن ئي حق ئې دلته دَ راتلو دے
خوواپس به ځي هر يو زړهٔ ئې دَ کتو دے
يو غزل دَ جداۍ دَدې جذباتو
ما ليکلي ده دَ دغو احساساتو

# جدائي

نن آخري ورځ ده دَ شپے دلته نه روان يمه
تېر شولو اختر جدا کيدونکے لهٔ جانان يمه

ځومره چې وم دلته دَدې قدر مې و نهٔ کړے شو
دغې ناقدرۍ باندې ډېر زيات زهٔ پښيمان يمه

زهٔ قابل خو چرې دَدے ځائے دَ حاضرۍ نه وم
خدائ دې کړي قبول شم اميدوار لهٔ پاک رحمان يمه

هلته نه سلام پهٔ عاجزۍ به زهٔ راليږمه
بيا بيا دلته راغلے هميشه پهٔ دې ارمان يمه

شکر دَخدائ پاک پۀ دې اعمالو چې نصیب مې شو
غوارم چې قبول شي امیدوار ئې دَ احسان یمه

دغې لوئے دربار کښې حاضري زما نصیب شوله
زۀ غوښتونکے بیا دَ سعادت دَدې سامان یمه

الصلوٰة و والسلام شبیره په خپل جد وایم
زۀ دَدې دربار بس یو ورکوتے ثنا خوان یمه

دا لوئے فضل پۀ ما باندې دَ اللہ دے
خپل نیکۀ مې دے محبوب رسول اللہ دے
خوش قسمت یم رانصیب دغه رشته ده
ما دپاره خو دا لویه وسیله ده
دا رشته مې پۀ سلام کښې کړه حاضره
پۀ غزل کښې مې بیان کړه دا خبره

## زۀ لۀ زړۀ وکړم سلام اوس

خپل نیکۀ ته زۀ له زړۀ وکړم سلام اوس
پۀ قسمت راغلے یم تر دې مقام اوس
بس نظر کۀ دَ کرم زما نصیب شي
فکر نور څۀ نۀ لرم دَ خاص و عام اوس

زۀ پۀ غټ غټ به ئې وخښم کۀ ملاؤ شو
لۀ دَدې در نه پۀ نصیب دَ مینې جام اوس

دلته غواړمه دَ خدائ نه دَ خدائ مینه
کۀ ملاؤ شو ماته هم دغه انعام اوس

اوس سلام دَ حاظرئ راته نصیب دے
مخامخ چې راته دے خیر الانام اوس

زۀ پۀ دین استقامت لۀ خدایه غواړم
پختګي کۀ شوه نصیب دَ شبیر خام اوس

زړه مې غواړي چې لیکم دلته نعتونه
اؤ پۀ دې کښې پیش کوم زۀ سلامونه

البته دا عظیم کار ډیر زیات مشکل دے
زۀ کمزورے یم معلوم راته ځان خپل دے

کۀ له حد نه شمه زیات نو تباهي ده
که مې کم کړلو مقام نو ګمراهي ده

که الله شي دغه کار کښې زما مل
شي پۀ فضل به ممکن دغه عمل

دي دَ پاره دلته کښې لاس پهٔ دعا يم
دي غزل کښې زهٔ غوښتونکے له الله يم

## له خدائ غوارم نعتيه خوش کلامي

لهٔ خدائ غوارم نعتيه خوش کلامي
چې کړم پيش دَ نيکهٔ مخکښې سلامي

دَ زړهٔ حال خپلو الفاظو کښې بيان کړم
نهٔ رومي نهٔ عراقي يم نهٔ جامي

شي نصيب استقامت زما پهٔ شرع
محبت راته حاصل شي دوامي

کړو اصحابو به ديدار پهٔ خپلو سترګو
که نصيب راته ديدار شي منامي

تن و مال اؤ وخت بهتر مې استعمال شي
اؤ شي ختمه زما بې انتظامي
تعلق راته پوخ دلته کښې نصيب شي
هم شي ختمه دَ شبير هره خامي

پهٔ مسجد نبوي کښې مو ليدل
خلق مخکښې به له نمونځ نه تېرېدل

ډېر خفه شوم چې دا حال مې وليدلو
دا خفګان مې دې غزل کښې کښيښودلو

شايد پوې به شي دې باندې څو کسان
کهٔ ځان بچ کړي لهٔ غفلت دَ دې نقصان

## دَ نمونځ مخکښې مهٔ تېرېږه

چې څوک نمونځ کړي ورته مخکښې مهٔ تېرېږه
دا ښهٔ نه ده دَ الله نه وېرېږه

نمونځ پهٔ نخښو کښې يو نخښه معظمه
تعظيماً ئې لږ اکرام وته ودرېږه

پهٔ مسجد نبوي کښې دغه حکم
دے راغلے مات ئې نه کړې لږ پوهيږه

دَ سجدې ځائے نه تر کښو تر نظره
چې کوم ځائے دے هغې کښې مهٔ دننه کيږه

دا هله چې وي جمات لوئے کني بيا نو
پۀ خپل ځائے باندې ولاړ يه مۀ خوزيږه

عالمانو نه چل زده کړه اے شبيره
بيا پۀ هغه طريقه باندې چليږه

## زيارتونه

مدينه منوره تاريخي ښار دے
هر يو څيز دَ محبت يو لوئے مينار دے
چې وي ډک دَ محبت کله کوم زړونه
هغه غواړي دَدې ټولو زيارتونه
مقامونه تاريخي چې زمونږ خپل دي
آينده دَپاره دا محفوظول وي
دې سره ډېر تشريحات کول اسان شي
چې دا نۀ وي نو دَدې بغير ډېر ګران شي
دَ قران اؤ دَ حديث دا ګواهان وي
چې څوک پوې وي پۀ هغوی باندې دا ګران وي
اعلان وشو چې کوو به زيارتونه
دَ هغې دَ پاره راغلل درې بسونه
اول لاړو مونږ جمات ته دَ قبا
شوه شروع دَ زيارتونو سلسله

دَ پاکانو پهٔ جمات باندې یادیږي
پهٔ قران کښې دَدې داسې تعریف کیږي
دَدې وجه پهٔ حدیث کښې چې مروي ده
اول لُوټو بیا اوبو سره پاکي ده
خوښ دَ خدائ شو دَ پاکئ چې دا عادت ؤ
پهٔ قران کښې بیان شوے ئې عز ت ؤ
چې ادا کړي ۔دې کښې څوک دوه رکعتونه
دَ عمرې ورته حاصل شي بیا اجرونه۔

صحابه چې کله راغلو مدینې ته
کعبه نه وه پسخیدل به دوئي عمرې ته
دوئي سره ؤ دَ خدائ داسې محبت
څومره ؤ قابل رشک دَدوی حالت
دوه رکعته مونږ پهٔ دې کښې بیا ادا کړل
وریسې مو دوه لاسونه پهٔ دعا کړل
دا پاکي مونږ ته نصیب کړې پاکه ربه
مونږه وساتې همیش لهٔ خپل غضبه
دې نه پس مونږه احد ته شو روان
احادیثو کښې دَ دې شوے بیان
دا خبر دَ خدائ رسول بیانوي
محبت مونږ سره دغه غر کوي
مونږه هم دَدې سره کړو محبت
بیا مونږ ولې دَدې ونهٔ کړو زیارت
هلته دي دَ شهیدانو مزارات
دَ لیدو قابل قدر مقامات

هلته پروت دے هم سردار دَ شهيدانو
مونږ حاضر شو پۀ مزار دَ شهيدانو
بيا مو پيش کړلو سلام ورته دَ مينې
چا توئې کړي چې وې دلته خپلې وينې
مونږ ولاړ وو دَ امير حمزه پۀ مخکښې
اؤ جاري زمونږ پۀ مخ باندې وې اوښکې
مرتبه دوئي ته ور کړي رب سبحان
دے ژوندے دَ رب پۀ نزد وائي قران
عبادت دَ دوی کول نۀ دي جائز
دغه شان څۀ ترې غوښتل نه دي جائز
دي جائز که څوک ور استئ سلامونه
يا بخښي ورته کټلي ثوابونه
جائز کار منع کول نۀ دي جائز
لکه څنګه ترې غوښتل نه دي جائز
دَ افراط تفريط نه مونږ ته بچ کيدل دي
چې کوم خير دے هغه مونږ ته اخستل دي
څۀ خوراک دَ احد غر نه دي سنت
پانړې راوړې څو ملګرو پۀ همت
هغه پانړې مونږه وخوړې پۀ شوق
چې سنتِ مستحب ؤ دغه ذوق
يو کلو کجورې مونږه واخستلې
پۀ ډېر شوق سره دا مونږه وخوړلې
پۀ طرف دَ قبلتين شو بيا روان
دَ قبلې دَ بدليدو چې دے نشان
نازل شوے پۀ دې ځائے کښې دا فرمان

چې بدله شوه قبله دَ مسلمان
حکم داسې شو نازل دَ نمونځ دوران کښې
ورته شوي اشاره ده پۀ قران کښې
چې عمل پرې وکړو چا هغه ساعت
ورته ورکړے دَ جنت شو بشارت
عشره مبشره باندې موسوم دي
دا وو څوک پۀ صحابه کښې ښۀ معلوم دي
دوه رکعته نمونځ مو وکړو دې جمات کښې
دَ الله نه پۀ غوښتو شو مناجات کښې
کړې دَ زړۀ قبله زمونږه هم اوس سمه
چې له ټولو شرکياتو شو بې غمه
مونږه سبع مساجد ته شو روان بيا
تصور کښې مو راتلو هغه دوران بيا
دَ خندق دَ هغه جنګ پۀ ورځو شپو کښې
صحابه چې وو ديره کومو خيمو کښې
عاشقانو پرې بيا جوړ کړل جماتونه
دَ خيمو ئې --ټول محفوظ کړل نشانونه
پۀ هغو کښې ورځ پۀ ورځ اوس کمے کيږي
ساده ګان چې پۀ مقصد ئې -نۀ پوهيږي
وخت کوتاه شو دې نه پس شوه واپسي بيا

نمونځ دَ پاره دَ مسجدِ نبوي بيا
شوي ده دَ بدر کوم ځائے چې غزا
دَ کتو ئې- زمونږ وشوه اراده
مونږه ګاډے کړو يو دې ته برابر
اؤ يو ورځ شو مونږ روان پۀ دې سفر
تول ملګري مو ودۀ شو چې وو سترې
پروت پۀ سوچ کښې ؤمه زۀ چې څۀ وو شوي
دَ قريشو دا سنګينه يو حمله وه
ختمؤ دَ مسلمان ئې ـاراده وه
پۀ تعداد ساز و سامان کښې دوی وو بر
دَ خدائ څۀ وه اراده نۀ وو خبر
دو ئې- طرف ته زمکه ښه وه مظبوتيا کښې
اؤ رسول دَ خدائ مصروف ؤ پۀ ژړا کښې
انتظام نه چې فارغ شو پيغمبر
دَ خدائ مخکښې ئے بيا کښودو خپل سر
کړله رب ته ئې- زاري دَ بيکسۍ
اؤ اظهار ئے ؤ کلهم دَ عاجزۍ
ورسره دَ مدد وکړه خدائ وعده بيا
دَ مدد دَ فرښتو يو سلسله بيا
غټ غټ خلق دَ کافرو شولو قتل

هم عتبه اؤ هم ولید اؤ ابو جهل
دغه ټول ئے یو کوهي ته واچول
دې نه پس رسول الله ورته ویئل
پوره کړه الله وعده زمونږ سره
څنګه تاسو سره وشوه معامله
عمر وئیل چې اوریدے کله دوی نهٔ شي
نو زمونږ پهٔ دې وینا خبر به څهٔ شي
نو حضور وفرمائیل بیا دا عمر ته
له ستا زیات اوري جواب نهٔ ورکئ بیرته
پهٔ دې سوچ کښې وم پهٔ مخه زهٔ روان
خپل تاریخ ته زما خیال ؤ وم حیران
پهٔ لږ وخت کښې څومره شوي دي جنګونه
بې پرواه یو مونږ له هیڅ نه خبر یو نه
دَ روحا کوهے پهٔ لاره کښې راتللو
اؤ زمونږه ئې ډېر شوق ؤ دَ لیدلو
واقعه دَ دې سره ده یو تړلې
مونږه داسې کتابونو کښې لیدلې
چې رسول دَ خدائ اوبه چې دَ دې څکښلې
نو یو ګوټ ئې ترې پهٔ دې کښې واچولې
چې تپوس ترنه چا وکړو چې دا ولې
جواباً خبرې دا ئې ـو فرمائلې
زما یاد شو دَ راتلونکي دور امت

اف امت سره ئې ؤ خومره محبت
ما چې هم دا اوبه څکښلې دا مې نیت ؤ
دَ حضور دا کوټ مې یاد دَ سعادت ؤ

بیا دَ بدر پهٔ لور مونږ ته وو زر تلل
مدینې ته وو تر نمونځه رسیدل
زمونږ وشو زر میدان ته رسیدل
دیوال تاؤ ؤ ترې ډیر لږ څهٔ مو لیدل

مقامات تاریخي کښې خو عبرت وي
پهٔ دې باندې پابندئ ته څهٔ حاجت وي
هغه ځائے ؤ پهٔ رښتیا دَ عبرتونو
ؤ کوهے دَ مشرکانو دَ لاشونو

مونږ دعا دَپاره لاس کړلو وچت
خدایه وساتې ایمان مو سلامت
بیا نقشه مو وکتله دَدې جنګ
چې باطل اؤ حق ؤ څنګه څنګ پهٔ څنګ

دَ الله دَ مدد څنګه نظارې وې
دَ شیطان دَ مایوسئ چغې سورې وې
حق غالب شو باطل وخوړهٔ شکست
مختورن شولو شیطان ذلیل بدبخت

بیا واپس شو دَ حرم دَ نمونځ دَ پاره
ګاډے تیز ؤ ځکه زر ختمه شوه لاره
دې نه پس دلته لیکمه څو نعتونه

چې پهٔ وئیلو شي دَدې خوشحال ډېر زړونه

## نعت شریف

خدائ خالق دې خپل محبوب ئې نازولے
پیدا کړے ئې هغه دے ښومره ښکلے

کائنات ئې کړهٔ پیدا هغهٔ دَ پاره
هیڅ به نه وو کهٔ هغه پهٔ دنیا نهٔ وے

نازل شوے پهٔ هغهٔ باندې قران دے
پهٔ هغهٔ دے نبوت هم ختم شوے

دَ هغهٔ چې اتباع چاته نصیب شي
نو هغه هم دَ خدائ پاک شي نازولے

پهٔ هغهٔ باندې ایمان دَ ایمان اصل
پهٔ هر څهٔ کښې مو بس لاره دَ هغهٔ وے

چې هغهٔ پسې روان ئې کامیاب ئې
اے شبیره دے نچوړ دا اوس چې تهٔ وے

## نعت شریف

بیا مو مخکښې شین ګنبد دے اؤ حرم
پرې مین دي که عرب دي که عجم

دغه ځائے دَ اسمان لاندې ډېر وچت دے
کۀ ئې څومره ادب وکړې کم دے کم

سترګې تېتې یم ولاړ ژبه خاموشه
ښکې مې ربې اؤ جاري له سترګو نم

دَاجرونو سودا نه کړي عاشقان
لوئے کرم دے چې زۀ دلته حاضر یم

زۀ دیدار به دَ خدائ وغواړمه دلته
خدائ معطي دے اؤ حضور ئې دے قاسم

رېې لاس مې زړۀ مې ډک له کیفیاتو
شي لیکلے کیفیات کله قلم

چې مې نوم پۀ غلامانو کښې اوس شمار شي
زۀ شبیر هم امیدوار یم دَ کرم

## دعویٰ دَ محبت اؤ دَ هغې حقیقت

دعوې کړو دَ نبي دَ محبت نۀ ستړي کيږو
خبرې مونږ دَ مينې دَ جانان کړو مشغوليږو

بيشکه دا ښۀ کار دے خو چې خپل عمل ته ګورو
پۀ ختهو دَ ګناه کښې مونږه نور هم دننه کيږو

عمل چې علم باندې کوم پکار دے هغه نشته
شايد تشې دوېرې يو چې دَ ځان سره غږيږو

اے کاش چې محبتِ حقيقي زمونږ نصيب شوے
چې فکر زمونږ داشي اؤ سنت باندې چليږو

دا مينه دَ رسول خو ده لازمه پۀ ايمان کښې
دَدې چې تقاضا ده مونږ پۀ هغې نه پوهيږو

شبيره شيطان کرې کړه اؤ نفس دې هم قابو کړه
دَ حق دَدې وينا سره اوس مونږه هم سميږو

پۀ جده کښې چې وو ناست پۀ انتظار

څو قلم مو هلته ولیکل اشعار
یو راغلي چرته نه روان یو چرته
مونږه څۀ وکړو اؤ څۀ به کوؤ هلته
دا اشعار ځکه لیکمه پۀ کتاب کښې
پکاریږي به لږ دا پۀ احتساب کښې

# دَ جدايئَ پیغام

لږ ساعت کښې خپل وطن ته زمونږ تلل دي
پۀ کارونو دَ دنیا مشغولیدل دي

دلته څومره ارادې مونږ نیکې وکړې
دغه ټولې ارادې یادې ساتل دي

پۀ بیا بیا دې مبارک شه حاجي حج ستا
برکت دَ دغې حج پاتې کول دې

کۀ دې ژوند کله بدل شو پۀ دې حج کښې
دَدې حج پۀ قبلیدو خوشحالیدل دي
پۀ نامه دَ حاجي کله عاشق نه شې

دَ شو شا نه لرې لرې تبنتيدل دي

پهٔ ژړا به خندا هلته نصيب کيږي
ګناهونو باندې رب ته ژړيدل دي

دا کوشش به مونږ کؤو تهجد ګزار شو
دې دَ پاره اوس لهٔ وخته پاسيدل دي

مالياتو کښې هم مونږه لاس صفا کړو
ځان دَ بل چاحق نه هر وخت بچ کول دي

دا اشعارِ الهامي چې دَ شبير دي
ټول عالم کښې دَدې فکر خورول دي

مونږ سواره چې پهٔ جهاز کښې شو جده کښې
پريشان شو يو عجبه مسٔله کښې
پهٔ جده کښې شو داخل دَ ماښام وخت ؤ
پهٔ ختلو کښې جهاز ؤ کار مو سخت ؤ
دَ جدې نه ده کعبه پهٔ نمر خاتهٔ
اؤ زمونږ ؤ هم پهٔ دغه طرف تلهٔ

نمر خاته طرف ته کله چې هم تلل وي
دَ نمونځ وخت چې کوم وي زززر ختمېدل وي
بل جهاز دغه وخت سيده پهٔ قبله ؤ
دَ سمت دَ بدلېدو غم راسره ؤ
چې مکې سره جهاز کله تېرېږي
سمت بيا دَ جهاز بالکل الټه کېږي
نمونځ دوران کښې چې سمت کله الټه شي
اړول دَ مخ پهٔ نمونځ کښې مسئله شي
انتظار کښې دَ نمونځ وخت به ختمېدلو
دَ ماښام وخت ؤ ډېر زر به تېرېدلو
لږ وچت چې شو جهاز مونږ پاسېدلو
دوه کسان وو زر پهٔ جمه ودرېدلو
شکر شکر چې زر نمونځ مو مکمل کړلو
پهٔ مشکل سره پوره مو دا عمل کړو
کهٔ څوک وکړي لږ همت نو خدائ ئې مل شي
پهٔ مدد دَ خدائ هر يو مسئله حل شي

# دَ 1334 هجري
# دَ حج کيفيات

دَحرم پۀ لوري سفر

دَحرم پهٔ لوري بيا زما سفر دے
انتظار باندې زما زړګے نن سر دے

څوک به پوې دَ زړګي حال باندې وي څنګه
چې پهٔ ده باندې دَ دې څومره اثر دے

دَ محبوب دَ محبوبانو نخښې دلته
دي بيشماره دے پهٔ دې باندې ښهٔ خبر دے

دَ کعبې پهٔ کشش خلق شي راکښلے
دَ کعبې چې دے کوم خوښ هغه منظر دے

شکر څنګه مونږه وکړو پاکه خدايه
دَ رحمت پهٔ شبير څومره ستا نظر دے

## دَحرم فيض

دا فیض دے دَحرم چې مې پهٔ خولهٔ باندې اشعار دي
زهٔ هم پهٔ فیض ککړیم هم پهٔ خلقوئې آثار دي

دا دے دَ حرم فیض چې هر طرف ئې نور خوریږي
وریځې سمندر نه دَ رحمت قطار قطار دي

دا زړونه بدلوي ځکه راغلي ورته ټول دي
دَ مینې دَ دنیا سره چې زړونه کوم بیمار دي

دا کور دېروچت کور دے چې ادب ئې نه کړي څوک
پوې نه دي ناخبره لهٔ وچت ځائے راګزار دي

دا ځائ دَ محبت دے دا پیغام خور کړه شبیره
دَچا کامیابېدل چې پهٔ رښتیا باندې پکار دي

## ذکر دَحرم

دَحرم دَ فضا ګانو دَحرم دَ هوا ګانو

دَحرم چې وو نمونځونه دَحرم دَ دعا ګانو

ذکر وکړه چې مرهم شي دَ زخمونو دَ زړګي مې
ډېر مې ياد شي طوافونه هغه زوک دَ ژړاګانو

دَحرم مينه ده مينه دَ الله سره کۀ پوې ئې
پټ مجاز کښې حقيقت دے دا دے قول دَ بزرګانو

دَحرم ادب تقویٰ ده دے تعظيم دَ شعائرو
وي نظر دَ خدائ دَ مينې هم پۀ داسې اداګانو

دلته يو نيکي پۀ لک ده اؤ بدي هم دغه شاندې
احتياط! ځان بچ کول دي لۀ هر قسمه خطا ګانو

دلته زړونه اباديږي اؤ ژوندونه بدليدے شي
ځان کړئ بچ دَ دوزخ اور نه ، لۀ آخر دَ سزاګانو

دغه ځائے دَ دعا ځائے دےلاس
وچت کړئ لږ دعا ته
الله ډېر مين شبيره دے پۀ خپلو بنديګانو

# حج اؤ حبِ مال

پۀ چا حج کښې چې دم راشي نو بيدم شي
دَ غم غشے ئې پۀ زړۀ باندې بيا سم شي

دَ پيسې سره چې شوک کړي محبت نو
پۀ هغه پۀ دې صورت کښې جوړماتم شي

چې پۀ زړۀ کښې ئې دَ يار غم وي نو هغه بيا
پۀ ورکولو ئې دَ دم زړګے محکم شي

چې مالدار وي هغه فکر دَ دم نۀ کړي
کړي غلطيانې دوی پۀ قصد کاش کۀ دوی سم شي

چې پۀ قصد کړي شوک غلطيانې حج زخمي کړي
پۀ دې داسې بے فکرئ اجر بيا کم شي

پۀ سنت طريقه حج وکړه شبيره
تاته سيخ چې لۀ الله دَ در کرم شي

## دعائ حرم

خدایه فیض دَدې کعبې راته عطاکړې
دَ دې فیض نه الهيٰ ډک زړهٔ زما کړې

خالي زړهٔ راغلے دلته یمه خدایه
شي چې فیض اخستے هغه نظر راکړې

ګناه ګار یم دَ ګناه پنډ مې پهٔ سر دے
حاضر شوے یمه دلته ، معاف ما کړې

سمندر دَ رحمتونو ته ولاړ یم
فضل غواړم ، ته خو فضل پهٔ هر چا کړې

چې زهٔ ستا شم ته زما شې ، شبیر وایئ
ما ګنده راوړے زړهٔ ، ته ئې صفا کړې

دَ کعبې پهٔ مخ کښې ناست يم برابر
ډوب ئې نور کښې يم پهٔ زړهٔ لرم اثر

رحمتونه لۀ کعبې راباندې سم دي
دے دا کور دَ رحمتونو سمندر

چکرونه پهٔ ظاهر شي ترې وهلے
پهٔ باطن کښې دا څهٔ بل ښکاري چکر

زړهٔ کعبې طرف ته اؤ نظر پهٔ مخکښې
زړهٔ دَ خدائ ساته ، پهٔ لار لره نظر

هر يو کس ته رسي فيض خو چې محفوظ شي
محروم نه ځي څوک شبيره لۀ دې در

## دَ کعبې حقيقت

مکعب نما کمره ده دا کعبه

چې قائمه ده په حکم دَ الله

دَدې کانړیو دَدې کور بل حیثیت دے
حقیقت چې دے هغه ترې دے جدا

دا کعبه چې په کوم ځائے قائمه شوې
حقیقت کښې دا ټوټه ده سجده ګاه

تجلي دَ الله دې باندې هر وخت وې
برخه هر څۀ کړي حاصله لۀ دې بیا

رحمت دلته شي نازل لۀ ټولو مخکښې
کړي حاصله ترې هر څۀ خپله حصه

کاڼي اؤ غلاف لۀ دې بیا منور شي
مطابق دَ قرب خپل وي دَ هر چا

دَ حجر اسود خبره جدا رنګ ده
لۀ جنت نه دا ټکړه راغلي وه
دې په ځائے بل کاڼے نۀ شي لګیدلے
په قیامت کښې به جوړیږي دا ګواه

نښه ده يو دَ توحيد اؤ اے شبيره
دَ تعظيم اؤ دَ عشق ښکلي مجموعه

# چې کعبه مې په نظر شوه

زهٔ څومره خوش نصيب يم چې کعبه مې پهٔ نظر شوه
دَ حسنِ ازل دا يوه جلوه مې پهٔ نظر شوه

دا ټيک ده مونږ رانده يو حقيقت نه خبر نهٔ يو
مونږ څهٔ پيژنو کومه نظاره مو پهٔ نظر شوه

ورکړے زړهٔ هر چادے چې مؤمن دے تور کهٔ سپين دے
بس دا يو تسلي ده دَ هر چا ، مو پهٔ نظر شوه

چې زړهٔ دَ عشق نه ډک وي نو بيا حسنِ ازل هم
ښکاره کړي بيا خپل ځان ،خبره دا مو پهٔ نظر سوه

پهٔ زړهٔ مې يو خبره وه ليکلي پهٔ لوستو کښې
"زړهٔ ورکړه۔اے شبيره واخلهٔ دا "مو پهٔ نظر شوه

## دَ نور سمندر

ډک دَ نور يو سمندر دے دا کعبه
حقيقت نه ئې هيڅ څوک نۀ دي آګاه

ده دنيا وته نقطه يو دَ وحدت
ټول عالم دَپاره دا ده سجده ګاه

اولين مرکز دے دا دَ رحمتونو
ده دَ حسن ازل دا يوه جلوه

جنتي کاڼے حجرِا سود پۀ دې کښې
ورسره دَ ملتزم هم نظاره

بس دَ زړۀ نه مخکښې ټيت شه اے شبيره
دَ هغۀ چې دا کعبه چې دَ چا ده

## يو ناکامي يو بشارت

ؤ مو خواهش يو ولسم باندې
مونږ رمي وکړو لۀ ماښام مخکښې

چې دا عمل مو دَ سنت مطابق
وشي دا ؤ مو اهتمام مخکښې
مونږ ونښتلو چې دَ ګاڼو رش کښې
مونږه پهٔ وخت ورسيدلے نه شو
دَ رب حکمت پهٔ مونږ غالب شهٔ داسې
ځان مو کتلو ترې ناکام مخکښې
دَ رب حکمت مخکښې زمونږه دَ سوچ
څهٔ حقيقت کله موندلے شولو
بس دَ دنيا دَ سببونو جال کښې
مونږه کوشش وکړو لږ دَ ګام مخکښې
مونږ ته پکار دي چې اسباب پوره کړو
بيا نتيجه ئې پهٔ الله پريږدو
نهٔ پهٔ اسبابو کښې سستي مونږ وکړو
نهٔ څهٔ جلدي لهٔ انتظام مخکښې
دَ ارادو پهٔ ماتيدو کښې مخفي
دے معرفت د پاک الله چې پروت
شبيره دا قول دَ علی وليکه
پهٔ زړګي تهٔ دَ عشق پهٔ جام مخکښې

## زيرے

دا پهٔ زړهٔ کښې چې زمونږه بشاشت دے
جوړې حج مو شو قبول دا بشارت دے

رحمتونو نه دی ، دَ رب ځنې قربان شم
دَ خدائ فضل دے رحمت دے اؤ رحمت دے

دَ خدائ شکر چې احکام زمونږ پوره شو
د الله کرم زمونږه سعادت دے

مونږ پهٔ سر دَ گناهونو پنډ راوړے
اوریدلے مو یو داسې روایت دے

عرفات نه پس کښې چې گناه گارځان
حقیقت کښې دے محروم دے او بد بخت دے

شبیر راولې بیابیا دلته اے خدایه
زما تاته ده زاري دا اؤ منت دے

## بیا

شوه موقع ملاؤ کعبې دَ زیارت بیا
کړۀ حاصل مو دولت ښه اؤ سعادت بیا

دَ رحمت پرناله بیا ده زما مخکښې
راوریږي ترې لهرونه دَرحمت بیا

پۀ کعبې مې دے نظر پۀ زړۀ اثر کړي
زړۀ نه وځي مې دعا دَ هدایت بیا

شکر شکر حج نه پس هم زۀ زیارت کړم
شکر څنګه وکړم زه دَدې زیارت بیا

زما زړۀ ورسره وتړې پۀ مینه
چې محسوس لهرونه کړم دَ محبت بیا

دَ کعبې حقیقت ما باندې څرګند کړې
زه شبیر غواړم توفیق دَ عبادت بیا

## دَ مینې ډک زړګے اؤ کعبه شریفه

ډک لرم زړګے دَ میني پۀ کعبې لرم نظر
دا لوئې کور دَ عظمتونو پۀ زړګي لري اثر

لړ پۀ خیال ځۀ قدمونو چرته هېر درنه دا نۀ شي
زما زړۀ نن دَ کعبې پۀ لوري لاړ دے برابر

ډک دَ نور نه ټول ذرات دي دَ مکې دَ ښار زائره
لړ پۀ زړۀ باندې هم واخلۀ دَ مکې دغه منظر

دغه ځائے دے دَ معراج نبوي مبدا لړ پوې شه
دَ تیَرو دَ شپو داځکه یو امید دے دَ سحر

زړۀ شبیره سجده ریز دے جانماز باندې دَ عشق
دَده حال نه تۀ خبر شه چې نۀ ګرځې در پۀ در

# کعبې ته روان عاشقان

لۀ کوم کوم ځایه راغلي عاشقان دي

پهٔ ټولګو ټولګو کعبې ته چې روان دي

دَ هر چا پهٔ خپل خپل رنګ کښې مشغولا ده
څوک مبهوط دي څوک پهٔ منډه څوک حيران دي

دَ سيلاب پهٔ شان روان وي پنځه وخته
څوک پرجوشه څوک مستئ کښې څوک حيران دي

لهٔ کعبې ځنې تاويږي خپل خپل رنګ کښې
بس دَ يو پهٔ خيال کښې ډوب دي سرګردان دي

دَدې کور سره چې داسې مينه کيږي
سوزي ځان سره چې کوم ئې دښمنان دي

ډوب کړه ځان تهٔ دَ کعبې پهٔ نظاره کښې
اے شبيره دې کښې نخښې دَ جانان دي

# کعبه يو ميخانه

څښنه شراب دَ مينې دم پهٔ دم اوس

هر څۀ کړه اوس هېر مۀ کوه غم اوس

کله چې وصال دَ یار مقصود شولو
ذکر دَدنیا کړه کم نه کم اوس

زړۀ مې دَ هغۀ دے پۀ هغۀ نظر
جوړ شو مختلف تول زېر و بم اوس

زړۀ طرف ته ګوره چې دي څوک پکښې
تا باندې ئې دومره دے کرم اوس

څوک چینې رواني بندولے شي
مه وچوه تۀ دَ سترګو نم اوس

نیغه ده اوس لار شبیره نیغ ورځه
نشته دے دې لار کښې پیچ و خم اوس

# وګورو

راځۍ چې مونږه دَ رحمت دا نظارې وګورو
راځۍ کعبې نه دَ نور ختي مونږ جلوې وګورو

زمونږ دَ زړهٔ دَ تسلیٰ د پاره دا کعبه ده
راځۍ دَ حسن ازل دغه فیصلې وګورو

دَدې چکر دَ محبت دَ دائرې یو عمل
دَدې پهٔ وجه چې کمیږي فاصلې وګورو

دَ دې یو ګُټ کښې لګیدلے کاڼړے حجر اسود
هلته چې کیږي مجازي مصافحې وګورو

دَ دعاګانو قبلیدو ځائے ملتزم شبیره
ئې پهٔ جامه کښې دَ مجاز معانقې اوګورو

## دَ کعبې سرور

سرور واخله دَ کعبې نن دَ کتلو
فرق ګوره دَ بیان اؤ دَ لیدلو

دې حرم کښې ګوره څومره تقدس دے
دا بیشکه ده موقعه دَ ځاریدلو

هر یو کس زړهٔ کښې تعظیم دَدې محسوس کړي
ورسره طلب دَدې دَ ښکلولو

چې پهٔ زړهٔ کښې وي تقویٰ دا ئې اثر وي
ورسره پهٔ پاک الله دَ مینیدلو

چې کعبې ته لرې پښې زړهٔ ئې خالي دے
دَ تقویٰ نه ، کړه کوشش دَ پوهیدلو

چې ئې زړهٔ کښې تقویٰ نه وي اے شبیره
بیا ګډه وډه شي اؤ شي سر پهٔ بلو بلو

# دعا کښې فریاد

خدایه جوړ کړې ته بنده خالص زما نه
ما روان په خپلې لار کړې په اسانه

زه دَ نفس په دام کښې ګیر وهم ټوپونه
ما ترې بچ کړې زهٔ مدد غواړمه ستانه

زهٔ دَ زړهٔ نه شمه ستا اؤ ته زما شې
شم روان په سمه لار ، نه چې په ورانه

اوس غیر ستا کله زما زړهٔ کښې رانهٔ شي
بس یو ته مې وې په زړهٔ کښې اے جانانه

ستا په ذکر مې بس شونډې خوزیدلے
اؤ په زړهٔ کښې مې کتے درته حیرانه

ځان مال وخت اؤ اولاد ټول زما قبول کړې
خدایه تاته مې دا سوال دے عاجزانه

هر ویښتهٔ هره لمحه هره پیسه هم
کړې قبوله خدایه ته دَ شبیر خوانه

## مجاز اؤ حقیقت

تسلیٖ ته مو دَ زړهٔ دغه کعبه ده ګڼي مونږه خوهغه وته سجدې کوُو
دا یو کور دے چې پرې خاصه تجلي ده ورته ګورو مونږه هم پهٔ دې مزې کوُو

هغه ذات مو دے بالا دَتصور نه دغه کور ئې مونږ دَ پاره ښائسته کړے
دې کعبې نه مونږ چکرې وهو څکه دَ وصال مونږه اسره پهٔ دې کعبې کوُو

دَ هغهٔ لیدل دَ مرګ نه پس ممکن دي دغه ژوند کښې دا کعبه مونږه لیدے شو
دې مجاز باندې بهٔ مونږه هم ملاؤ شو حقیقت سره امید مونږه لهٔ خدائ کوُو

دې نه تار دَ محبت تلے دے زړهٔ ته بلف د حسنِ عقیدت پهٔ دې روښان دے
دې رہنا کښې حقیقت به را ښکاره شي مونږه دغې حقیقت وته اسرې کوُو

دغه نور دَ کعبې زړهٔ کښې چې مونږ واخلو مونږ بهٔ پوې شو رب زمونږ دَ ټولو یو دے
دا نقطه ده دَ وحدت ټولو دَ پاره پیروي مونږ دَ وحدت دَدې نقطې کوُو

لیونتوب کښې دروازې دَ زړهٔ شي لرې چې مونږ یؤیو اؤ دَ یؤ د پاره یؤ شو
کاش شبیر هم پهٔ دې مینه لیونے شي ګڼي هسې بس خبرې اؤقیصې کوُو

# کرم دے ستا بس

چرته مونږ چرته دا کور کرم دے ستا بس
وي زمونږه بهٔ څهٔ زور کرم دے ستا بس

دَ کعبې عظمت ته ګورم ځان ته ګورم
دې کښې وائم بهٔ څهٔ نور کرم دے ستا بس

دَ کعبې پهٔ فیض زما زړګے روښان کړې
لهٔ دنیا مې شي زړهٔ تور کرم دے ستا بس

دې کعبې سره زړګے وتړم داسې
باغ دَ زړهٔ مې شي سمسور کرم دے ستا بس

دَ ذلت دَ کندې څنګه رابهر شم
شبیر وائی زهٔ في الفور کرم دے ستا بس

**عجیبه**

عجیبه ځائے کښې کارونه عجیبه دي
دا کوم خلق چې دَ خدائ دَ کور سره دي

څوک راغلي دلته دي چې دَ الله شي
دلته څوک دي چې په لوټ دَ دوی اخته دي

څوک په مینه دَ الله کښې مست ګرځي
داسې لګي دَ شرابو په نشه دي

څوک لبیک باندې ګویا دي ډېر په مینه
څوک دَ داسې نظارو په تماشه دي

څوک چکرې دَ کعبې نه لګوي بس
څوک کعبې ته دَ کتو په نظاره دي

بس خبره د نیتونو ده شبیره
که زمونږ ځنې وي پټ خدائ ته ښکاره دي

## دعا اور دوا

دَخدائی شکر چې مې پوندې ارام وکړو
دَ علاج مو چې دَدې کله پام وکړو

دعاګو شو مسبب مونږ سره مل شو
دَ سبب مو دَ دوا انتظام وکړو

دا اسباب دي احکامات تکویني تول
ځکه مونږ متابعت دَ نظام وکړو

دعا هم پکښې سببِ باطني وي
دې د پاره ئې دَ فادعوني کلام وکړو

غوښتل غواړي ترې بيا ولې ونهٔ غواړو
شبير ځکه دَ دعا التزام وکړو

## حالات اؤکیفیات

دا پۀ مونږ چې کوم مشکل حالات راځي
نو پۀ دې کښې څۀ ښودلے راته شي

څۀ پۀ دې مونږ سره کيږي هغه وخت
حقائقو باندې مونږه خبروي

نظر دې باندې قائم لرل پکار دي
چې حاصل شي چې پۀ دې کښې کوم څۀ دي

احکامات دَ پاک الله دي پۀ دوه قسمه
تشريعي اؤ ورسره هم تکويني

قوانين دي دَ فطرت دا تکويني ټول
مکلف اګرچې يو دَ تشريعي

شريعت باندې عمل لۀ مونږ مطلوب دے
خيال ساتل دَ تکويني دي ضروري

انبياؤ شريعت مونږ ته راوړے
فقهاء اؤ علماء ئې رارسوي

پس عمل به مونږ پۀ دې کړو شبيره
تکويني امور کښې دغه ده صحيح

## غارِ حِرا اؤ يو سوچ

پانړې واړوه پهٔ شا غار حرا
تاکښې ناست وو څوک پهٔ سوچ تهٔ خبر را

یاد کښې ډوب دَ چا دَ چا سره مشغول وو
پهٔ کِړکئ کښې ښکاریده ورته کعبه

هر څهٔ ئې پریښې وو پهٔ تا کښې دلته ناست وو
صرف یاد ئې ؤ یو ذات یعنې اللّٰه

تصور دَ هغه څهٔ ؤ هغه وخت کښې
دَ هغوی هغه وخت څهٔ وه مشغولا

دې نه پس ورسره څهٔ وشو پهٔ تا کښې
چې راغلي وه يو لويه فرښته

اؤ پهٔ کار دَ نبوت باندې فائز شو
شوه ملاؤ ورته بيا لويه مرتبه

چې اوس هم یاد کښې دَ خدائ ډوب شي شبيره
دے دَ خدائ شي ورته لاره شي صفا

# غارِ ثور

پناه ګاه چې دَ نبي وه دَ ثور غار
دَ الله دَ حفاظت ؤ يو شاهکار

اکۍ واچولې کونترې جولا جاله
دې کښې نش باندې دښمن وکړو اعتبار

دښمن کله چې دَ غار خولې باندې راغلو
ان الله معنا وشۀ ګفتار

پۀ دې درې ورځو نيکيو دَ صديق
عمر غوارې نيکئ ټولې کړي نثار

دا هجرتِ مدينه يو کاميابي وه
مدينه منوره کښې شو بهار

اسباب ولټو شبيره دې دنيا کښې
ضرورت به دې پوره کړي کردګار

# عرفات کښې

لږ شه لرې لهٔ دوستانو لږ هغهٔ ته هم وګوره
وخت ورکړے تا الله ته دے ، پهٔ دې سوچ وکړه وروره

ستا دښمن دلته موجود دے دَستا وخت خرابؤو ته
لهٔ خپل کار دې غلط نهٔ کړي څهٔ پهٔ نوي ډرامه نوره

دا دوستان دې اوس تهٔ پرېږده صرف هغه دوست کافي دے
خفه مهٔ شې مهٔ ګڼه تهٔ دَ خیرخواه خبره سپوره

نن معافي لهٔ هغه غواړه ډېر عالم به معاف کیږي
چې شیطان زمونږ دښمن نن پریوتو لهٔ زړهٔ دَ زوره

پهٔ ژړا ډېر خوشحالیږي پهٔ ژړا ئې نن راضي کړه
عرفات دے ، شبیر وائې ویښ کړه ځان دَ سترګو توره

# زړهٔ دې جوړ کړه

زړهٔ دې جوړ کړه خپل ، کعبي ته پهٔ کتلو
کړه ديدن اوس دَ کعبې پهٔ سترګو خپلو

دا لوئې کور دے لوئې الله سره ئې تعلق دے
ياد سبب ساته دې ځائے ته دَ راتللو

پهٔ کتلو ئې تعلق جوړ دَ زړهٔ سره کړه
نور هم زيات ترې ګېر چاپېر پهٔ تاويدلو

دَ توحيد مظهر سره ځان موحد کړه
کړه کوشش دَ توحيد ښهٔ راسخ کولو

تجلي پهٔ دې دَ حسن ازل شته دے
بندوبست کوه دَ خپل زړهٔ دَ ترلو

کهٔ مجاز کښې حقيقت شبيره غواړې
لاره دا ده تر هغهٔ دَ رسيدلو

# سازشونه

دَ باطل دا قوتونه ځومره کار کئ
ډېر ساده دي چې پهٔ دوی هم څوک اعتبار کئ

ټيک غلط کړي اؤ غلط نه ټيک دوی جوړ کړي
ساده ګانو ته چې څهٔ وائی اقرار کئ

چې مرکز دے دَ ارشاد تبر دَ دوی اوس
نيسي لاس کښې خپلو پښو باندې ګزار کئ

پهٔ رواج زور دے سنتو نه اعراض کړي
هائې افسوس صرف منل دَ استعمار کئ

اے شبيره توقع ترې دَ خَير نشته
چې ځان خپله کړي غلام څوک به ئې حصار کئ

# دَ کعبې پهٔ خوا کښې

زهٔ- بيا بيا تندے پهٔ دغه زمکه کيدم
چې محروم ترې چرته نهٔ شمه ويرېږم

دَدې لوئے کور لهٔ مالک مې ډېر اميد دے
لهٔ اعمالو خپلو زهٔ- نا اميد کيږم

هر ويښته کهٔ مې شي ژبې پهٔ سلګونو
اؤ پهٔ ټولو کهٔ پهٔ شکر ګويا کيږم

دومره ژبې ئې- راکړې دَدې شکر
ادا څنګه کړم پهٔ دغه نه پوهيږم

ماخپل رب پيژني څومره يم کمزورے
نفس مې هم دے زورور ځکه بوږنيږم

خدايه ماسره پهٔ فضل مدد وکړې
ګني زهٔ- مقابله کښې پاتې کيږم

مال اؤ جاه اؤ لذتونو کښې ښهٔ بوخت يم
کهٔ مدد دَ هغهٔ نهٔ وي نو غورزيږم

دَ دې لوئے کور وسيلهٔ نيسم شبيره
ګني زهٔ خو پهٔ عمل خپل رسوا کيږم

# توبه

دَ ګناه دے یقیني علاج توبه
خوش نصیب دے چې ئې دے مزاج توبه

همیشه غلطیانې کیږي لهٔ مونږ ډیرې
چې دا څومره دي پهٔ دوی کړي راج توبه

مونږ کمزوري یو هغه غفور رحیم دے
دے دَ دوارو ښکلے امتزاج توبه

کهٔ زرهٔ ډک وي سر تر سره لهٔ ګندونو
دَ دې ټولو واړه کړي اخراج توبه

توبه ګارو ته ده جوړه دروازه خاص
سر کهٔ عجز دے ، دے شبیره تاج توبه

# يو فرياد

پهٔ خپل فضل الٰهي زړهٔ بينا راکړې
دَ خپل ځان سره تعلق هم جوړ زما کړې

زړهٔ تا هېر نهٔ کړمه هيڅ کله ، پهٔ ذکر
ژبه تر کړې زما اؤ زړهٔ مې صفا کړې

راشې زړهٔ کښې مې اؤ شم ستا پهٔ نظر کښې
تهٔ زما شې پاکه ربه قبول ما کړې

ټول عالم کښې کړم چې ذکر ستا خور هر وخت
پهٔ دې ښکلي فکر کښې ما مبتلا کړې

ستا پهٔ مخکښې زه شبير پهٔ سجده پروت يم
پهٔ څهٔ شان دَ بندګۍ حق مې ادا کړې

# دَ كعبې مخكښې

دَ كتو مې دَ كعبې دے منظر مخكښې
حال ته ګوره دَ زړګي دَ دې در مخكښې

رانده زړونه پۀ دې ښكله پوهيدے شي
دَ زړه حال چې ښكله وي دَ دلبر مخكښې

نزديكت دَ لرې والي نسبت څۀ وي
دَ قطرې چې ښكله وي سمندر مخكښې

دَ كعبې نه دَ چا زړه چې اثر واخلي
نو ورو ورو راشي بيا دغه اثر مخ كښې

اے شبيره پۀ رڼړا ئې منور كړه
زړه ، كوه بيا ترقي برابر مخكښې

# حقیقت اؤ مجاز

چورلي شمعې نه چې کوم ئې پتنګان وي
دَ کعبې نه کړي طواف چې ئې عاشقان وي

لیونتوب دا لۀ هوس ځنې بهتر دے
پیمانې نورې دَ عشق دَ میدان وي

چې محجوب وي څۀ به پوې شي پۀ دې باندې
هغه څوک وي چې پۀ عشق کښې سرګردان وي

دَ کعبې دَ دې زیارت پۀ وسیله مو
نصیب هلته کښې دیدار دَ پاک سبحان وي

شبیر ورسوې هلته پاکه خدایه
چرته کښې چې موجود ستا خوارۀ دوستان وي

# مسجد تنعیم

یاد کړه مسجد تنعیمه هغه دور
چې عمره تانه وه کړې زمونږ مور

دَ عمرې دَ پاره خوږ نبي راواستول
تاته راغلل پهٔ دې شان سره دَ ورور

چې ابن زبیر تعمیر کړه کعبه کله
دَ عمرې دَ پاره راغلل ستا پهٔ لور

دَ مکې خلق پیدل ورسره هم وو
شکریه کښې دَ تعمیر دَ خدائ دَ کور

دَ احناف پهٔ نزد عمره ستانه افضل ده
بعضې خلق پهٔ دې باندې کوي شور

وایئ مسجدِ تنعیم نه عمره نشته
دوی به څومره ثبوتونه غواړي نور

خیر دے وایئ دې جاهل خلق بدعت دے
اے شبیره دَ جاهل به وي څهٔ زور

# تنعیم نۀ عمره

ځنګه تنعیم نه دي عمره کول  بدعت وروره
لږ خو سوچ وکړه کوې څومره حماقت وروره

زمونږه مور  عمره ده کړي تنعیم نه  پوې ئې
دَ دې نه پس هم کوې داسې جهالت وروره

کۀ استثناء کښې اچوې دغه کارونه دَ دوی
نو بیا دَ شانِ نزول  څۀ بۀ وي حاجت وروره

دَ صحابه و اؤ  تابعینو پرې عمل هم شته دے
ځنګه کوې بیا تۀ دَ دې مخالفت وروره

دَ مکې خلقو دَ ابن زبیر سره دَ کړې
پیدل نو بیا ئې نۀ منل دي سفاهت وروره

وایئ شبیر کله ازاد چې لۀ تقلید نه شي څوک
غیر معتدل شي دَ هغۀ بیا هر حرکت وروره

# دَ کعبې تعلق

بس نصیب مې دَ کعبې پهٔ ښکلي مخ فدا کیدل وے
پهٔ بیا بیا ورسره جخت جخت ختمکیدل اؤ ژړیدل وے

بس لهٔ دې زهٔ تاویدلے ستا پهٔ خیال کښې ډوب اؤ مست وے
ځان مې هېر وے ته مې یاد وے ستا مې داسې یادیدل وے

ملتزم سره ښهٔ جخت وے جخت ښهٔ جخت غاړه پهٔ غاړه
دَ حجرِ اسود نصیب مې پهٔ بیا بیا چپې کول وے

ستاپهٔ یاد کښې مې ځان هېر وے تهٔ مې یادوے پهٔ هروخت کښې
ستا پهٔ یاد کښې ژړیدل وے ستا پهٔ یاد کښې خندیدل وے

دَ عشق اور کښې رذایل مې ټول پهٔ ټول وسوزے خدایه
اؤ نصیب مې شبیر وائی خدایه زړهٔ کښې ستا راتلل وے

# دَجدايئَ غم اؤ خوشحالي

لهٔ کعبې جدا کيدل دي هم مې زړهٔ کښې مدينه ده
هم ژړيږم هم مې شوق دے داخبره عجيبه ده

دې کعبې نه ګېر چاپيره خوږ نبي طواف دے کړے
برکت دَ پاک نبي دے چې دا ټولهٔ سلسلهٔ ده

ملتزم باندې هم اوښکې بيولي پاک نبي دي
واپس لاړل مدينې ته دغه هم يوه جذبه ده

تور خادر باندې حروف دا سنهري څنګه خوندناک دي
ګېر چاپير ئې عاشقان دي څومره دا ښکلي نقشه ده

پرنالې دَ رحمت لاندې مونږ سوالګري ټول ولاړ يو
بس الله دې مهربان شي څهٔ به زهٔ يم څهٔ مې خولهٔ ده

دَ شبير زړهٔ کښې اے خدايه کړې راسخ توحيد هميش تهٔ
تقاضا مې دَ ادب دَ شعائرو ورسره ده

# لهٔ حرم نهٔ روانیدل

نن زمونږه قافلې ته لهٔ حرم روانیدل دي
ضبط کول راته پکار دي یقیناً چې دا مشکل دي

څومره خوند ؤ اؤ مزه وه دَ کعبې دَ سورې لاندې
دا ښائسته ښائسته ځایونه راته دلته پرېښودل دي

کاش چې مونږه دَ خپل وخت قدر وے کړے چې وو دلته
دا قانون دَ ژوند روان دے پهٔ دې باندې پوهیدل دي

روزانه چې دَ زمزم اوبه مونږ څښلې کاسو باندې
هر څهٔ پاتې شولو دلته اوس نصیب کښې ژړیدل دي

کعبه وه لکه دَ شمعې اؤ مونږ ټول ئې پتنګان وو
شمعه پاتې شوه شبیره پهٔ پتنګ غم تیریدل دي

# شليدلي جولۍ

دَحرم لمنه مونږه ده نيسلي
اؤ جولۍ هم ده زمونږه غوړيدلي

ډېر اميد لۀ دغه دے زمونږه زړۀ کښې
ده اګرچې دا جولۍ زمونږ شليدلي

هميشه ياد پاک نبي مونږ ته ساتل دي
مخ ساتي چې پاک الله دَ نازولي

خوشحالۍ کښې هم ئې غم کښې پيروي کړه
خوش نصيبب دے چې لمن ئې چا نيولي

وخت دے واخلۀ ترنه کار شبير احمده
کړه سوتره خپله لمن چې شي دا ښکلي

# دَ مدينې منورې هوا

پۀ زړۀ مې لګيدلي جوړ هوا دَ مدينې
دَ تلو غم کښې نصيب خوشحالي شوه دَ مدينې

يو زوک غوندې پيدا پۀ تصور کښې شو پۀ خپله
هوا دَ مدينې اؤ دَ فضا دَ مدينې

مسکن دَ صحابه ؤ اؤ منزل دَ ملائکو
پۀ لار باندې روان شولو مونږ بيا دَ مدينې

داځائے لوئے دَ ادب دے ، پۀ ادب باندې به اوسې
شه پوې ، لازم ادب دے پۀ هر چا دَمدينې

شبير هم باادب کړې سوال زما تاته دے خدايه
پيرزو چې پۀ هغه کړو سفر تا دَ مدينې

# دَ مدينې منورې لاره

شروع شوه دَ مدينې لاره ښائسته
ورته ګورم چې دا څومره ښکلې ده

دا دَ زړۀ ده زړۀ پۀ دې باندې پوهيږي
ده پۀ زړۀ باندې دَدې لارې نقشه

دغه لار دَ محبت ده دَ يقين ده
دغه لاره ده يو لاره دَ وفا

لږ سوچ وکړۀ چې پۀ دې لار څوک تېر شوے
فکر وکړۀ لږ پۀ دې دَ زړۀ سره

پۀ تلو تلو کښې پۀ سړک غواړم چې ښکل کړم
چې ليکلي پۀ کوم بورډ دي مدينه

کۀ تپوس شي دَ جنت لاره ده کومه
اے شبيره زړۀ به وائي ده دغه

# دَ زړګي دنيا

دَ زړګي دنيا پهٔ خپله شي بدله
ياد کښې راشي مدينه زړهٔ کښې چې کله

رنګ دَ عشق دَ د نيا نور دے پرې خبر شه
پهٔ هر څهٔ کښې جوړوي لاره پهٔ خپله

دَريچه کښې دَ يادونو خپلو نال کړي
ډک دَ ګلو بوټي هر رنګ باندې ګله

دا يادونه دَ نعتونو غوندې اورم
يو ځل نه بلکې بيا بيا پهٔ څو څو ځله

زهٔ پهٔ ياد دَ مدينې چې شم مشغول نو
بيا خوند کله راکوي خبره بله

مدينې ته چې مې فکر شو شبيره
دنيا ټوله بس دَ دې نه زاريدله

# پهٔ مدینه منوره کښې

تن کهٔ وي بل ځائے زړهٔ وي دې مدینه کښې
حقه داچې وي انسان ښهٔ مدینه کښې

خپل زړګے وراستومه زهٔ هر وختې
چې وے روح سره بیا بیا زهٔ مدینه کښې

هغه مرګ خو به پهٔ ما باندې اختر شي
زما قبر شولو جوړ کهٔ مدینه کښے

زما جسم خیر دے چرته هم چې استۍ
کهٔ دَدې جسم باچا شي مدینه کښې

اوس شبیر دې کړي خادم خپل نه چې صرف
دَ اتو ورځو میلمهٔ پهٔ مدینه کښې

# سفر دَ مدينې

خومره ښکلے مزيدار دے سفر دَ مدينې
فضل لوئےڪ دَ کردګار دے سفر دَ مدينې

مشغول زړهٔ مې نظاره کښې دے دَ ګنبد خضرا
بخت زمونږ شولو بيدار ، دے سفر دَ مدينې

څهٔ به ليکي څهٔ به سوچ کړي قلم څنګه کيږدم نن
دے پهٔ زړهٔ مې څهٔ اعتبار ، دے سفر دَ مدينې

تصور کښې مدينه ده ، پهٔ ککو کښې مدينه ده
اؤ خيالات دي بيشمار ، دے سفر دَ مدينې

اے قلمه ستړے نهٔ شې خيال ساته نن دَ شبير
دي پهٔ خولهٔ کښې ئې اشعار ، دے سفر دَ مدينې

# دَ زړۀ اواز

زما زړۀ کښې دے راغلے يو اواز
چې ادب دے هميشه دَ فلاح راز

دَ ادب ځنې اعراض کله ونۀ کړې
مصيبت به کني ځان ته کړې تۀ ساز

بې ادبه شي محرومه بدنصيبه
خيال کوه خدائ لۀ هرڅۀ دے ئې نياز

چې حج وکړي مدينې وته لاړ نه شي
دۀ خبره ومنله دَ غماز

اے شبيره دي هر څۀ ئې مدينه کښې
چې دَ عشق دَ فضاګانو وي شهباز

# څۀ چې کئ الله کئ

قلم لاس کښې دے زما هغه ليکل کئ
زۀ خبره کړم هغه ماته ښودل کئ

دَهغۀ دے مشيت غالب پۀ هر څۀ
د ے فعال چې څۀ کوي هغه کول کئ

خوښوي دَ خپل محبوب دَ محبت ګفت
نعتيه ګفتار پۀ خولۀ زما راوړل کئ

پيژنو څۀ به رموز و حقيقت مونږ
څۀ کوے شو کۀ هغہ ئې نۀ ښيل کئ

پۀ قلم نظر خو وي خو پۀ لاس نه وي
پۀ هغه کله دا لاس چې خوزول کئ

پريږده ليکي دې قلم چې څۀ دا غواړي
اے شبيره دے مجبور نۀ صبريدل کئ

# راغلم مدينې ته

زۀ پۀ فضل دَ خدائ راغلم مدينې ته
دَ رحمت دَ خدائ عظيمې سلسلې ته

پۀ لمنه كښې څۀ نۀ لرمه خدايه
شفاعت چې زما وشي راغلم دې ته

زما مخ دَ ليدو كله دے قابل نو
چې خيال وكړم ګنهګار خپلې سهرې ته

ستركې ټيټې يم ولاړ نبض مې تيز دے
ځكه ونۀ شۀ جرأت مې مواجې (شريفې) ته

شفاعت چې دوی و نۀ كړي نور به څوك يئ
ننواتے يم راغلے دې اسرې ته

پۀ شبير ګناهګار ودې شي كرم اوس
چې حيران لۀ اوسه دے عملنامې ته

# پهٔ مسجدِ نبوي کښې

پهٔ مسجدِ نبوي کښې دے باران دَ رحمتونو
اوريدل براه راست دَ درودونو سلامونو

ټول ماحول لهٔ ادب ډک دے نوراني دے معطر دے
دغه ځائے دَ محبت دے دَ غه ځائے دَ ادبونو

مونږه څنګه ورنزدې شو ټيټې سترګې يو لهٔ شرمه
شي حاضره چې نقشه مونږ ته دَ خپلو حرکتونو

چې دَ جسم دَ قربت دغه اثر دے چې قريب شي
زړونه هم ، نو سوچ کوه دَ هغه وخت دَ برکتونو

محبت ئې هم دَ ذات سره شبيره ضروري دے
کهٔ هر څو روان ئې ته هم دَ هغهٔ پهٔ سنتونو

# دَ محبوب پۀ دربار کښې ودریدل

دَ محبوب دربار کښې څنګه زۀ ودریږم
چې حالت دے زما کوم پرې زۀ ویریږم

ګنهګار یو دَ ګناه پنډ مو پۀ سر دے
خپل تور مخ سره به څنګه مخکښې کیږم

سترګې ټیټې پۀ ټیټ سر پۀ چپۀ خولۀ زۀ
یو دَ اوښکو دے باران پۀ کښې تویږم

زۀ درود سلام دَ مینې پیش کومه
قابل نه یم دَدې ځائے پۀ دې پوهیږم

دا دربار دَ ګنهګارو دادرسي کړي
شفاعت دَ پاره زۀ هم حاضریږم

زما خپل نیکۀ شفیع دَ ټول امت دے
شبیر وایئ بس پۀ دې امید پائیږم

# نشته

زړهٔ ويريږي دَورتلو مې همت نشته
مخکښې تلو ته نور پهٔ ما کښې طاقت نشته

چې هر څهٔ مونږه خراب کړل دَ خپل ځان نو
څهٔ پهٔ مونږ کښې جوړې اوس سلامت نشته

دغه ځائے سره بل ځائے کله جوړيږي
پهٔ بل ځائے کښې چرته دا شباهت نشته

خپل صورت کله ښودلے شمه دلته
دَ ښودلو دلته کښې مې صورت نشته

چرته دا عالَم اؤ چرته شبير خاورې
چې دَدې اؤ دَ هغې څهٔ نسبت نشته

# پاک رسولهٔ

ځرګند مخ ښکلي زيبا کړه پاک رسوله
دَ خپل ځان بس دے اوس ماکړه پاک رسوله

ګنهګار يم خطا کار يم امتي ستا
لاس اوس خپل پهٔ سر زما کړه پاک رسوله

پهٔ ګرداؤ کښې مې کشتۍ ده ګېره شوي
خدائۓ دَ پاره لاس نن راکړه پاک رسوله

ستا امت نن دَ ذلت ختهو کښې بوخت دے
دې ذلت نه ئې جدا کړه پاک رسوله

شفاعت دَ پاره ستا زهٔ اميدوار يم
دَ کرم نظر پهٔ ما کړه پاک رسوله

ستا دَ مينې خواهشمند يم زهٔ شبير
خپله مينه راعطا کړه پاک رسوله

# نعت شریف

پۀ خاتم دَ انبياؤ مصطفے باندې سلام
پۀ سرور دَ دواړو کونو مجتبے باندې سلام

دے خاتم دَ انبياؤ دے خاتم دَ مرسلين
باکمال دے باجمال دے خومره ښکلے اؤ حسين

انبياؤ پۀ افسر بدر الدجے باندې سلام
پۀ سرور دَ دواړو کونو مجتبے باندې سلام

ظاهراً کۀ اخرين دے حقيقت کښې اولين
هم رؤوف دے هم رحيم دے اؤ دے هم نورمبين

پۀ محبوب دَ پاک الله شمس الهُدے باندې سلام
پۀ سرور دَ دواړو کونو مجتبے باندې سلام

چې دَ چا د پاره هر څۀ يعنې ټول هر څۀ جوړ شوي
کۀ دا زمکه کۀ اسمان دے دَغه ټول ئې ښائسته کړي

زمونږ لور نه دې پۀ دوی وي پۀ بيا بيا باندې سلام
پۀ سرور دَ دواړو کونو مجتبے باندې سلام

زۀ-يم چرته هغوی چرته زۀ حقير يم اؤ فقير
دَ هغوی پۀ دواړو کونوکښې دے نشته څۀ نظير

اے شبيره وايه ختم الانبياء باندې سلام
پۀ سرور دَ دواړو کونو مجتبے باندې سلام

# چې ثاني ئې دَ جمال اؤ کمال نشته

مینه نۀ لري چې څوک دَ مصطفےٰ
یا عمل کښې ئې نۀ کوي څوک اتباع

هغه زړۀ کله کیدے شي دے تور کانړے
دے هغه لۀ هدایت ځنې جدا

دَ امت خیال ئې پۀ زړۀ کښې ؤ معراج کښې
پۀ محشر به هم وي فکر ورسره

دَ احسان بدله احسان ده پۀ قرآن کښې
دَ وفا بدلۀ کیدے شي بس وفا

کمالات ئې لۀ هر چا ځنې وچت دي
ښائسته والے ئې ښائسته دے لۀ هر چا

چې ثاني ئې دَ جمال اؤ کمال نشته
زړۀ به ئې ولې نۀ وي عشق کښې مبتلا

اے شبیره هغه کس بس انسان نه دے
چې هغه باندې ئې زړۀ نه وي فدا

# نعت شریف

دَ زړهٔ غوښې مې قربان پهٔ خپل دلبر وے
چې حاضر کله دَ خپل جانان پهٔ در وے

زهٔ سلام دَ محبت ور استومه
کاش چې دې سره شامل هغه منظر وے

زهٔ سلام دَ خپل زړګي ورته به پیش کړم
کهٔ حالات راته څهٔ داسې برابر وے

طریقه ده صرف پاتې دَ جانان یو
هر څهٔ کښې دا طریقه مې مقدر وے

پهٔ سنت وے دَ جانان عامل شبیره
ډک پهٔ دې باندې زما دَ زړهٔ پرهر وے

# تماشا ئې دَ کرم

هر څۀ خپله کئ اؤ مونږ ورته کتل کؤو
تماشا ئې دَ کرم مونږ مستقل کؤو

دَ الفاظو ترکیبونه دا جوړیږي
لۀ قلم وتي شعرونه مونږ لیدل کؤو

دي هر څۀ چې دَ هغۀ پۀ مشیت دي
ډیر اکر چې کوششونه مونږه خپل کؤو

ارادې چې پوره نه شي پۀ دې باندې
دَخپل رب مونږ قدرتونه پیژندل کؤو

اے شبیره دا اشعار دَ حقیقت دي
جام دَ میني مونږ پۀ دې طریقه ښبل کؤو

# دا مدینه دغه جمات

دا مدینه دغه جمات اؤ دا حرم ، یم چرته
خوب خو دانه دے دغه څۀ دي چې دا ګورم ورته

دَ چا دعا ده او دے فضل دَ الله کریم بس
خوش نصیبي ده چې راتلل زما نصیب شو دلته

ډیر انوارات اؤ برکات قدم قدم باندې دي
زړګے دا وائی دغه ښۀ دي تۀ لاړ نه شې بیرته

دَ جبرئیل اؤ میکائیل راتلل بیا بیا وو دلته
وچت مقام الله ورکړے دے خیر البشر ته

دَ مزکې دا یوه قطعه ده چې جواب ئې نشته
کۀ ډیر سوچ وکړې اؤ پۀ غور وګورې بحر و بر ته

دا صرف خیال نه دے شبیره نور هم مخکښې ورځه
خانه کعبه به هم آخر کښې راځي دغه در ته

# الله تعالیٰ جل جلاله اؤ مصطفیٰ ﷺ

پیروي دَ مصطفےٰ ده ډېره خوښه دَ الله
اؤ ټول مونږ چې دَ الله شو دغه غواړي مصطفےٰ

خدائ ساتلي یوه لار ده هغه لار دَ محمد ده
قبلوي نه پۀ هیڅ شان کښې بله لاره دَ بل چا

اؤ نبي په اخر وخت کښې خپله خولۀ باندې دا وائیي
دَ الله پاک رفاقت بس یو پکار دے اوس زما

خدائ دا غواړي چې درود پۀ مصطفےٰ وئیلے کیږي
شو دَ خدائ پۀ ذکر مست مونږ ، دَ نبي خوښه ده دا

الله غواړي چې پۀ لار دَ محمدﷺ باندې روان شو
اؤ په خولۀ دَ محمدﷺ دي لا اله الا الله

خدائ خوشحال دے دَ نبي پۀ محبت باندې شبیره
دَ الله مینه هر وخت ده دَ نبي دَ زړۀ صدا

# لۀ ناز نۀ تر نیاز

مستحب شو لۀ ستا پاتې دَ مسجد نبوي نمونځ کښې
مات شیطان بیا تا ته زړۀ کړو ته بیحده فکر مند شوې

ستا دَ زړۀ آئینه ماته شوه خبر نه شوې چې څۀ وو
ستا یو سوچ ؤ اؤ یو فکر، پۀ خپل ناز کښې مبتلا وې

دَ مات زړونو سره وي هغه دا تاته بشارت دے
نوي لارې جوړیدے شي چې زړې لارې شي ختمې

اوس پۀ زړۀ کښې دَ هغه دَ محبت لاره کړه جوړه
پۀ مات زړۀ ورته وژاړه نصیحت دے کۀ شوې پوه پرې

پروت سجده کښې ژړیدل یا لا سوچت دَ هغه وړاندې
څڅیدل پۀ پټه پټه پۀ قطره قطره دَ اوښکې

دا خالي جولۍ شبیره کړه ور مخکښې ده ممکنه
په لمحو کښې دَ ټول عمر پۀ خیرات تۀ بهره مند شې

# کۀ نصیب دَ محمد شوه غلامي مې

کۀ نصیب دَ محمد شوه غلامي مې
نو نصیب به شي ستا ښکلي بندګي مې

چې کوم څۀ دي هغه وے دَ ستا دپاره
وے دا ټول پۀ طریقه دَ پاک نبي مې

سوال زه ستا دَ محبت کومه هر وخت
محبت دَ نبي هم کۀ نصیب شي مې

راپیرزو دې کړل راتلل خو زما دلته
ادب هم دې دَدې هر څۀ زړۀ کښې وي مې

شه نصیب دَ صحابه نقشِ قدم مې
اؤپۀ حق ، وائي شبیر وي دلجمعي مې

# دا مسجدنبوي

پۀ مسجد نبوي کښې یم دے ښار دَ مدینې
پۀ جامو کښې نۀ ځایيږم ، شمه زار دَ مدینې

سلام زۀ به پۀ حاضر صیغه کولے شمه دلته
هر څیز دلته منور دے پۀ انوار دَ مدینې

دلته وایم چې سلام کښې کله یا رسول الله
شی محسوس راته پۀ زړۀ کښې افتخار دَ مدینې

زړه مې ډک دے لۀ انوارو، سترګې تیتې یم ولاړ زۀ
کړمه پیش څنګه زړګے خپل پۀ دربار دَ مدینې

ژوند مې تیر شوے پۀ سنتو دَمحبوب داشبیر وائی
شمه کاش پۀ مرده ګانو کښې هم شمار دَ مدینې

# کړه تهٔ جولۍ ډکه

دَ الله دَ کرم کړه تهٔ جولۍ ډکه
دَ هغه دَ در چې وي نو اسره مه کړه

دا چلیږي چې قلم دا ئې کرم دے
صرفه مه کړه چې څهٔ غواړي هغه لیکه

دا دنیا دَ محبت لوئے سمندر دے
کناره دَدغې نشته دا ایزده که

ځان کړه ډوب عشق کښې چې شې تهٔ مجسم عشق
چې عاشق وي لهٔ محبوب نه بله نه که

زهٔ شبیر دې تمنا باندې اوس پایم
چې مې یار دَ خپلیدو فیصلهٔ وکه

# بشر اؤ خیر البشر

دے محبوب دَ پاک الله نبی سرور
دے بشر خو یقیناً خیر البشر

دے مالک زمونږ دَ زړهٔ ، ورباندے زار شم
ثاني کله ئې راتلے شي پهٔ نظر

اتباع ئې چې څوک کړي دَ خدائ محبوب شي
امرِ رب دے دَ هغه چې دے امر

دے خاتم دَ انبیاؤ مرسلینو
کړي تعظیم ئې کهٔ شجر دے کهٔ حجر

پیش کوي ورته اوښان ځان قربانیِ کښې
پهٔ دې حال کهٔ دې لږ سوچ شو برابر

پهٔ سنتو ئې مکمل کامیابي ده
اے شبیره ولې ګرځې در پهٔ در

# مدینه ده اؤ جمعه

مدینه ده اؤ جمعه ده درود وایو
ښکلے ځائے دے پۀ ځۀ ښکلي مشغولا یو

ده دَ شکر موقع کرم پۀ ژبه شکر
بیا دَ دې قبولیت لۀ خدایه غواړو

سیّآت مو پۀ جولۍ کښې دي راوړي
توبه ګار معافي غوښتونکي لۀ الله یو

مونږ دَ خوږ نبي پۀ در کښې دغه عرض کړو
شفاعت مو شه نشیب امتیان ستا یو

ګناهګار یو مګر یو ستاسو امت کښې
لږ نظر شه دَ کرم ګني رسوا یو

زۀ شبیر یم پر تقصیر ستاسو نمسے یم
خو ش نصیب یو پۀ تعریف ستاسو ګویا یو

# محبت دَ پاک رسول

دے خومره لوئے نعمت دَ محبت دَ پاک رسول
دے خومره ضروري متابعت دَ پاک رسول

زړې طريقې ټولې کړې منسوخې پاک الله
يو پاتې طريقه شوه دَ سنت دَ پاک رسول

جمال کمال ورکړے پاک الله دے لۀ هر چا نه ډېر
پۀ زړۀ باندې دے څکه حکومت دَ پاک رسول

معيار دَ ښو اؤ بدو څنګه تاته مشکل ښکاري
کۀ تاته دے معلوم خوږ شريعت دَ پاک رسول

چې څوک دَ پاک رسول دي هم هغه دي دَ الله (تعالیٰ)
الله سره دے څنګه حيثيت دَ پاک رسول

شبيره ته ئې پۀ ځان باندې لازم متابعت کړه
شي تاته به حاصل بيا شفاعت دَ پاک رسول

# ښکلې موقع

ورسولم خدائ دَ خوږ نبي زهٔ قدمونو ته
کښینولم ئې هلته ئې حسابه رحمتونو ته

هلته دې هم خدائ راته ځائے را کړي قدمونو کښې
دې دپاره دلته لاس وچت مې دي سوالونو ته

شولو امید جوړ مې چې نور مخکښې به هم لاړ شمه
لاره بنده کړي چا دې ښکلي امیدونو ته

اوس سلام کړه پیش دَ عاجزی ګئ چې ده موقعه دغه
لرې دروازې هم دَ رحمت شوې زمونږ زړونو ته

چرته مقامات دلته وچت چرته عاجز شبیر
زړهٔ زما لیواله پهٔ دې حال کښې دے شکرونو ته

# پهٔ مواجه شریف حاضري

تېتې سترګې یم ولاړ دېر وچت در ته
منتظر یم دَ کرم ښکلي نظر ته

نالائق یم زهٔ دېر زیات خو تهٔ کریم یې
بې لهٔ خېره کریم څوک ناستوي بیرته

ستا مقام پیژني کله چې څوک ړوند وي
ړوند خو ړوند وي کهٔ زر وار وګوري نمر ته

سلیم زړهٔ نفس مطمئن غواړم لهٔ خدایه
وسیلهٔ زما ئې تهٔ نور لاړ شم چرته

اوښکې مخکښې دي دَ سترګو شونډې چپې
دے شبیر سر ټیټ ولاړ نبي سرور ته

# سلامونه پهٔ بیا بیا

وي دي سلامونه پهٔ بیا بیا نبي سرور باندې
شه هر څهٔ قربان زمونږ بیا بیا خیر البشر باندې
دے بشر خو خدائ نه پس لهٔ دوی نور څوک وچت نشته
هر څهٔ نوراني لري بیان ته ئې حاجت نشته
نهٔ راځي ثاني ئې بل مخلوق کښې پهٔ نظر باندې
شه هر څهٔ قربان زمونږ بیا بیا خیر البشر باندې
کله زهٔ تعریف دَ داسې لوئے هستئ کولے شم
څنګه چې ئې حق دے هغه څنګه بیانولے شم
سترګې چې ودریږي نو ودریږي دغه در باندې
شه هر څهٔ قربان زمونږ بیا بیا خیر البشر باندې
دے پهٔ حقیقت کښې اولین خو آخرین راغے
دا دَ امت فخر ورته داسې چې نیازبین راغے
دے ئې نبوت تا قیات ټول بحر وبر باندې
شه هر څهٔ قربان زمونږ بیا بیا خیر البشر باندې
زیاته مینه دوی سره کول دي دَ ایمان حصه
مونږ باندې ئې لازمه اتباع ده دَ قرآن حصه
نهٔ شو مونږ اخته څهٔ دَ شیطان پهٔ بل چکر باندې
شه هر څهٔ قربان زمونږ بیا بیا خیر البشر باندې

استوه تحفې دَ درودونو همیشه ورته
هم زړهٔ دَ اخلاصه سلامونو همیشه ورته
کړه عمل شبیره دَ الله پهٔ دې امر باندې
شه هر څهٔ قربان زمونږ بیا بیا خیر البشر باندې

## دَ عشق اور

بل کړه اور د عشق پهٔ زړهٔ کښې زړهٔ دَیار سره واصل کړه
چې خوښیږي کوم دَیار نو خصلتونه هغه خپل کړه

چې دَیار تعریف پکښې وي محفلونه هغه جوړ کړه
چې دې یار پرې خفه کیږي نو لهٔ هغه محفل زغل کړه

زړهٔ دَ یار پهٔ مینه مست کړه هم دَیار دَیار پهٔ مینې
اؤ کلام دَ محبت ئې پهٔ خپل زړهٔ باندې نازل کړه

لهٔ هر خیز نه ور نیزدې شې ته لهٔ هر څهٔ پرې ور تېر شه
لامبوزن پهٔ سیند دَ عشق شه هېر دَ ځان نه ئې ساحل کړه

چې یو وخت هم د ر نه هېر نه شي هر وختې تا ته یاد وي
اے شبیره یار پهٔ زړهٔ کښې داسې رنګې تهٔ داخل کړه

# ډېر دي کم

چې څۀ غوارمه ونۀ شو ډېر دي کم
چې څۀ وشو هغه هم ئې دے کرم

پۀ جمال کمال اعلیٰ دے محمد
صلیّ الله علیه و سلّم

زۀ به څنګه د َ هغه شم فکرمند يم
ما به څنګه خپل کړي دغه مې دے غم

زړۀ د َ عشق نه ډک لړم پښې مې هم ريي
سر مِ ټيټ دے دے جاري لۀ سترګو نم

پۀ تعريف دي د َ هغۀ صرف مشغول وي
اے شبيره چې زما دے دا قلم

# پهٔ وخت دَ رخصتی

کړم څهٔ عرض آخري وخت کښې دَ صحبت زهٔ
پهٔ دې وخت کولے نهٔ شمه همت زهٔ

هيڅ مې و نهٔ کړل اؤ وخت مې هسې تېر شه
فضول سر ومه هر وختې پهٔ غفلت زهٔ

زهٔ ولاړ يمه دَ دؤو کريمو مينځ کښې
غواړم دلته دَدې دواړو محبت زهٔ

زهٔ اميد لرم لهٔ دواړو چې مې معاف کړي
نا اميد نهٔ يم دَ عفوې لهٔ صفت زهٔ

غواړم زهٔ چې پهٔ بيا بيا دلته کښې راشم
کړم حاصل دَ قدمينو برکت زهٔ

زهٔ دَ خپل نيکهٔ پهٔ مخکښې به دا عرض کړم
چې حاصل کړم دَ راتلو بيا سعادت زهٔ

ګناهونه دې زما دلته معاف شي
اؤ هيڅ بيا دَ ګناه ونهٔ کړم جرأت زهٔ

اے زما خوږه نيکهٔ پهٔ تا سلام دے
دَ شبير ، چې درنه کيږمه رخصت زهٔ

# کیفیات دَ رخصتیٰ

نه دے تلو ته مدينې نه زړۀ تيار
کۀ دَ خدائ حکم وي بيا نشته انکار

پۀ قسمت باندې دا ځائے بس ملاويږي
دغه ځائے دے دَ مؤمن دَ زړۀ بهار

خوږ نبي سره مسجد نبوي کښې
وے نزدې کاش چې دا وے زما اختيار

کاش چې مونږ ته دَ دې ځائے ادب معلوم شي
کاش دَ زړۀ پۀ اواز مونږ وکړو اعتبار

زۀ دَ خدائ ځنې مدد به دې کښې غواړم
پۀ کرم کړي چې زما زړګے بيدار

دَ شبيرؔ دَ خدائ پۀ فضل بهروسه ده
پۀ اعمالو باندې نۀ کړي انحصار

# مدينې منورې ته الوداع

مدينې پاکې ته زۀ الوداع وايم
الوداع ده کۀ پۀ زړۀ زړۀ کښې نن ژاړم

ساه مې بده ده اؤ روح مې هم زخمي دے
جدايئ دَدغه ځائ نه کله غواړم

ما سلام دَ رخصتئ وکړلو راغلم
غم نه ډک پۀ دې اشعارو چې ګويا يم

دا يادونه ترسکوي به مې بيا هلته
زۀ دَ بيا راتلو پۀ شوق باندې اوس پايم

ياد ساته دَ مدينې خواږه يادونه
اے شبيره اوس روان وطن پۀ خوايم

# مديني منورې ته روانيږو

مديني منورې ته روانيږو
زړهٔ زخمي دے هسې اخوا ديخوا کيږو

دَهجران شربت چې څښو دا څومره تريخ دے
دې شربت څښلو ته دادے مخکښے کيږو

دې خبرې چې دَدې ځائے دَ يادونو
مونږ پهٔ دې باندے به هلته مشغوليږو

دَ دنيا چې مشغلې دي وررروان يو
بله نشته دے دَدې نه ، ورسميږو

البته دَ دغه لار اثر پکار دے
اے شبيره چې مونږ بيا نهٔ خرابيږو

# حج نه واپسي

حج ته تلل دَ خوشحالۍ ښکلے سفر دے
دَ واپس راتللو غم زمونږ پهٔ سر دے

زړهٔ مو هلته جسم دلته څنګه راوړم
ځکه ژاړم چې مې زړهٔ پرهر پرهر دے

خپل اعمالو باندې لږ کهٔ نظر وکړو
نو شايد چې دا شي ټيک ښهٔ ئې اثر دے

دَ بيا تللو تمنا دې مبارک شه
دغه حال دَ حج دَ مينې معتبر دے

توحيد واخله دَ کعبې پهٔ کتو وروره
دَ توحيد چې کل عالم کښې دا مظهر دے

ټول يادونه دَ شبير ځکه منظوم شول
دا برکت دَ شاعرۍ مو پهٔ نظر دے